التخصص في الفنون

یک سالہ کورس سے بھرپور فائدہ اٹھائیں

سرور المحزون

فی اجراء

کتاب اللہ المکنون

پښتو

مؤلف

شیخ نحو، منطق وبیت مولانا
قاضی سعید احمد الحسینی صاحب دامت برکاتہم العالیہ

پښتو ژباړه
قاري حکمت الله حقاني

پی ڈی اف طالب ناظم زرگی

مکتبہ رشیدیہ

Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

الصرف ام العلوم والنحو ابوها

سرور المحزون

فی اجراء

كتاب الله المكنون

از افادات:

جامع المعقول والمنقول حضرت استاذ العلماء

مولانا عبد الهادي - دامت برکاتهم العالیه!

مهتمم جامعه امدادیه سبزل روڈ کوئٹه

ترتیب و تدوین:

ابو البشری قاضي سعید احمد الحسني - مدظله العالي!

فاضل دار العلوم کراچي و صدر مدرس جامعه دار العلوم کورکی، منگچر، ضلع قلات

پښتو ژباړه:

قاري حکمت الله حقاني

ناشر:

مکتبة دار العلوم کورکی، منگچر، ضلع قلات، بلوچستان

رابطه نمبر: ۰۳۳۱۸۱۰۲۰۵۰

۰۰۹۲۳۴۱۵۳۱۰۶۹۵

۰۰۹۳۷۰۸۸۶۸۳۲۶

د كتاب پيژندنه :

نوم : سرور المحزون في اجراء كتاب الله المكنون

تأليف : ابو البشرى قاضي سعيد احمد الحسني – مدظله العالي

پښتو ژباړه : قاري حكمت الله حقاني

تصحيح كوونكى : =

كمپوزنګ : =

كمپوز: د حقاني كمپيوټر د تأليف او تصنيف اداره

د كتاب د لاسته راوړلو ځايونه :

مكتبه رشيديه، سركي روډ كوټه

مكتبه هاشميه، كاسي روډ كوټه

المكتبه المحمديه، سنګين افغانستان

مكتبه حنيفيه، سهراب كوټ كراچي.

ما ولي د ګران استاذنا شيخ قاضي سعيد احمد الحسني صاحب!
سرور المحزون فی اجراء کتاب الله المکنون پښتو کړ؟

حامداً و مصلياً

بسم اللہ الرحمن الرحیم

الله تعالی لره دي حمد او ثناء او د هغه پر پيغمبر [ص] دي په زرهاو درودونه او سلامونه وي چې توفيق يې راکړ، چې د علمي لړۍ ستر او بنستيز کتاب مې له اردو څخه پښتو ژبې ته وژباړی!

محترمو لوستونکو!!!

کله چې ما په خپلې علمي درسګاه کې د شيخ النحو والمنطق حضرت مولانا استاذنا قاضي سعيد احمد – مدظله العالی!– سره د شاګردی نسبت قائم کړ، نو ګران استاذ محترم راته وويل:

چې زما کتاب د اردو څخه پښتو ژبې ته وژباړه، نو ما ته هم دا احساس وشو، چې د دې بنستيز او علمي کتاب ضرورت / اړتيا په پښتني سيمو کې ډېر زيات دی؛ نو له همدې کبله مې قلم ته ګوته کړه او د الله تعالی په فضل او د استاذانو د دعاګانو په برکت سره مې دا کتاب پښتو ته وژباړی، چې الحمد لله زما د ګران استاذ، زما او وطنوالو دا ارمان پوره شو.

په پای کې زه الله تبارک و تعالی ته لاسونه لپه کوم چې يا الهي! زما دا نيمګړی زيار په خپل عظيم دربار کې قبول او منظور کړي او ثواب يې ما ته، زما والدينو – چې زما په روزنه او پالنه کې يې هر راز کړاو ګاللی او له هيڅ نه يې دريغ نه دی کړی!– استاذانو – خصوصاً زما ګران استاذ حضرت مولانا قاضي سعيد احمد [حفظه الله!]– انډيوالانو او ټولو مسلمانانو ورونو ته ورشوي. امين ثم امين!

حکمت الله حقاني – عفی عنه!
۱۴۴۴/۵/۲۳ هـ ق

انتساب

✓ فقیر د خپل معمولي کوښښ نسبت هغه لوی ښتن تعالی ته کوي، چا چې انسان ته د قلم په واسطه ورزده کړه، هغه څه کوم چې انسان یې بې علمه و.

✓ او ټولو انبیاء کرامو [ع] او صحابه کرامو [رض] ته او هغه باصفته شخصیتونو ته چې د چا د وجود په واسطه دا دنیا او هرڅه په وجود کې راغلل.

✓ او همدارازد دې نسبت هغه مهربانه استاذانو او والدینو ته کوم چې د چا د دعاګانو او کوښښونو په واسطه زه د دې قابل شوم

قاضي سعید احمد الحسني –عفی عنه!

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْمَرْفُوْعُ شَانُهٗ الْمَنْصُوْبُ بُرْهَانُهٗ الْمَجْرُوْرُ سُلْطَانُهٗ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى نَبِيِّهٖ الْمَجْزُوْمُ خِتَامُهٗ وَعَلٰى اٰلِهٖ الْمَخْتُوْمُ عَلَيْهِمْ رِضْوَانُهٗ!

اَمَّا بَعْدُ:

په کلام عرب/ عربي ژبه کې کلمه په دوه ډوله ده:

۱-مستعمل لفظ. ۲- مهمل لفظ.

مستعمل لفظ د عربو په کلام کې په دوه ډوله دی:

۱- مفرد. ۲- مرکب.

۱- د مفرد تعریف:

مفرد هغه یواځنی لفظ دی چې په یوه معنا دلالت وکړي، لکه: رَجُلٌ او کلمه هم ورته ویل کیږي او کلمه په درې ډوله ده:

(۱) اسم. (۲) فعل. (۳) حرف.

د حصر وجه:

کلمه به یا پر ذات دلالت کوي، یا به پر وصف او یا به پر ربط / کلمې سره مو ښنول باندي، که پر ذات یې دلالت کوی، نو هغه اسم دی، که یې پر وصف دلالت کوی، نو هغه فعل دی او که یې پر ربط دلالت کوی، نو هغه حرف دی.

۱- د اسم تعریف:

اسم هغه کلمه ده چې معنا یې د بلې کلمې د یوځای کېدلو پرته په پوهه / فهم کې راشي او له درو زمانو څخه یوه زمانه هم پکې نه وي، لکه: رَجُلٌ.

د اسم نښې:

د اسم نښې پر دوه ډوله دي:

۱- لفظي نښې.

۲- معنوي نښې، بیا لفظي نښې پر درې ډوله دي:

١- هغه نښې چې د کلمې په سر کې راځي.
٢- هغه نښې چې د کلمې په آخير کې راځي.
٣- هغه نښې چې د ټولې کلمې سره تعلق لري.

١- هغه نښې چې د کلمې په سر کې راځي هغه ټولې لس دي:

١- په شروع کې الف لام وي، لکه: اَلْحَمْدُ، الرجل.

٢- په شروع کې يې حرف جر وي، لکه: ﴿بِرَبِّ النَّاسِ﴾.

حروف جاره ټول اولس دي، لکه دا شعر د شاعر:

بَا. تَا. كَافُ. لَامُ. وَاوُ. مُنْذُ. مُذْ. خَلَاَ + رُبَّ. حَاشَا. مِنْ. عَدَا. فِيْ عَنْ. عَلٰى. حَتّٰى. اِلٰى.

٣- په شروع کې يې حرف نداء راشي، لکه: يَازَيْدُ.

فائده: حروف نداء ټول پنځه دي: يَا. اَيَا. هَيَا. اَىْ او همزه مفتوحه يعني (ءَ).

٤- په شروع کې يې ميم زائده راشي، لکه: مَضْرُوْبٌ.

٥- په شروع کې يې حروف مشبه بالفعل شخه يو حرف راغلی وي، لکه: اِنَّ اللهَ.

٦- په شروع کې يې ما ولا المشبهتان بليس راشي، لکه: مَازَيْدٌ بِقَائِمٍ.

٧- په شروع کې يې لائي نفي جنس راشي، لکه: ﴿لَارَيْبَ فِيْهِ﴾ او يا لولا، لکه: لولا على لهلک عمر.

٨- په شروع کې يې افعال ناقصه راشي، لکه: ﴿وكَانَ اللهُ عَلِيْمًا﴾.

٩- په شروع کې يې افعال مقاربه راشي، لکه: عَسَيٰ زَيْدٌ اَنْ يَّقُوْمَ.

١٠- په شروع کې يې افعال مدح يا ذم راشي، لکه: نِعْمَ الرَّجُلُ.

٢- هغه نښې چې د کلمې په آخير کې راځي هغه ټولې اوه دي:

١- په آخير کې يې تنوين وي، لکه: زَيْدٌ.

٢- په آخير کې يې ياء نسبتي وي، لکه: بَغْدَادِيٌّ.

۳- په آخير کې يې تاء متحرکه تنويني وي لکه: ضَارِبَةٌ.

۴- په آخير کې يې الف مقصوره وي، لکه: ﴿مُوْسٰی﴾.

۵- په آخير کې يې الف ممدوده وي لکه: حَمْرَآءُ.

۶- په آخير کې يې کسره وي، لکه: اَمْسِ.

۷- په آخير کې يې تنوين تقديري (پټ) وي، لکه: اَضْرَبُ (اسم تفضيل).

۳- هغه نښې چې د ټولې کلمې سره تعلق لري هغه ټولې اته دي:

۱- علم وي، لکه: زَيْدٌ.

۲- مصغر وي، لکه: قريش.

۳- مثنى وي، لکه: رَجُلَانِ.

۴- جمع وي، لکه: مسلمون.

۵- د اسم غير متمکن ټول ډولونه:

☜ اسماء ضمائر، لکه: اَنَا. نَحْنُ.

☜ اسماء اشارات لکه: هٰذَا.

☜ اسماء موصولات، لکه: اَلَّذِیْ.

☜ اسماء افعال، لکه: هَيْهَاتَ.

☜ اسماء اصوات، لکه: اُحْ. اُحْ.

☜ اسماء ظروف، لکه: اِذْ. اِذَا.

☜ اسماء کنايات، لکه: کَمْ. کَذَا. کَاَيِّنْ.

☜ مرکب بنائي وي لکه: ﴿اَحَدَ عَشَرَ﴾.

۲- د اسم معنوي نښې

۱- مسند اليه کيدل لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ.

۲- موصوف کیدل، لکه: الرجلُ العالمُ.

۳- مضاف کیدل، لکه: غُلامُ زَيْدٍ.

د فعل تعریف:

فعل هغې کلمې ته ویل کېږي چې معنا یې د بلې کلمې د یو ځای کېدلو پرته و فهمول شي او په درو زمانو- ماضي، حال او استقبال -کې یوه زمانه یې د معنا په فهمولو کې وي،

لکه: ضَرَبَ، يَضْرِبُ.

د فعل نښې:

د فعل نښې پر درې ډوله دي:

۱- هغه نښې چې د کلمې په سر کې راځي.

۲- هغه نښې چې د کلمې په آخیر کې راځي.

۳- هغه نښې چې د ټولې کلمې سره تعلق لري.

۱- هغه نښې چې د فعل په سر کې راځي هغه ټولې اوه دي:

۱- چې د کلمې په سر کې یو حرف د حروف (اتین) څخه راشي، لکه: يَضْرِبُ، تَضْرِبُ، اَضْرِبُ، نَضْرِبُ.

حروف اتین څلور دي: همزه، تا، یا او نون.

۲- په سر کې یې حرف سین راشي، لکه: ﴿سَيَعْلَمُوْنَ﴾.

۳- په سر کې یې حرف سوف راشي، لکه: ﴿سَوْفَ يَعْلَمُوْنَ﴾.

۴- د کلمې په سر کې د حروف جوازم څخه یو حرف راشي، لکه: لَمْ يَضْرِبْ.

حروف جوازم ټول پنځه دي، لکه دا قول د شاعر:

شعر: ان لم لما ولام امر لائے نہی نیز * پنج حرف این جازم فعل اند ہر یک بے دغا

۵- په سر کې یې د حروف نواصب څخه یو حرف راشي، لکه: لَنْ يَّضْرِبَ.

حروف نواصب ټول څلور دي، لکه دا قول د شاعر:

شعر:

ان لن پس کی اذن این چار حرف معتبر * نصب مستقبل کنند ایں جملہ دائم اقتضاء.

۶- په شروع کې يې لائي نفي راشي، لکه: لَايَضْرِبُ.

۷- په شروع کې يې حرف (قد) راشي، لکه: قَدْ يَضْرِبُ.

۲ - هغه نښې د فعل په آخير کې راځي هغه ټولې لس دي:

۱- اخيريې مبني برفتحه وي، لکه: ضَرَبَ.

۲- په آخير کې يې الف ضمير وي، لکه: ضَرَبَا.

۳- په آخير کې يې (واو) ضمير وي، لکه: ضَرَبُوا.

۴- په آخير کې يې تائي ساکنه وي، لکه: ضَرَبَتْ.

۵- په اخير کې يې (نون) ضمير وي، لکه: ضَرَبْنَ.

۶- په آخير کې يې تائي متحرکه ماقبل ساکن وي، لکه: ضَرَبْتَ، ضَرَبْتِ، ضَرَبْتُ.

۷- په آخير کې يې (تما) ضمير وي، لکه: ضَرَبْتُمَا.

۸- په آخير کې يې (تم) ضمير وي، لکه: ضَرَبْتُمْ.

۹- په آخير کې يې (تن) ضمير وي، لکه: ضَرَبْتُنَّ.

۱۰- په آخير کې يې (نا) ضمير وي، لکه: ضَرَبْنَا.

۳- هغه نښې چې د ټولې کلمې سره تعلق لري هغه پنځه دي:

۱- ماضي، لکه: ضَرَبَ.

۲- مضارع، لکه: يضربُ.

۳- امر، لکه: اِضْرِبْ.

۴- نهي، لکه: لَاتَضْرِبْ.

۵- مسند، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ.

۳- د حرف تعريف:

حرف هغه كلمه ده چي معنا يې د بلې كلمې د يوځاى كېدلو پرته په پوهه /فهم كي نه راځي،

لكه: مِنْ ، اِلٰى.

د حرف نښې:

د حرف نښې دا دي چې د اسم او فعل د نښو څخه خالي وي، لكه: مِنْ ، اِلٰى.

التمرين

په لاندې اياتونو كې د كلمو شمير او د كلمې دولونه اسم، فعل او حرف معلوم كړئ:

﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ ﴿وَالشَّمْسَ وَ الْقَمَرَ﴾ [يوسف:۴] ﴿وَ لَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ﴾ [قمر:۱۰] ﴿عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ﴾ [سوره رحمن:۲۰] ﴿وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا﴾ [عاديات:۱] ﴿ءَ اَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ﴾ [حم سجده:۴۴] ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ﴾ [تكوير:۱۴] ﴿سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ﴾ [تكاثر:۴۳] ﴿وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا﴾ [ذاريات:۱] ﴿لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖٓ﴾ [كهف:۱۴] ﴿قَدَّمَتْ واَخَّرَتْ﴾ [انفطار:۵] ﴿قُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ﴾ [واقعه:۷۷] ﴿اِذْهَبَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ﴾ [طه:۷۷] ﴿اَلْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ﴾ [عبس:۴۲] ﴿كُتُبٌ قَيِّمَةٌ﴾ [بينه:۳] ﴿نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ﴾ [توبه:۲۱] ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُوْلٌ﴾ [توبه:۱۲۸] ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَي النِّسَاءِ﴾ [نساء:۳۴] ﴿لاتُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِنْهُمْ﴾ [توبه:۸۴] ﴿فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا﴾ [توبه:۸۲] ﴿وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ﴾ [غاشيه:۱۰] ﴿فَكَفٰى بِاللهِ شَهِيْدًا﴾ [يونس:۳۰] ﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ﴾ يونس:۴۵] ﴿يَتَعَارَفُوْنَ﴾ [يونس:۴۵] ﴿اَلْقَارِعَةُ﴾ [قارعه:۱] ﴿سُبَاتًا﴾ [نباء:۹] ﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ [فجر:۱] ﴿خَلَقَ السَّمٰوٰتِ﴾ [اعراف:۵۴] ﴿اَللهُ الصَّمَدُ﴾ [اخلاص:۲] ﴿لَا تَدْخُلُوْا مِنْ بَابٍ وَّاحِدٍ﴾ [يوسف:۶۷] ﴿فَضْلُ اللهِ﴾ [نور:۱۰].

د حل كولو طريقه

﴿وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ﴾

استاذ: ګران طالبه! پدې جملې كې څو كلمې دي؟

شاګرد: پدې جملې کې پنځه کلمې دي.

استاذ: کومې کلمې دي؟

شاګرد: (۱) الف لام (۲) شمس (۳) حرف واو (۴) الف لام (۵) قمر.

استاذ: د کلمې د درو ډولونو څخه کوم ډول ده؟

شاګرد: الف لام حرف دی، شمس اسم دی، واو حرف دی، الف لام حرف دی او قمر اسم دی.

استاذ: پدوی کې د اسم کومې نښې دي؟

شاګرد: په (الشمس) کې د اسم نښه الف لام دی دغه راز په (القمر) کې هم الف لام دی.

﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ﴾

استاذ: ګران طالبه! پدې جملې کې څو کلمې دي؟

شاګرد: پدې جملې کې درې کلمې دي.

استاذ: کومې کلمې دي؟

شاګرد: (۱) علمت (۲) نفس (۳) پر (نفس) باندې تنوین دی.

استاذ: د کلمې د درو ډولونو څخه کوم ډول ده؟

شاګرد: (علمت) فعل دی، (نفس) اسم دی او تنوین یې حرف دی.

استاذ: د اسم، فعل او حرف کومې نښې پکې دي؟

شاګرد: په (علمت) کې د فعل نښه د تانیث تاء ده، په (نفس) کې د اسم نښه تنوین دی او په تنوین کې د حرف نښه د اسم او فعل د نښو څخه خالي والی دی.

د کلمې دوهم وېش

کلمه پر دوه ډوله ده:

۱- معرب ۲- مبني.

۱- معرب:

په معرب کې ټولې درې خبرې دي: (۱) تعریف (۲) حکم (۳) ډولونه.

د معرب تعریف:

معرب هغه لفظ ته ويل کېږي چې د عامل د وجې څخه يې په اخير حرکت او سکون راځي.

د معرب حکم :

چې د کوم آخير د عوامل د مختلف کېدلو په وجه بدليږي، په دې شرط چې د عامل عمل مختلف وي، لکه: جَاءَنِیْ زَيْدٌ وَرَاَيْتُ زَيْدًا وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ.

د معرب ډولونه :

د معرب دوه ډولونه دي:

۱- اسم متمکن چې په ترکيب کې واقع شوی وي.

۲- فعل مضارع چې کله د جمع مؤنث د نون او تاکيد د نون څخه خالي وي، لکه: يَضْرِبُ

۲- مبني:

په مبني کې ټولې څلور خبرې دي :

(۱) تعريف. (۲) حکم. (۳) د مبني ډولونه .

د مبني تعريف:

مبني هغه لفظ ته ويل کېږي چې بې له عامله يې په اخير حرکت او سکون راځي، لکه: مِنْ اَيْنَ، حيثُ.

۲- د منبي حکم:

مبنی دېته ويل کېږي چې د هغو آخير نه مختلف کېږي د عواملو په اختلاف سره لکه جَآءَنِیْ هٰؤُلَآءِ، رَاَيْتُ هٰؤُلَآءِ، مَرَرْت بِهٰؤُلَآءِ.

۳- د مبني ډولونه:

مبني پر دوه ډوله ده:

۱- مبنی الاصل.

۲- غير مبنی الاَصل.

۱- مبنی الاصل درې شيان دي:

۱- فعل ماضي.

۲- امر حاضر.

۳- جمله حروف.

۲- مبني غير الاصل څلور شيان دي:

۱- اسم غير متمكن.

۲- اسم متمكن چې په تركيب كې واقع شوى نه وي.

۳- فعل مضارع چې د جمع مؤنث نونِ او د تاكيد نون ورسره وي په دې شرط چې فعل مضارع به نون اعرابي والا صيغې نه وي.

۴- جمله من حيث الجمله.

التمرين

په لاندې مثالونو كې معرب او ډولونه يې معلوم كړئ د غه راز مبني او ډولونه يې منبي لاصل او غير اصل معلوم كړئ:

﴿وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطَانًا مَّرِيْدًا﴾ [النساء ۱۱۷] ﴿يَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ﴾ [النساء ۱۲۷] ﴿وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللهُ﴾ [التوبه:۷۴] ﴿لَا يُحِبُّ اللهُ الْجَهْرَ﴾ [النساء ۱۴۸] ﴿وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ﴾ [الشورا ۲۸] ﴿لَتُبْلَوُنَّ﴾ [العمران ۱۸۶] ﴿فَاِمَّا تَرَيِنَّ﴾ [مريم ۲۶] ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ [انفال ۵۹] ﴿فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ﴾ [زخرف ۴۱] ﴿وَلَيَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ﴾ [يوسف ۳۲] ﴿لَنَسْفَعًاۢ بِالنَّاصِيَةِ﴾ [العلق ۱۶] ﴿وَلَيُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ﴾ [طٰهٰ ۷۱] ﴿وَقَدْ بَلَغْتُ مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا﴾ [مريم ۸] ﴿قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْۤ اٰيَةً﴾ [مريم ۱۰] ﴿فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ﴾ [روم ۶۰] ﴿وَاَدْخِلْ يَدَكَ﴾ [نمل ۱۲] ﴿اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ﴾ [الاحزاب ۵] ﴿مَاۤ اَصَابَكَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ﴾ [الشورىٰ ۳۰] ﴿كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ [السجدة ۲۶] ﴿تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ﴾ [احزاب ۲۸] ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ﴾ [احزاب ۳۲] ﴿وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ﴾ [احزاب ۳۳] ﴿وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ﴾ [نساء ۱۱۹].

فائده:

اسم متمكن هغه اسم ته ويل كيږي چې د منبي الاصل سره مشابهت نه لري، لكه: زَيْدٌ.

اسم غير متمكن هغه اسم دى چې د مبنى الاصل سره په لسو مشابهتونو كې د كوم يوه سره

مشابهت ولري.

د اسم غير متمكن اته ډولونه دي:

- اسماء مضمرات، لكه: اَنَا ،نَحنُ.
- اسماء اشارات، لكه: هٰذَا .
- اسماء موصولات، لكه:اَلَّذِیْ.
- اسماء افعال، لكه: هَيْهَاتَ.
- اسماء ظروف، لكه:اِذَا.
- اسماء اصوات، لكه:اُحْ ، اُحْ.
- اسماء كنايات، لكه:كَذَا ،كَاَيِّنْ
- مركب بنائي، لكه: ﴿اَحَدَ عَشَرَ﴾.

د مشابهت لس ډولونه دي :

۱- شبه وضعي . ۲- شبه معنوي .
۳- شبه استعمالي . ۴- شبه افتقاري .
۵- شبه اهمالي . ۶- شبه جمودي .
۷- شبه نيابتي . ۸- شبه وقوعي .
۹- شبه شبه وقوعي . ۱۰- شبه اضافي .

۱- د شبه وضعي تعريف :

شبه وضعي هغه مشابهت ته ويل كيږي چې يو اسم د مبنی الاصل سره په وزن كې مشابهت (، لكه حروف چې يو يا دوه حرفه وي د غه راز د غه اسم هم يو يا دوه حره وي) ولري، لكه: "ضَرَبْتُ" (تُ) چې د حروف تهجي د (ت) او "مَن" موصوله چې د "مِن" جاره سره په وزن كې مشابهت لري .

۲- د شبه معنوي تعريف :

شبه معنوي هغه مشابهت ته ويل كيږي چې يو اسم په مبنی الاصل كې د كوم حرف معنا ته متضمن وي ، لكه : اسماء شرطيه چې د "اِن" شرطيه معنا ته متضمن دي او اسماء استفها

چې د "هَل" معنا ته متضمن دي .

۳- **د شبه استعمالي تعريف :**

شبه استعمالي هغه مشابهت ته ويل کيږي چې يو اسم په مبنى الاصل کې د حروف سره داسي مشــابهت ولري ، لکه څنګه چې ځيني حروف عامل واقع کيږي او معمول نه واقع کيږي، د غه راز دغه اسماء هم عامل واقع کيږي معمول نه واقع کيږي، لکه ؛ اسماء افعال کوم چې يو ائي عامل جوړيږي معمول نه جوړيږي .

۴- **د شبه افتقاري تعريف :**

شبه افتقاري هغه مشابهت ته ويل کيږي چې يو اسم په مبنى الاصل کې د حروف سره داسي مشــابهت ولري ، لکه څنګه چې حروف د بلې کلمې يوځاى کېدلو ته محتاج دي د غه راز د غه اسـماء هم د ابهام د ليري کېدلو لپاره بلې کلمې ته محتاج دي ، لکه: د غائب ضـمير چې مرجع ته محتاج دى ، اسماء اشارات مشارالیه ته او اسماء موصولات صلې ته محتاج دي .

۵- **د شبه اهمالي تعريف :**

شبه اهمالي هغه مشابهت ته ويل کيږي چې يو اسم په مبنى الاصل کې د حروف سره داسي مشــابهت ولري ، لکه څنګه چې ځيني حروف نه عامل واقع کيږي او نه معمول د غه راز د غه اسماء هم نه عامل واقع کيږي او نه معمول ،، لکه: اسماء اصوات .

۶- **د شبه جمودي تعريف :**

شبه جمودي هغه مشابهت ته ويل کيږي چې يو اسم په مبنى الاصل کې د حروف سره داسي مشــابهت ولري ، لکه څنګه چې حروف تثنيه او جمعه نه شـي راتلاى د غه راز د غه اسـماء هم تثنيه او جمعه نه راځي، لکه: " قَطُّ " او " عَوَضُ " ... د دوى تثنيه او جمعه نه راځي .

۷- **د شبه نيابتي تعريف :**

شبه نيابتي هغه شبه ته ويل کيږي چې يو اسم د مبني نائب يا قائم مقام واقع شي . لکه: په "يَازَيْدُ" کې (زيد) د "اَدْعُوْكَ" د (كاف) قائم مقام دى .

۸- **د شبه وقوعي تعريف :**

شبه وقوعي هغه شبه ته ويل کيږي چې يو اسم د مبني په ځاى کې واقع شوى وي . لکه:

نَزَالِ "چې د" اَنْزِلْ " (فعل امر) په ځای کې واقع شوی دی .

۹- د شبه شبه وقوعي تعریف :

شبه شبه وقوعي هغه شبه ته ویل کیږي چې یو اسم د شبه وقوعي (هغه اسم چې د مبني په ځای کې واقع شوی وي) سره مشابهت ولري ،، لکه: "فَسَاقِ" او "فَجَارِ" دا د "نَزَالِ" سره مشابهت لري او " نَزَالِ" د "اَنْزِلْ" په ځای کې واقع شوی دی .

۱۰- د شبه اضافي تعریف :

شبه اضافي هغه شبه ده چې مضاف د خپل مضاف الیه څخه بناء حاصله کړې وي ،، لکه: "يَوْمَئِذٍ" او " حِيْنَئِذٍ" دلته (يَوْمٌ) او (حِيْنٌ) د (اِذٍ) مضاف الیه څخه بناء حاصله کړې ده .

﴿كُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ﴾ [هود ۳۸] ﴿دَامِتُّمْ وَ كُنْتُمْ﴾ [مومنون ۳۵] ﴿بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ [مومنون ۶۹] ﴿لَمَّا بَلَغَ﴾ [القصص ۱۴] ﴿اَيْنَ شُرَكَاءِيَ﴾ [القصص ۶۲] ﴿يَاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ﴾ [احزاب ۹۵] ﴿وَ مَنْ تَقِ السَّيِّاٰتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ﴾ [مومن ۹] ﴿مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ﴾ [مومن ۴۳] ﴿لَا جَرَمَ اَنَّ مَا تَدْعُوْنَنِيْ اِلَيْهِ﴾ [مومن ۴۴] ﴿مَتٰى نَصْرُ اللهِ﴾ [البقرة ۱۴۲] ﴿وَ لَدَيْنَا مَزِيْدٌ﴾ [قٓ ۳۵] ﴿حَيْثُ شِئْتُمَا﴾ [البقرة ۳۵] ﴿كَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ﴾ [انبیاء ۱۱] ﴿هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمْ﴾ [الانعام ۵۹۱] ﴿مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ﴾ [المدثر ۴۲] ﴿فَلَا تَقُلْ لَّهُمَا اُفٍّ﴾ [اسراء ۲۳] ﴿قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ﴾ [مؤمنون ۲۱۱] ﴿اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ﴾ [الذاريات ۱۲]. ﴿آٰلْئٰنَ وَ قَدْ عَصَيْتَ﴾ [یونس ۹۱] ﴿لَا شِيَةَ فِيْهَا﴾ [البقرة ۸۱] ﴿لَقَدْ تَقَطَّعَ بَيْنَكُمْ﴾ [انعام ۹۴] ﴿وَ قِيْلَ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ﴾ [سباء ۵۴] ﴿اِنَّهٗ الْحَقُّ مِثْلَ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ﴾ [الذاريات ۲۳].

۱- مضمرات

د ضمیر تعریف:

په مضمراتو تولې درې خبرې دي:

(۱) تعریف. (۲) تقسیم. (۳) د بناء وجه.

ضمیر هغه اسم ته ویل کیږي چې د متکلم، مخاطب او غائب لپاره وضع شوی وي ،د دا سې

غائب چې ذکر یې په ماقبل کې لفظاً، یا معناً او یا حکماً شوی وي.

که یې ذکر په ماقبل کې لفظاً شوی وي، نو هغه ته مرجع لفظي وایي، که معناً وي، نو هغه ته مرجع معنوي ویل کېږي او که ذکر یې په ماقبل کې نه لفظا او نه معنا شوی وی، بلکې مابعد یې تفسیر کړی وي، نو هغه ته مرجع حکمي ویل کېږي، نو اوس د دې څخه معلومه شول چې مرجع پر درې ډوله ده:

١- مرجع لفظي.
٢- مرجع معنوي.
٣- مرجع حکمي.

١- مرجع لفظي :

مرجع لفظي هغه مرجع ده چې د هغې ذکر مخکې لفظًا شوی وي او که نه وي، خو رتبةً مقدمه وي، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَهُ ، ضَرَبَ غُلَامَه زَيْدٌ.

٢- مرجع معنوي :

مرجع معنوي هغه ده چې د خاص کلام څخه وفهمول شي یا د کلام د سیاق څخه فهمیږي، لکه: ﴿اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى﴾ پدې مثال کې د (هو) ضمیر مرجع (عدل) مصدر دی کوم چې د "اِعْدِلُوْا" څخه فهمیږي او د کلام د سیاق څخه چې فهمیږي، لکه: ﴿وَ لِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ﴾، د "ابویه" ضمیر مرجع (میت) دی کوم چې د کلام د سیاق څخه فهمیږي.

٣- مرجع حکمي:

مرجع حکمي هغه مرجع ده چې د هغې ذکر مخکې نه لفظًا وي او نه معنًا وي، بلکې مابعد د هغې تفسیر وکړي، بیا که یې تفسیر مفرد کړی وي، نو دېته ضمیر مبهم ویل کیږي، لکه: رُبَّهٗ رَجُلًا او که مابعد جملې یې تفسیر کړی وي، که د مذکر صیغه وي، نو ضمیر شان ورته وایي، لکه: ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ﴾ او که د مؤنث صیغه وي، نو ضمیر قصه ورته وایي، لکه: ﴿فَاِنَّهَا لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ﴾.

التمرین

په لاندې مثالونو کې د مرجع د ولو نه معلوم کړئ او دا هم بیان کړئ چې ضمیر مبهم دی او که ضمیر شان یا ضمیر قصه دي:

﴿فَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَیُدْخِلُهُمْ فِیْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ وَّیَهْدِیْهِمْ اِلَیْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِیْمًا﴾ [النساء:۱۷۵] ﴿اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَیْءٌ عَظِیْمٌ ۝ یَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ﴾ [الحج:۲] ﴿وَاِذِ ابْتَلٰٓی اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ﴾ [البقرہ:۱۲۴] ﴿وَاِنَّ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَیَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ﴾ [البقرہ:۱۴۴] ﴿فَمَنْ تَطَوَّعَ خَیْرًا فَهُوَ خَیْرٌ لَّهٗ﴾ [البقرہ:۱۸۴] ﴿وَاِنْ تُخْفُوْهَا وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَیْرٌ لَّكُمْ﴾ [البقرہ:۲۷۱] ﴿وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ یُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَیْهِ وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ﴾ [الانعام:۱۲۱] ﴿وَوٰعَدْنَا مُوْسٰی ثَلٰثِیْنَ لَیْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ﴾ [الاعرف:۱۴۲] ﴿وَلَوْ یُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَیْهَا مِنْ دَآبَّةٍ﴾ [النحل:۶۱] ﴿وَتَرٰىهُمْ یُعْرَضُوْنَ عَلَیْهَا خٰشِعِیْنَ﴾ [الشوریٰ:۴۵] ﴿اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ﴾ [القدر:۱] ﴿كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِیَ﴾ [القیامة:۲۶] ﴿فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ﴾ [القیامة:۸۳] ﴿اِنَّ اللّٰهَ یُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِیْحُ﴾ [العمران:۴۵] ﴿اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِیْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَیْهَا قُلْتُمْ اَنّٰی هٰذَا قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ﴾ [العمران:۱۶۵] ﴿وَاْتُوا الْبُیُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا﴾ [البقرہ:۱۸۹] ﴿وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ﴾ [البقرہ:۳۱] ﴿وَدَاوٗدَ وَسُلَیْمٰنَ اِذْ یَحْكُمٰنِ فِی الْحَرْثِ اِذْ نَفَشَتْ فِیْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِیْنَ﴾ [الانبیاء:۷۸] ﴿ذٰلِكُمْ بِاَنَّهٗ اِذَا دُعِیَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ﴾ [غافر:۱۲] ﴿یٰٓاِبْرٰهِیْمُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ﴾ [هود:۷۶] ﴿وَلَا یَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ اِنَّهٗ مُصِیْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ﴾ [هود:۸۱] ﴿اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا﴾ [النحل ۲] ﴿اِنْ هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الدُّنْیَا﴾ [الانعام ۲۹] ﴿اِنْ هِیَ اِلَّا فِتْنَتُكَ﴾ [الاعراف ۱۵۵] ﴿فَاِنَّهَا لَا تَعْمَی الْاَبْصَارُ﴾ [الحج:۴۶] ﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ﴾ [الکهف:۵] ﴿سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا﴾ [الفرقان ۶۶] ﴿فَسَآءَ قَرِیْنًا﴾ [النساء:۳۸] ﴿كَلَّآ اِنَّهَا لَظٰی﴾

[المعارج:۱۵] ﴿إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ﴾ [المائدہ:۷۲] ﴿قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ﴾ [الجن:۱] ﴿وَإِمَّا أَنْ نَّكُونَ نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ﴾ [الاعراف:۱۱۵] ﴿وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ [البقرہ:۲۵۴] ﴿أَوْلَا يَسْتَطِيْعُ أَنْ يُّمِلَّ هُوَ﴾ [البقرہ:۲۸۲] ﴿ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ أَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ﴾ [الیونس:۲۸] ﴿مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ﴾ [الھود:۴۹] ﴿وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهِ﴾ [النحل:۶۶] ﴿وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا﴾ [مؤمنون:۲۱] ﴿وَلَا يُسْئَلُ عَنْ ذُنُوْبِهِمُ الْمُجْرِمُوْنَ﴾ [القصص:۷۸] ﴿فَأَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى﴾ [طٰه:۶۷]

د ضمائر اقسام

ضمیر په پنځه ډوله دی:

۱- مرفوع متصل. ۲- مرفوع منفصل.
۳- منصوب متصل. ۴- منصوب منفصل.
۵- مجرور متصل.

۱- مرفوع متصل

ضمیر مرفوع متصل په لاندې ډول سره ذکر شوي دي:

ضمیر	نوم	ژباړه
ضربت	ت: واحد متکلم لپاره.	وهل وکړل ما یو نر، یا یوې ښځې.
ضربنا	نا: جمع متکلم لپاره.	وهل وکړه موږ دوو نرانو، یا دوو ښځو، یا موږ ټولو نرانو، یا ټولو ښځو.
ضربت	ت: واحد مذکر مخاطب لپاره.	وهل وکړه تا یو کس.
ضربتما	تما: تثنیه مذکر مخاطب لپاره.	وهل وکړل تاسې دوو کسانو
ضربتم	تم: جمع مذکر مخاطب لپاره.	وهل وکړل تاسو ټولو کسانو
ضربت	ت: واحده مؤنثه مخاطبه لپاره.	وهل وکړل تا یوې ښځې.
ضربتما	تما: تثنیه مؤنثه مخاطبه لپاره	وهل وکړل تاسو دوو ښځو
ضربتن	تن: جمع مؤنثه مخاطب لپاره.	وهل وکړل تاسو ټولو ښځو.
ضرب	هو: واحد مذکر غائب لپاره.	وهل وکړه هغه یوه کس.
ضربا	الف: تثنیه مذکر غائب لپاره.	وهل وکړل هغو دوو کسانو.
ضربوا	واو: جمع مذکر غائب لپاره.	وهل وکړل هغو ټولو کسانو.
ضربت	هی: واحده مؤنثه غائبه لپاره.	وهل وکړه هغې یوې ښځې.
ضربتا	الف: تثنیه مؤنثه غائبه لپاره.	وهل وکړل هغو دوو ښځو.
ضربن	نون: جمع مؤنثه غائبه لپاره.	وهل وکړل هغو ټولو ښځو.

فائده:

ضمیر مرفوع متصل پر دوه ډوله دي:

۱- بارز. ۲- مستتر.

۱- د بارز (ظاهر) ضمیر تعریف:

بارز ضمیر هغه ضمیر دی چې هم تلفظ په کول کیږي او هم په سترګو لیدل کیږي. لکه: په ضَربوا کې واو ضمیر.

۲- د مستتر (پټ) ضمیر تعریف:

ضمیر مستتر هغه دی چې په هغه سره تلفظ نه شي کیدلای او نه هم په سترګو لیدل کیږي.

مستتر پر دوه ډوله دی:

۱- جائز الاستتار.

۱- واجب الاستتار.

۲- جائزالاستتار :

جائز الاستتار هغه ضمير دی چې کله کله په کلمه کې دننه پټ موجود وي. لکه: ضَرَبَ (په "ضَرَبَ" کې (هُوَ) ضمير مستتر دی) او کله بيا په کلمه کې دننه نه وي. لکه : ضَرَبَ زَيْدٌ (دلته په "ضَرَبَ" کې هيڅ ضمير مستتر نه شته "زيد" يې فاعل دی).

۱- واجب الاستتار:

واجب الاستتار هغه ضمير دی چې هميشه په کلمه کې دننه پټ موجود وي. لکه: اِضْرِبْ (په "اِضْرِبْ" کې هميشه (اَنْتَ) ضمير مستتر وي).

فائده :

د فعل ماضي ټولې څوارلس صيغې دي، په هغو کې په دوولسو صيغو کې (د ضَرَبَ. ضَرَبَتْ څخه پرته) ضمير مرفوع متصل بارز دی، په دوو صيغو کې مستتر جائز الاستتار دی او په پنځوصيغوکې بيا ضمير مستتر دی؟ په دوو کې جائز الاستتار دی "يَضْرِبُ. تَضْرِبُ" (مؤنثه غائبه) کوم چې د غائب صيغې دي او په درو کې واجب الاستتار دی "تَضْرِبُ (مذکر مخاطب)، اَضْرِبُ. نَضْرِبُ".

د فعل امر په واحد مذکر مخاطب صيغه کې ضمير واجب الاستتار دی او په هغو نورو صيغو کې يې ضمير بارز دی.

د صفت په واحد صيغو کې ضمير جائز الاستتار دی، پرته د اسم تفضيل د واحد د صيغې څخه کوم چې په هغې کې واجب الاستتار دی، دغه راز د صفت د تثنيې او جمعې په صيغو کې هم ضمير واجب الاستتار دی.

د ضمير مرفوع متصل ترکيب :

ضمير مرفوع متصل ترکيب کې درې شيان واقع کيږي:

۱- **فاعل**، لکه: زَيْدٌ ضَرَبَ.

۲- **نائب فاعل**، لکه: ضُرِبَتْ.

۳ـ د افعال ناقصه وو لپاره اسم، لکه: ﴿وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾.

۲ـ ضمیر مرفوع منفصل

ضمیر مرفوع منفصل څوارلس ضمائر دی کوم چې په لاندې ډول سره ذکر شوي دي:

ضمیر	نوم	ژباړه
انا	د واحد متکلم لپاره.	زه یو نر، یا یوه ښځه.
نحن	د جمعي متکلم لپاره.	موږ ټول نران، یا ښځې، یا دوه نران، یا دوې ښځې
انت	د واحد مذکر مخاطب لپاره.	ته یو نر.
انتما	د تثنیې مذکر مخاطب لپاره.	تاسي دوه نران.
انتم	د جمعي مذکر مخاطب لپاره.	تاسي ټول نران.
انت	د واحدې مؤنثې مخاطبې لپاره	ته یوه ښځه.
انتما	د تثنیې مؤنثې مخاطبې لپاره.	تاسي دوې ښځې.
انتن	د جمعي مؤنثې مخاطبې لپاره.	تاسي ټولې ښځې.
هو	د واحد مذکر غائب لپاره.	هغه یو کس.
هما	د تثنیې مذکر غائب لپاره.	هغه دوه کسان.
هم	د جمعي مذکر غائب لپاره.	هغه ټول کسان.
هی	د واحدې مؤنثې غائبې لپاره.	هغه یوه ښځه.
هما	د تثنیې مؤنثې غائبې لپاره.	هغه دوې ښځې.
هن	د جمعي مؤنثې غائبې لپاره.	هغه ټولې ښځې.

د ضمیر مرفوع منفصل ترکیب:

ضمیر مرفوع منفصل په ترکیب کې درې ځایان واقع کیږي:

۱ـ که د فعل څخه مخکې / شروع کې راغلی وي، نو په ترکیب کې مبتداء واقع کیږي

لکه: ﴿نَحْنُ نَقُصُّ﴾، ﴿هُوَ اللّٰهُ﴾.

۲ـ که د فعل څخه وروسته راغلی وي، نو بیا که د ضمیر څخه وروسته واو راغلی وي

په ترکیب کې د فاعل لپاره تاکید واقع کیږي. لکه: ﴿أُسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ﴾.

۳ـ که واو نه وي نو بیا په ترکیب کې فاعل واقع کیږي. لکه: ما قام إلا أنا

۴ـ کله نائب فاعل واقع شوی وي. لکه: ما ...

۵- ضمیر مرفوع منفصل کله نا کله د مبتداء او خبر تر مینځ واقع کېږي .نو په دې وخت کې دغه ضمیر ته ضمیر د فصل ویل کیږي. لکه: ﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾.

د ضمیر فصل ترکیب:

په ضمیر فصل کې دوه مذهبونه دي:

۱- لا محل لها من الاعراب په دې وخت کې حرف دی.

۲- ضمیر فصل اسم دی په ترکیب کې کله مبتداء او کله تاکید واقع کېږي د مبتداء مثال لکه: ﴿أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ او د تاکید مثال لکه په ﴿كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ﴾ کې (أَنتَ) تاکید دی د كُنتَ د (ت) ضمیر څخه.

۲- ضمیر منصوب متصل

ضمیر منصوب متصل څوارلس ضمائر دي کوم په لاندې ډول سره د کرشوي دي:

ضمیر	نوم	ژباړه
ضربني	ی واحد متکلم لپاره.	وهل وکړه یوه نر. ما یو نر .یا یوې ښځې لره.
ضربنا	نا: جمع متکلم لپاره.	وهل وکړه یوه نر. موږ دوو نرانو .یا دوو ښځو . یا موږ ټولو نرانو . یا ټولو ښځو لره.
ضربک	ک: واحد مذکر مخاطب لپاره.	وهل وکړه یوه نر. تا یو کس لره.
ضربکما	کما: صیغه تثنیه مذکر مخاطب.	وهل وکړل یوه نر. تاسي دوو کسانو لره.
ضربکم	کم: جمع مذکر مخاطب لپاره.	وهل وکړل یوه نر. تاسي ټولو کسانو لره.
ضربک	ک: واحده مؤنثه مخاطبه لپاره.	وهل وکړل یوه نر. تا یوې ښځې لره.
ضربکما	کما: تثنیه مؤنثه مخاطبه لپاره.	وهل وکړل یوه نر. تاسي دوو ښځو لره.
ضربکن	کن: جمع مؤنثه مخاطبه لپاره.	وهل وکړل یوه نر .تاسي ټولو ښځو لره.
ضربه	ها: واحد مذکر غائب لپاره.	وهل وکړه یوه نر. هغه یوه کس لره.
ضربهما	هما: صیغه تثنیه مذکر غائب لپاره.	وهل وکړل یوه نر هغو دوو کسانو لره.
ضربهم	هن: جمع مذکر غائب لپاره.	وهل وکړل هغو ټولو کسانو.
ضربها	ها: واحده مؤنثه غائبه لپاره.	وهل وکړل یوه نر. هغې یوې ښځې لره
ضربهما	هما: تثنیه مؤنثه غائبه لپاره.	وهل وکړه یوه نر . هغو دوو ښځو لره.
ضربهن	هن: جمع مؤنثه غائبه لپاره.	وهل وکړه یوه نر .هغو ټولو ښځو لره.

د ضمیر منصوب متصل ترکیب:

ضمیر منصوب متصل په ترکیب کې درې شیان واقع کېږي:

۱- چې کله د فعل سره متصل وي، نو په ترکیب کې مفعول به واقع کېږي، لکه: ﴿خَلَقَكُمْ﴾.

۲- چې کله د اسماء افعال سره متصل و، نوپه ترکیب کې د اسماء افعال لپاره مفعول به واقع کېږي، لکه: رَوَيْدَهُ.

۳- چې کله د حروف مشبه بالفعل سره متصل وي، نو په ترکیب کې د حروف مشبه بالفعل لپاره اسم واقع کېږي، لکه: ﴿اِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ﴾.

۴- ضمیر منصوب منفصل

ضمیر منصوب منفصل څوارلس ضمائر دي کوم په لاندې ډول سره ذکر شوي دي:

ضمیر	نوم	ژباړه
ایای	د واحد متکلم لپاره.	خاص ما یو نر، یا یوې ښځې لره.
ایانا	د جمعې متکلم لپاره	خاص موږ دوو نرانو، یا دوو ښځو، یا موږ ټولو نرانو، یا ټولو ښځو لره.
ایاک	د واحد مذکر مخاطب لپاره.	خاص تا یو کس لره.
ایاکما	د تثنیې مذکر مخاطب لپاره.	خاص تاسې دوو کسانو لره.
ایاکم	د مذکر مخاطب لپاره.	خاص تاسې ټولو کسانو لره
ایاکِ	د واحدې مؤنثې مخاطبې لپاره	خاص تا یوې ښځې لره.
ایاکما	د تثنیې مؤنثې مخاطبې لپاره	خاص تا سې دوو ښځو لره.
ایاکن	د جمعې مؤنثې مخاطبې لپاره	خاص تاسې ټولو ښځو لره.
ایاه	د واحد مذکر غائب لپاره.	خاص هغه یو کس لره.
ایاهما	د تثنیې مذکر غائب لپاره.	خاص هغو دوو کسانو لره.
ایاهم	د جمعې مذکر غائب لپاره.	خاص هغو ټولو کسانو لره.
ایاها	د واحدې مؤنثې غائبې لپاره.	خاص هغې یوې ښځې لره.
ایاهما	د تثنیې مؤنثې غائبې لپاره.	خاص هغو دوو ښځو لره.
ایاهن	د جمعې مؤنثې غائبې لپاره.	خاص هغو ټولو ښځو لره.

ضمیر منصوب منفصل ترکیب:

ضمیر منصوب منفصل په ترکیب کې کله د فعل څخه مخکې راځي، خو کله کله د فعل څخه

وروسته هم راځي،په دواړو صورتونو کې مفعول به واقع کېږي،لکه:﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾. ﴿كَرِهْتُمُوْهُنَّ﴾.

۵- ضمیر مجرور متصل

ضمیر مجرور متصل څوارلس ضمائر دي کوم په لاندې ډول سره ذکرشوي دي:

ضمیر	نوم	ژباړه
لی	ی: د واحد متکلم لپاه.	ما یو نر،یا یوې ښځې لپاره.
لنا	نا: د جمعې متکلم لپاه.	موږ دوو نرانو،یا دوو ښځو ،یاموږ ټولو نرانو ،یا ټولو ښځو لپاره.
لک	ک: د واحد مذکر مخاطب لپاره.	ستاسو د یو نر لپاره.
لکما	کما: د تثنیې مذکر مخاطب لپاره.	ستاسو دد وو نرانو لپاره.
لکم	کم: د جمعې مذکر مخاطب لپاره.	ستاسو د ټولو نرانو لپاره.
لکِ	کِ: د واحدې مؤنثې مخاطبې لپاره	ستاسو د یوې ښځې لپاره.
لکما	کما: د تثنیې مؤنثې مخاطبې لپاره.	ستاسو ددوو ښځو لپاره.
لکن	کن: د جمعې مؤنثې مخاطبې لپاره.	ستاسو د ټولو ښځو لپاره
له	ها: دواحد مذکر غائب لپاره.	د دغه یوه نارینه لپاره.
لهما	هما: د تثنیې مذکر غائب لپاره.	د دغه دوو نرانو لپاره.
لهم	هن: دجمعې مذکر غائب لپاره	دد غه ټولو نارینه وولپاره
لها	ها: د واحدې مؤنثې غائبې لپاره.	ددغې یوې ښځې لپاره.
لهما	هما: د تثنیې مؤنثې غائبې لپاره.	د دغو دوو ښځو لپاره.
لهن	هن: د جمعې مؤنثې غائبې لپاه.	د دغو ټولو ښځو لپاره.

د ضمیر مجرور ترکیب:

ضمیر مجرور متصل په ترکیب کې دوه شیان واقع کېږي:

۱- که د حروف جاره وو سره متصل وي ،نو په ترکیب کې د حروف جاره وو لپاره مجرور جوړېږي، لکه: بِهٖ.

۲- که د اسم سره متصل وي، نو په ترکیب کې د اسم لپاره مضاف الیه جوړېږیو لکه: رَبُّكُمْ.

د بناء وجه: مضمرات: ځکه مبني دي چې شبه وضعي او شبه افتقاري پکښې موجود دي (تفصيل يې په رالسعيد کې وګورئ)

التمرين

په لاندې مثالونو کې د مضمراتو ډولونه (مرفوع، منصوب، مجرور، بيا لومړني دوه ډولونه متصل / منفصل). ضمير بارز يا مستتر، بيا مستتر جائز الاستتار يا واجب الاستتار. معلوم کړئ؟ که ضمير د غائب وي، نو مرجع يې کومه يوه ده؟ او د مرجع کوم ډول ده؟ او ضمير مبهم ضمير شان، ضمير قصه، ضمير فصل او ضمير تاکيد هم معلوم کړئ؟

﴿إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾ [تكوير ۱] ﴿أَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ﴾ [يوسف:۸۹] ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ [فاتحه: ۰] ﴿اِهْدِنَا﴾ [فاتحه: ۵] ﴿إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلٰى﴾ [طه: ۶۸] ﴿قَالَ لَهُ مُوْسٰى هَلْ أَتَّبِعُكَ﴾ [كهف: ۶۶] ﴿وَأَلْقِ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا﴾ [طه ۶۹] ﴿كَمَثَلِ اٰدَمَ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُنْ فَيَكُوْنُ﴾ [آل عمران: ۵۹] ﴿قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ لَأَنْتَ يُوْسُفُ قَالَ اَنَا يُوْسُفُ وَهٰذَآ اَخِيْ﴾ [يونس: ۹۰] ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ﴾ [بقره: ۲۸۶] ﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَاَخَّرَتْ﴾ [انفطار: ۵] ﴿اِنِّيْٓ اٰمَنْتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُوْنِ﴾ [يس: ۲۵] ﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ﴾ [بقره: ۹۰] ﴿وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ﴾ [بقره: ۸۳] ﴿اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً﴾ [بقره ۳۰] ﴿وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ﴾ [بقره: ۲۵] ﴿اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ﴾ [بقره: ۳۵] ﴿وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ [بقره: ۵] ﴿كَرِهْتُمُوْهُنَّ﴾ [نساء: ۱۹] ﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً﴾ [بقره: ۵] ﴿اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ﴾ [طه ۱۴] ﴿قَالَا رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى﴾ [طه: ۴۵]

د اجراء کولو طريقه:

﴿اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾

ارشاد: په "كُوِّرَتْ" کې ضمير د ضميرونو د ډولونو څخه کوم ډول دی؟

شاګرد: ضمير مرفوع متصل دی.

استاذ: د ضمير متصل کوم ډول دی بارز دی او که مستتر؟

شاګرد: ضمير مستتر دی.

استاذ: د مستتر ضمير کوم ډول (جائز الاستتار که واجب الاستتار) دی؟

شاګرد: جائز الاستتار دی.

استاذ: ضمير د څه شي لپاره (متکلم. مخاطب. غائب) دی؟

شاګرد: د غائب لپاره دی.

استاذ: مرجع يې کومه يوه ده او کوم ډول ده؟

شاګرد: مرجع يې "شمس" دی او لفظي مرجع ده.

۲- اسماء اشارات

په اسماء اشارات کې تولې څلور خبري دي:

(۱) تعريف. (۲) ډولونه. (۳) ترکيب. (۴) د بناء وجه.

۱- د اسماء اشارات تعريف:

اسماء اشارات هغه اسم دی چې د مشار اليه د تعين لپاره وضع کړل شوی وي. لکه: هٰذَا.

۲- د اسماء اشارات ډولونه:

اسماء اشارات پر دوه ډوله دي:

۱- اسماء اشارات مکاني.

۲- اسماء اشارات غير مکاني.

۱- اسماء اشارات مکاني:

اسماء اشارات مکاني ټوله پنځه الفاظ دي:

هُنَا. هٰهُنَا. هُنَاکَ. هُنَالِکَ. ثَمَّ.

فائده:

اسم اشاره په اعتبار د مراتب پر دري ډوله ده:

۱-قریب.

۲-متوسط.

۳-بعید.

۱- هُنَا. هٰهُنَا د قریب لپاره دي.

۲- هُنَاکَ د متوسط لپاره ده.

۳- هُنَالِکَ. ثَمَّ د بعید لپاره دي.

د اسم اشاري مکاني ترکیب:

اسم اشاره مکاني ته کتل پکار دي چې حرفِ جر پر داخل شوی دی او که نه؟

که حرف جر پر داخل شوی وي،نو د ماقبل یا د مابعد سره متعلق کېږي، لکه: مِنْ ثَمَّ اِمْتَنَعَ اَحْمَرُ.

او که حرف جر پر داخل شوی نه وي، نو بیا یې وروسته ته کتل پکار دي چې اسم دی او که فعل؟

که اسم وي، نو په ترکیب کې خبر مقدم جوړېږي وروسته یې مبتداء مؤخره جوړېږي، لکه: ﴿هُنَالِکَ الْوَلَایَةُ﴾.

او که یې مابعد فعل وي که مقدوي او که مؤخر په دواړو صورتونو کې مفعول فیه مقدم یا مؤخر جوړېږي، لکه: اِجْلِسْ هُنَالِکَ.

۲- اسماء اشارات غیرمکاني:

اسماء اشارات غیرمکاني دیارلس الفاظ دي کوم چې په لاندې ډول سره ذکر شوي دي:

نقشه

شميره	الفاظ	افراد، تثنيه او جمع	حالت
۱	ذَا	واحد مذكر	
۲	ذَانِ	تثنيه مذكر	حالت رفعي
۳	ذَيْنِ	=	حالت نصبي وجري
۴	تَا	واحده مؤنثه	
۵	تِيْ	=	
۶	تِهْ	=	
۷	ذِهْ	=	
۸	ذِهِيْ	=	
۹	تِهِيْ	=	
۱۰	تَانِ	تثنيه مؤنثه	حالت رفعي
۱۱	تَيْنِ	=	حالت نصبي وجري
۱۲	أُولَآءِ	جمع مذكر او مؤنث	
۱۳	أُوْلٰى	جمع مذكر اومؤنث	

فائده:

اسماء اشارات غير مكاني د مراتب په اعتبار پر درې ډوله دي:

۱- قريب.

۲- توسط ۳

۳- بعيد.

۱- كه په شروع كې يې ها تنبيه راغلي وه، نو دا قريب لپاره ده. لكه: هٰذَا.

۲- كه په آخر كې يې كاف خطابي موښتنى وي، نو دا متوسط لپاره ده. لكه: ذَاكَ.

۳- كه لام او كاف دواړه راغلي وي نو د بعيد لپاره ده، لكه: ذٰلِكَ.

فائده:

په اسم اشاره کې څلور شيان وي:

۱- مشير.

۲- مشار اليه.

۳- اسم اشاره.

۴- مخاطبو لکه: "ذَالكَ زَيْدٌ" متكلم مشير دى، زيد مشار اليه دى. (ذَا) اسم اشاره ده او کاف د خطاب لپاره دى.

فائده:

په اووه ځايونو کې د اسم اشارې مشار اليه په لفظونو کې حذفيږي، لېکن د متکلم په ذهن کې وي:

۱- تر اسم اشاره وروسته مرفوع منفصل ضمير راشي، ؤ لکه: ﴿وَ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ﴾

۲- تر اسم اشاره وروسته نکره راشي. لکه: هٰذَا رَجُلٌ.

۳- تر اسم اشاره وروسته فعل راشي، لکه: هٰذَا ثَبَتَ.

۴- تر اسم اشاره وروسته جار او مجرور راشي. لکه: هٰذَا فِي الدَّارِ.

۵- پر اسم اشاره حرف جر داخل شوى وي لكه: كذالك الامر.

۶- تر اسم اشاره وروسته موصوف او صفت راشي، لکه: ﴿وَ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ﴾

۷- تر اسم اشاره وروسته مضاف او مضاف اليه راشي لکه: هٰذَا غُلَامُ زَيْدٍ.

د اسم اشارې غير مکاني ترکيب:

د اسم اشارې غير مکاني مشار اليه ته وګورئ؟ چې ذکر ده او که محذوف.

که ذکر وي، نو بيا ورته وګورئ چې مخته ده او که وروسته.

که مخته وي، نو اشاره د هغه لپاره صفت جوړيږي، لکه: ﴿مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا﴾

که وروسته وي، نو بيا ورته وګورئ چې معرف باللام ده او که غير معرف باللام.

که معرف باللام وي. نو د اسم اشارې لپاره صفت جوړېږي. لکه: ﴿ذٰلِکَ الْکِتٰبُ﴾

او که غیر معرف باللام وي. نو مبتداء او خبر جوړېږي، لکه: هٰذَا زَیْدٌ.

او که مشار الیه حذف شوې وي. نو ورته وګورئ چې پر اسم اشاره حرف جر داخل شوی دی او که نه؟

که حرف جر پرې داخل شوی نه وي، نو مبتداء او خبر جوړېږي .لکه: هٰذَا زَیْدٌ. هٰذَا ثَبَتَ. هٰذَا فِيْ الدَّارِ.

او که حرف جر پرې داخل شوی وي، نو وګورئ چې وروسته يې اسم دی او که فعل؟

که اسم وي. نو اسم اشاره خبر مقدم وروسته يې مبتداء مؤخره جوړېږي، لکه: کَذٰلِکَ الْاَمْرُ

او که فعل وي. نو د فعل محذوف لپاره مفعول مطلق جوړېږي، لکه:

﴿وَکَذٰلِکَ مَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِکَ﴾ ای اَرْسَلْنَا اِرْسَالًا ثَابِتًا کَذٰلِکَ اَرْسَلْنَا.

د بناء وجه:

اسماء اشارت: ځکه مبني دي چې شبه افتقاري پکې موجود ده د خپل مشار الیه ته احتیاج لري[1].

التمرین

په لاندني مثالونو کې اسم اشاره مکاني او غیر مکاني نبناني کړئ دغه راز اسم قریب، متوسط. بعید. مذکر. مؤنث. واحد. تثنیه او جمع معلوم کړئ دغه راز مشار الیه يې مذکور ده او که محذوف او د هر یوه ترکیب هم واضح کړئ

﴿هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَ هُدًى وَّ مَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ﴾ [آل عمران:۱۳۸] ﴿وَ اُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ [البقرة:۵]. الشَّجَرَةَ﴾ [بقره:۳۵] ﴿اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ﴾ [نساء:۷۵] ﴿اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ﴾ [اعراف:۴۲] ﴿اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ﴾ [اعراف:۲۲] ﴿هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ [احزاب:۱۱] ﴿اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ﴾ [شعراء :۵۴] ﴿اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ

﴿الْفَجَرَةُ﴾ [عبس:۴۲] ﴿وَ هٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ﴾ [انبیاء:۵۰] ﴿اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ﴾ [طه:۶۳] ﴿بَعْدَ
عَامِهِمْ هٰذَا﴾ [توبه:۲۸] ﴿ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ﴾[بروج:۱۱] ﴿كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ﴾
[مؤمن:۶] ﴿وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ﴾ [یوسف:۶]﴿اَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ﴾ [شعراء:۱۴۶]
﴿اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِيْنَ﴾ [شعراء:۱۳۷] ﴿بِاَمْرِهِمْ هٰذَا﴾ [یوسف:۱۵] ﴿كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ﴾
[شعراء:۲۰۰] ﴿قَالَ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَيَّ هٰتَيْنِ﴾ [قصص:۲۷] ﴿فَذُوْقُوْا بِمَا
نَسِيْتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا﴾ [السجده:۱۴] ﴿دَعَوْا هُنَالِكَ﴾ [فرقان:۱۳] ﴿ءَ اَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ
عِبَادِيْ هٰؤُلَاءِ﴾ [فرقان:۱۷] ﴿فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ﴾ [قصص:۳۲] ﴿ذالك جَزَيْنَاهُمْ﴾ [سبا:۱۷]
﴿وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ﴾ [مؤمن:۷۵] ﴿فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ﴾ [الحاقة:۲۵] ﴿كَذٰلِكَ
جَزَاءُ الْكَافِرِيْن﴾ [بقره:۱۹۱] ﴿وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰي هٰؤُلَاءِ شَهِيْدًا﴾ [نساء:۴۱] ﴿فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا
الْبَيْتِ﴾ [قریش:۳] ﴿جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُوْمٌ﴾ [ص:۱۱] ﴿فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ﴾
[کهف:۱۹] ﴿تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ﴾ [بقره:۲۵۳] ﴿اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ﴾ [واقعه:۹۶]
﴿ذٰلِكُمُ اللهُ رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ﴾ [شوری:۱۰] ﴿وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ﴾ [الشعراء۶۴] ﴿كَذٰلِكَ
اللهُ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ﴾ [العمران ۴۰] ﴿وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللهِ فِيْ شَيْءٍ﴾ [العمران۲۸]
﴿مَا لِهٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً﴾ [الکهف۴۹] ﴿قَالَ كَذٰلِكِ﴾ [مریم۲۱] ﴿اَيُّكُمْ
زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا﴾ [التوبه۱۲۴] ﴿وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ﴾ [غافر ۵۸].

د اجراء کولو طریقه

﴿اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې ایت کې څو اسم اشارې شته؟

شاګرد: یوه اسم اشاره (هٰذَا) شته.

استاذ: مکاني ده او که غیر مکاني؟

شاګرد: غیرمکاني ده.

استاذ: د قریب لپاره ده، که د متوسط او که د بعید؟

استاذ: د مذکر لپاره ده او که د مؤنث؟

شاګرد: د مذکر لپاره ده.

استاذ: د واحد لپاره ده که د تثنيې يا جمعې؟

شاګرد: د واحد لپاره ده.

استاذ: مشار اليه يې ذکر ده او که حذف؟

شاګرد: ذکر – القران – ده.

استاذ: د هذا ترکیب بیان کړئ؟

شاګرد: هذا موصوف

﴿كَذَالِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې ایت کې څو اسم اشارې شته؟

شاګرد: یوه اسم اشاره (کذَالک) شته.

استاذ: مکاني ده او که غیر مکاني؟

شاګرد: غیرمکاني ده.

استاذ: د قریب لپاره ده، که د متوسط او که د بعید؟

شاګرد: د بعید لپاره ده.

استاذ: د مذکر لپاره ده او که د مؤنث؟

شاګرد: د مذکر لپاره ده.

استاذ: د واحد لپاره ده که د تثنيې يا جمعې؟

شاګرد: د واحد لپاره ده.

استاذ: مشار اليه يې ذکر ده او که حذف؟

شاګرد: محذوف ده.

استاذ: د محذوف -اووه- ځایونو څخه کوم ځای ده ؟

شاګرد: حرف جر پر داخل شوی دی.

استاذ: د (کذالک) ترکیب بیان کړئ؟

شاګرد: د فعل محذف لپاره مفعول مطلق دی ، لکه: ﴿کَذَالِکَ حَقَّتْ کَلِمَةُ رَبِّکَ حقًا کذالک حقت﴾.

شاګرد: د قریب لپاره ده.

۳- اسماء موصولات

په اسماء موصوله وو کې څلور خبري دي:

(۱) تعریف. (۲) ډولونه. (۳) ترکیب. (۴) د بناء وجه.

۱- د اسماء موصولات تعریف:

اسم موصول هغه اسم دی چې جملې یا قائم مقام د جملې، عائد یا قائم مقام د عائد ته محتاج وي د جملې څخه مراد جمله اسمیه او جمله فعلیه ده او د قائم مقام د جملې څخه مراد څلور شیان دي:

۱- اسم فاعل. لکه: اَلضَّارِبُ د اَلَّذِیْ ضَرَبَ په معنا دی.

۲- اسم مفعول. لکه: اَلْمَضْرُوْبُ د اَلَّذِیْ ضُرِبَ په معنا دی.

۳- اسم ظرف. لکه: اَلَّذِي عِنْدَكَ.

۴- ~~جار او~~ مجرور. لکه: ما فی السموات.

او د عائد څخه مراد چې په صله کې داسي ضمیر وي چې موصول ته راجع شوی وي او د قائم مقام د عائد څخه مراد اسم ظاهر دی (یعني هغه اسم ظاهر چې د عائد پر ځای ولاړ وي) لکه د شاعر شعر:

فَيَا رَبِّ اَنْتَ اللهُ فِي كُلِّ مَوْطِنٍ + وَاَنْتَ الَّذِیْ فِی رَحْمَةِ اللهِ اَطْمَعُ (فِی رَحْمَتِه).

۲- د اسماء موصولاتو ډولونه.

۱- خاص غیر مشترک. ۲- عام مشترک.

۱- خاص غیر مشترک:

د اسم موصول خاص غیر مشترک ټول نهه الفاظ دي کوم چې په لاندې ډول دي:

شمیره	الفاظ	صیغه	حالت
۱	اَلَّذِیْ	واحد مذکر	
۲	اَللَّذَانِ	تثنیه مذکر	حالت رفعي
۳	اَللَّذَیْنِ	تثنیه مذکر	حالت نصبي او جري
۴	اَلَّذِیْنَ	جمع مذکر	
۵	اَلَّتِیْ	واحده مؤنثه	
۶	اَللَّتَانِ	تثنیه مؤنثه	حالت رفعي
۷	اَللَّتَیْنِ	تثنیه مؤنثه	حالت نصبي
۸	اَللَّاتِیْ	جمع مؤنثه	
۹	اَللَّوَاتِیْ	=	

۲- موصول عام مشترک:

دا ټول شپږ الفاظ دي کوم چې په لاندې ډول دي:

شمیره	الفاظ	صیغه	ذوی العقول او غیر ذوی العقول
۱	مَنْ	واحد، تثنیه، جمع، مذکر، مؤنث.	د ذوی العقول لپاره
۲	مَا	واحد، تثنیه، جمع، مذکر، مؤنث.	د غیر ذوی العقول لپاره
۳	اَیٌّ، اَیَّةٌ	اَیٌّ د مذکر لپاره او اَیَّةٌ د مؤنثه لپاره	+
۴	ذُوْ	واحد، تثنیه، جمع، مذکر، مؤنث	+
۵	ذَا	واحد، تثنیه، جمع، مذکر، مؤنث	+
۶	اَلِف لام	واحد، تثنیه، جمع او مؤنث	+

فائده: د "اَیٌّ. اَیَةٌ" موصوله ټول څلور ډولونه دي په درو صورتونو کې معرف او په یوه صورت کې مبني دي:

۱- صورت:

د "اَیٌّ. اَیَةٌ" مضاف الیه ذکر وي او صدرصله یې هم مذکوره وي. لکه: اَیُّهُمْ هُوَ قَائِمٌ (معرب).

۲- صورت:

د "اَیٌّ. اَیَةٌ" مضاف الیه او صدر صله یو لا هم مذکور نه وي. لکه: اَیٌّ قَائِمٌ (معرب).

۳- صورت:

د "اَیٌّ. اَیَةٌ" مضاف الیه مذکور نه وي، خو صدر صله یې ذکر وي، لکه: اَیٌّ هُوَ قَائِمٌ (معرب).

۴- صورت:

د "اَیٌّ. اَیَةٌ" مضاف الیه ذکر وي، خو صدر صله یې ذکر نه وي، لکه: اَیُّهُمْ قَائِمٌ (مبني).

فائده:

الف لام موصوله هغه دی چې پر اسم فاعل او اسم مفعول داخل شوی وي. په دې شرط چې (الف لام) به عهد خارجي نه وي او په اسم فاعل او اسم کې به د دوام او استمرار معنا هم نه وي او علمیت به غلبه هم نه وي پر کړي. لکه: اَلضَّارِبُ. اَلْمَضْرُوْبُ.

فائده:

"ذُوْ" هغه وخت موصوله جوړیدای شي چې وروسته یې فعل راغلی وي، لکه: ذُوْ ضَرَبَكَ.

او که یې وروسته اسم راغلی و، نو بیا د اسماء سته مکبره وو څخه دی، لکه: ذُوْ مَالٍ ای صَاحِبُ مَالٍ.

فائده:

"ذا" هغه وخت صول جوړیدای شي چې مخکې یې (مَن یا مَا) استفهامیه وي او وروسته یې وصول نه وي راغلی او "ذا" به الغا نه وي د الغاء معنا دا ده چې "مَن ذا او مَا ذا" به په یوه کلمه

کې نه وي ، لکه: مَا ذَا صَنَعْتَ دلته يوه کلمه ده، اتفاقي مثال : ﴿مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ﴾ ای ای شئ الذین انزل ربکم.

د اسماء موصولات ترکیب :

اسماء موصوله وو ته وګورئ چې د کلام په ابتداء کې دي او که په منځ کې،

که په ابتداء کې وي، نو بيا وګورئ چې حرف جر پر داخل شوی دی ، که حرف مشبه بالفعل اوکه هيڅ شی هم نه دی پر داخل شوی ،

که حرف جر پر داخل شوی وي، نو اسم موصول خبر مقدم او مابعد يې مبتداء مؤخره ده، لکه: ﴿وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ﴾.

که حرف مشبه بالفعل پر داخل شوی وي، نو د هغه لپاره اسم واقع کېږي، لکه: ﴿إِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ﴾

او که هيڅ شی نه وي پر داخل شوی، نو اسم موصول مبتداء او مابعد يې خبر دی، لکه: ﴿الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾.

او که د کلام په مینځ کې واقع شوی وي، نو وګورئ چې تر ده مخکې اسم دی، که فعل او که جار او مجرور،

که اسم وي نو وګورئ چې معرفه دی او که نکره، که معرفه وي (هغه بيا که معرف باللام وي يامعرفه په اضافت سره وي او يا معرفه په علم سره وي په درو سره وو صورتونو کې) موصوف او صفت جوړيږي، لکه: ﴿ لِلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾ ، ﴿وَ أُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِيْ أَرْضَعْنَكُمْ﴾ ، ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدَانَا﴾ او که نکره وي، نو مضاف او مضاف اليه جوړيږي لکه: ﴿صِرَاطَ الَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾.

که مخکې يې فعل وي، نو وګورئ چې فاعل يې موجود دی او که نه،

که فاعل يې موجود نه وي، نو اسم موصول يې فاعل جوړيږي، لکه: ﴿قَالَ الَّذِيْنَ آمَنَ بِهٖ﴾

او که يې فاعل موجود وي، نو اسم موصول يې مفعول به جوړيږي، لکه: ﴿ اَرِنَا الَّذِيْنَ

اَضَلّٰنَا﴾
او که تر ده مخکې جار او مجرور وي، نو جار او مجرور خبر مقدم او اسم موصول يې مبتداء مؤخره جوړيږي. لکه: ﴿لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾.
همداراز تر اسماء موصولاتو مخکې ضمير يا اسم اشاره وي، نو په خپل مينځ کې مبتداء او خبر جوړيږي لکه: ﴿هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا﴾ ﴿أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى﴾.

د بناء وجه:

اسماء موصولات: ځکه مبني دي چې شبه افتقاري پکې موجود ده (۱).

التمرين

په دې لاندې مثالونو کې د اسم موصول ډولونه (مشترک او غير مشترک) بيان کړئ. دا هم واضح کړئ چې صله يې جمله ده او که قائم مقام د جملې او عائد يې ذکر دى او که حذف او ترکيب يې بيان کړئ:

﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰنَا﴾ [اعراف:۴۳] ﴿أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ﴾ [کهف:۱۰۵] ﴿وَالّٰٓئِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ وَّالّٰٓئِيْ لَمْ يَحِضْنَ﴾ [طلاق:۴] ﴿وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ﴾ [مؤمن:۳۸] ﴿وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ﴾ [يونس:۲۵] ﴿هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ﴾ [صافات:۲۱] ﴿وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا﴾ [نساء:۱۶] ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾ [اعلیٰ:۱۴] ﴿فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِيْ مِنْ شِيْعَتِهٖ عَلَي الَّذِيْ مِنْ عَدُوِّهٖ﴾ [قصص:۱۵] ﴿اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ﴾ [قصص:۵۶] ﴿رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا﴾ [حم سجدة:۲۹] ﴿يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ﴾ [شورى:۴۹] ﴿لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ﴾ [بقرة:۲۵۵] ﴿لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ﴾ [مؤمن:۲۸] ﴿فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ﴾ [بقرة:۲۴] ﴿وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا﴾ [طه:۱۱۱] ﴿مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّآ اَضَاءَتْ مَا

(۱) تفصيل يې په بدر السعيد کې وګورئ!

حَوْلَهٗ﴾ [بقرہ:۱۷] ﴿زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا﴾ [بقرہ:۲۱۲] ﴿وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا﴾ [یوسف:۲۳] ﴿مِمَّنْ مَّنَعَ﴾ [بقرہ:۱۱۴] ﴿وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ﴾ [النحل:۲۵] ﴿مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ﴾ [النحل:۲۴] ﴿وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ [صافات:۳۹] ﴿اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ عَلٰي بَنِيْٓ اِسْرَاءِيْلَ اَكْثَرَ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ﴾ [النمل:۷۶] ﴿وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ﴾ [ال عمران:۱۳۴] ﴿وَاَنَا بَرِيْءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ﴾ [هود:۳۵] ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ﴾ [بروج:۱۱] ﴿فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ اَنْ لَّعْنَةُ اللهِ عَلَي الظّٰلِمِيْنَ ۝۴۴ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ﴾ [اعراف:۴۵] ﴿وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ﴾ [بقرہ:۱۴۳] ﴿وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ بَغْيًا﴾ [بقرہ:۲۱۳] ﴿اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ﴾ [الحدید۱۸] ﴿وَالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ۝ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ۝ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ﴾ [الطور:۶] ﴿وَيَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ قُلِ الْعَفْوَ﴾ [البقرة ۲۱۹] ﴿ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا﴾ [مریم ۶۹] ﴿فَاقْضِ مَا اَنْتَ قَاضٍ﴾ [طٰہٰ۷۲] ﴿وَلَا بِالَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ [سباء۳۱] ﴿قَالَ يٰاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ﴾ [الصّٰفٰت۱۰۲] ﴿لِتُكَبِّرُوا اللهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ﴾ [البقرة۱۸۵] ﴿وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ﴾ [مومنون۳۳] ﴿وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [البقرة۲۳۳] ﴿لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِى الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ﴾ [الحج۵۳].

د حل کولو طریقه

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ هَدٰنَا لِهٰذَا﴾

ق: گران طالبه! پدې ایات کې څو اسم موصوله دي؟

ګ: یو اسم موصول دی کوم چې الذي دی.

ق: مشترک دی او که غیر مشترک؟

شاگرد: غیر مشترک دی.

استاذ: صله يې جمله ده او که قائم مقام د جملې؟

شاگرد: زما ګران استاذه!! صله يې جمله فعليه ده.

استاذ: عائد يې ذکر دی او حذف؟

شاگرد: ذکر دی کوم چې په (هدانا) کې هو ضمير دی.

استاذ: ترکيب يې بيان کړه؟

شاگرد: استاذجي! اسم موصول په منځ کې شتون لري او مخکې يې معرف باللام راغلی دی، نو موصوف او صفت جوړيږي.

﴿لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْض﴾

استاذ: ګران طالبه! پدې ايات کې څو اسم موصوله دي؟

شاگرد: يو اسم موصول دی کوم چې "ما" دی.

استاذ: مشترک دی او که غير مشترک؟

شاگرد: مشترک دی.

استاذ: صله يې جمله ده او که قائم مقام د جملې؟

شاگرد: زما ګران استاذه!! صله يې قائم مقام د جملې ده

استاذ: د قائم مقام د جملې کوم ډول ده؟

شاگرد: زما ګران استاذه!! جار مجرور دی.

استاذ: عائد يې کوم يو دی؟

شاگرد: عائد يې په "ثبت" فعل محذوف کې "هو" ضمير دی.

استاذ: ترکيب يې بيان کړئ؟

شاگرد: استاذجي! اسم موصول په منځ کې شتون لري او مخکې يې جار او مجرور راغلی دی، نو جار او مجرور خبر مقدم دی او اسم موصول يې مبتداء مؤخره جوړيږي.

۴- اسماء افعال

په اسماء افعال کې څلور خبرې دي
۱- تعریف. ۲- ډولونه
۳- ترکیب. ۴- د بناء وجه.

۱- د اسماء افعال تعریف:

اسماءافعال هغه دي چې دلالت کوي د فعل پر معنا، لکه: هَيْهَاتَ چې د «بَعُدَ» پر معنا دلالت کوي.

۲- د اسماء افعال ډولونه :

اسماء افعال پر دوه ډوله دي:
۱- د فعل امر حاضر په معنا.
۲- د فعل ماضي په معنا.

۱- اسماء افعال چې په معنا د امر حاضر وي:

دا څلور الفاظ دي: رُوَيْدَ، بَلْهَ، حَيَّهَلْ، هَلُمَّ.

۲- اسماء افعال چې په معنا د فعل ماضي وي:

دا درې الفاظ دي: هَيْهَاتَ، شَتَّانَ، سَرْعَانَ.

۳- د اسماء افعال ترکیب:

اسماء افعالو ته کتل پکار دي چې د امر په معنا دي او که د فعل ماضي، که په معنا د امر وي.

نو وروسته اسم یې ورته مفعول به جوړیږي، لکه: رُوَيْدَ زَيْدًا.

او که په معنا د فعل ماضي وي، نو وروسته اسم یې ورته فاعل جوړیږي. لکه: هَيْهَاتَ يَوْمُ الْعِيْدِ اَیْ بَعُدَ يَوْمُ الْعِيْدِ.

۴- د اسماء افعال د بناء وجه :

اسماء افعال ځکه مبني دي چې په دوی کې شبه استعمالي شته [1].

۵- اسماء اصوات

د اسماء اصوات تعريف:

اسماء اصوات کې درې خبرې دي :

۱- تعريف. ۳- ترکيب. ۴- د بناء وجه.

۱- تعريف:

اسم صوت هغه آواز دی، چې د درد، افسوس، خوشحالی، يا دغم په وخت کې د خولې څخه صادرېږي. يا په هغه سره يو حيوان ته آواز ورکړل شي او يا د حيوان آواز نقل کړل شي، لکه:
اُح. اَح. بخ. اف. غاق. نخ.

۲- د اسماء اصوات ترکيب:

اسماء اصوات په ترکيب کې هيڅ شي هم نه واقع کيږي، مګر که د هغويو حکايت وکړل شي په دغه صورت کې بيا منصوب راځي د قول لپاره مقوله جوړيږي، لکه: قَالَ زَيْدٌ غَاقِ غَاقِ.

۳- د اسماء اصوات د بناء وجه:

اسماء اصوات ځکه مبني دي چې شبه اهمالي پکې ده.

التمرين

په لاندې مثالونو کې اسماء افعال او اسماء اصوات وواياست او دا هم واضح کړئ چې په معنا د فعل ماضي دي او که په معنا د امر حاضر او ترکيب يې هم بيان کړئ:

﴿قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللهَ حَرَّمَ هٰذَا﴾ [الانعام: ۱۵۰] ﴿عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ﴾ [المائده: ۱۰۵] ﴿يَقُوْلُوْنَ وَيْكَاَنَّ اللهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَاءُ﴾ [القصص ۸۲] ﴿فَيَقُوْلُ هَاؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ﴾ [الحاقة: ۱۹] ﴿حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ﴾ ﴿هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ﴾ [المؤمنون: ۳۶] ﴿فَلَا تَقُلْ لَّهُمَا اُفٍّ﴾ [الاسراء: ۲۳] ﴿وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ اِلَيْنَا﴾ [الاحزاب ۱۹] ﴿وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ﴾ [اليوسف ۲۳] ﴿قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ﴾ [الحديد ۱۳] ﴿اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ﴾ [طه ۹۷] ﴿ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ﴾ [يونس ۲۸].

د حل کولو طریقه

﴿هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمُ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې اسمآء فعال شته او که نه؟

شاګرد: هو! یو اسم فعل «هَلُمَّ» دي.

استاذ: د فعل ماضي په معنا دي او که امر؟

شاګرد: د فعل امر په معنا دی.

استاذ: ترکیب یې بیان کړئ؟

شاګرد: هَلُمَّ اسم فعل په معنا د «ایت» امر دی، انت ضمیر پکې مستتر دی او شهداء کم د هلم لپاره مفعول دی.

۶- اسماء ظروف

په اسماء ظروف کې شلور خبري دي:

۱- تعریف.

۲- ډولونه.

۳- معنا ګاني او ترکیب

۴- د بناء وجه.

۱- د اسماء ظروف تعریف:

اسماء ظروف اسم ظرف هغه اسم ته ویل کېږي چې د زمان یا د مکان معنا ورکوي، که یې د زمان معنا ورکوله. نو ظرف زمان دی او که یې د مکان معنا ورکوله، نو ظرف مکان دی.

۲- د اسماء ظروف وېشونه:

اسماء ظروف د معنا په اعتبار په درې ډوله دي:

۱- ډول: هغه اسماء ظروف دي چې د زمان معنا ورکوي هغه دا دي: اِذْ. اِذَا. مَتٰی. کَیْفَ. اَیَّانَ. مُذ. مُنْذُ. قَطُّ. عَوْضُ. آلْآنَ. بَیْنَا. بَیْنَمَا. رَیْثَ. رَیْثَمَا. لَمَّا. کُلَّمَا.

۲- ډول: هغه اسماء ظروف دي چې د مکان معنا ورکوي دا په دوه ډوله دي:

۱- اسماء ظروف مکاني چې د اشارې لپاره هم استعمالیږي، دا ټول پنځه دي: هُنَا. هٰهُنَا.

هُنَاكَ . هُنَالِكَ . ثَمَّ .

۲- اسما . ظروف مكاني چې د اشارې لپاره نه استعماليږي هغه دادي : حَيْثُ . قُدَّامُ . خَلْفَ . فَوْقَ . تَحْتَ . عِنْدَ . وَرَاءَ . اَسْفَلَ . يَمِيْنَ . شِمَالَ . دُوْنَ او حول .

۳- **ډول** : اسماء ظروف هغه دي چې د زمان او مكان دواړو لپاره راځي ،هغه دا دي:

قَبْلُ . بَعْدُ . اَنّٰى . بين . لَدٰى . لَدُنْ . مَعَ .

اسماء ظروف د اضافت په اعتبار په دوه ډوله دي:

۱- **ډول** : هغه اسماء ظروف دي چې مفرد ته مضاف وي،هغه دا دي: عِنْدَ . لَدٰى . بَيْنَ . وَسْطَ . اَمَامَ . خَلْفَ . فَوْقَ . تَحْتَ . يَمِيْنَ . شِمَالَ . قُدَّامَ . وَرَاءَ . قَبْلُ . بَعْدُ . مَعَ .

۲- **ډول** : هغه اسماء ظروف دي چې جملې ته مضافيږي دا په دوه ډوله دي:

۱- **واجب الاضافت** : هغه دا دي: اِذْ . اِذَا . حَيْثُ . لَمَّا . كُلَّمَا .

۲- **جائز الاضافت** : هغه دا دي: يَوْمُ . حِيْنَ .

۳- معناګانې او ترکيب:

د اذ معنا:

د اِذْ معنا ده (کوم وخت / څه وخت چې) او د ماضي په زمانه پورې خاص دی . لکه: صَلَّيْتُ اِذْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ .

ژباړه: ما لمونځ وکړ کوم وخت چې لمر پټ شو او کله نا کله د استقبال د زمانې لپاره هم راځي لکه: ﴿فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ﴾ .

ترکيب : اذ په درې ډوله دی:

۱-اذ ظرفيه . ۲-اذ مفاجاتيه . ۳-اذ تعليليه .

۱- اذ ظرفيه:

اذ ظرفيه په دوه ډوله دی:

۱-اذ د ماضي په معنا . ۲-اذ د استقبال په معنا .

۱- اذ د ماضي: په معنا په ترکیب کې څلور شیان جوړیږي:

۱- مفعول فیه. ۲- مفعول به. ۳- بدل. ۴- مضاف الیه.

۲- اذ د استقبال په معنا: په ترکیب کې مفعول فیه واقع کیږي.

۲- اذ مفاجاتیه:

اذ مفاجاتیه د نابېره معنا ورکوي. نښه یې داده چې تر بَيْنَا. بَيْنَمَا وروسته راځي او پر فعل ماضي داخلیږي او په ترکیب کې هیڅ هم نه واقع کیږي.

۴- اذ تعلیلیه:

اذ تعلیلیه هغه دی چې د ماقبل علت بیان کړي، خو په ترکیب هیڅ هم نه واقع کیږي.

فائده:

د اذا معنا:

د اِذَا معنا ده (کوم وخت/څه وخت چې) او په فعل مستقبل پوري خاص دی او که پر فعل ماضي داخل شي. نو هم د مستقبل په معنا یې کوي؛ ځکه چې د شرط معنا پکې موجود ده.

د اذا ترکیب:

۱- اذا ظرفیه محضه.

-اذا ظرفیه شرطیه. ۳- اذا مفاجاتیه.

۱- اذا ظرفیه محضه:

اذا ظرفیه محضه د خپل ماقبل لپاره مفعول فیه جوړیږي. لکه: اَتَيْتُكَ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ.

۲- اذا ظرفیه شرطیه:

اذا ظرفیه شرطیه د جزاء لپاره مفعول فیه جوړیږي او شرط ته مضاف فیږي. لکه: ﴿فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيَامًا﴾.

۳- اذا مفاجاتیه:

اذا مفاجاتیه هغه ته ویل کیږي چې د نابېره معنا ورکوي، نښه یې دا ده چې همېش فاء پر داخلیږي چې کله اذا د جزاء پر ځای واقع شوې نه وي، که واقع شوې وي، نو بیا فاء نه پر داخلیږي، اسمیې جملې داخلیږي او د امام اخفش په باور په ترکیب کې هیڅ هم نه واقع کیږي، لکه:

﴿فَإِذَا هِيَ بَيضَآءُ لِلنَّاظِرِينَ﴾.

۳- د متی معنا:

د متی معنا ده (څه وخت، یا کله) او د ماضي او استقبال د دواړو زمانو لپاره راځي لکه: مَتٰی تُسَافِرُ.

ژباړه: ته کله سفر کوې.

د متی ترکیب:

متی پر دوله ده:

۱- متی استفهامیه.

۲- متی شرطیه.

د متي اسمیې مابعد ته وګورئ چې یوه جمله ده که دوې. که یوه جمله وه. نو متي استفهامیه ده مابعد ته یې وګورئ چې اسم دی او که فعل. که اسم وي نو متي د خبر مقدم لپاره مفعول فیه او مابعد یې مبتداء مؤخره جوړیږي لکه: ﴿مَتٰی نَصرُ اللّٰهِ﴾.

او که فعل وي بیا وګورئ چې فعل تام دی او که قاصر. که فعل تام وي. نو مفعول فیه جوړیږي لکه: مَتٰی ذَهَبْنَ إِلَى السِّجْنِ.

که فعل ناقص وي، نو بیا وګورئ چې خبر یې موجود دی او که نه؟

که خبر یې موجود نه وي، نو متی خپله په ترکیب کې د خبر مقدر لپاره مفعول فیه جوړیږي لکه: مَتٰی کَانَ یَوْمُ الْعِیْدِ. او که خبر یې موجود وي، نو د خبر لپاره مفعول فیه جوړیږي، لکه: مَتٰی کَانَ زَیْدٌ صَائِمًا.

او که تر متی وروسته دوې جملې وي، نو متي شرطیه ده. که شرط فعل تام وي، نو مفعول فیه ورته جوړیږي، لکه: متی تذرنی تلقنی او که فعل ناقص وي، نو بیا د خبر لپاره مفعول فیه جوړیږي. لکه: مَتٰی تَکُن مُّجْتَهِدًا تُحْتَرَمْ.

کیف معنا:

کیف معنا ده (څنګه) او د حالت د پیژندلو لپاره راځي لکه ...

ژباړه:

ته څنګه يې/ستا حال څنګه دی!

د کيف ترکيب:

کيف پر دوه ډوله دی:

۱-شرطيه. ۲-استفهاميه.

کيف شرطيه پر دوو جملو (پر شرط او جزاء) داخليږي او په ترکيب کې د جزاء لپاره حال جوړيږي پدې شرط چې جزاء د افعال تامه وو څخه وي. که جزاء د افعال قاصر څخه وي او خبر يې ذکر نه وي. نو بيا د افعال ناقصه وو لپاره خبر جوړيږي.

کيف استفهاميه ته وګورئ چې تر ده وروسته واو شته او که نه. که تر ده وروسته واو وي. نو مخکې عبارت محذوف دی په ترکيب کې حال جوړيږي او که واو نه وي. نو مابعد ته يې وګورئ چې اسم دی او که فعل. که اسم وي. نو کيف خبر مقدم او مابعد يې مبتداء مؤخره جوړيږي. لکه: كَيْفَ حَالُكَ!

او که فعل وي. نو بيا وګورئ چې فعل تام دی او که قاصر. که فعل قاصر وي. نو بيا وګورئ چې خبر يې موجود دی او که نه. که خبر يې موجود نه وي. نو کيف خبر مقدم جوړيږي. لکه: ﴿كَيْفَ كَانَ عاقبة الظالمين﴾ او که خبر يې موجود وي. نو د خبر متعلق جوړيږي. لکه: كَيْفَ كَانَ صِدِيْقًا

او که فعل تام وي. نو بيا وګورئ چې فعل ځنې مستغني دی او که نه. که فعل ځنې مستغني نه وي. نو مفعول به جوړيږي

او که فعل ځنې مستغني وي. نو کله نا کله حال او کله نا کله بيا مفعول مطلق ورته جوړيږي. خو حال اکثره وي د حال مثال لکه: ﴿كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ﴾ اى اَىَّ حَالٍ تَكْفُرُوْن بِاللّٰهِ د مفعول مطلق. مثال لکه: ﴿اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ﴾ اى اَىَّ فِعْلٍ فَعَلَ رَبُّكَ.

د ايان معنا:

د ايان معنا ده (کله) او د استقبال د زمانې لپاره راځي خو د استفهام معنا ورکوي لکه:

﴿اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ!﴾

ژباړه: د جزاء ورځ کله ده!

ايان تركيب :

ايان پر دوه ډوله دی:

۱ - ايان استفهاميه.

۲ - ايان شرطيه.

۱ - ايان استفهاميه :

د ايان مابعد ته كتل كېږي چې دوې جكملې دي او كه نه دي؟

كه دوې جملې نه وي، نو ايان استفهاميه دی، بيا يې وروسته وګورئ چې اسم دی او كه فعل، كه اسم وي، نو ايان د اسم لپاره خبر مقدم جوړيږي، پدې ډول چې ايان د ثابتٌ مقدر لپاره مفعول به جوړيږي، بيا ثابت خبر مقدم جوړيږي، لكه: ﴿اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنَ!﴾

او كه فعل وي، نو بيا د فعل لپاره مفعول فيه مقدم جوړيږي، لكه: اَيَّانَ جَلَسْتَ.

او كه دوې جملې وي، نو ايان شرطيه دی او په تركيب كې د شرط لپاره مفعول فيه جوړيږي لكه: اَيَّانَ تَجِدْنِيْ تَزُرْنِيْ.

د امس معنا :

د امس معنا ده (تيره شوې ورځ) او د تېرې شوې زمانې لپاره راځي لكه: جَاءَ زَيْدٌ اَمْسِ.

.ژباړه :

زيد (پرون) راغلی دی او دا مبني دی او كه الف لام په دخل شوی وي، بيا معرب دی .

(تفصيل يې په بدرالسعيد كې وګورئ!)

د امس تركيب :

امس په تركيب كې مفعول فيه جوړيږي، لكه: وقفت امس قبيله او كه حرف جر په داخل شوی و، نو بيا متعلق جوړيږي، لكه: ﴿فَجَعَلْنٰهَا حَصِيدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ﴾

د مذ او منذ معنا :

مُذْ، مُنْذُ دواړه اسم ظرف دي د ماضي د زمانې لپاره استعماليږي، مګر كله دوخت د شروع لپاره هم استعماليږي، لكه: مَارَاَيْتُ زَيْدًا مُذْيَوْمِ الْجُمُعَةِ اَوْ مُنْذُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ.

ژباړه :

ما زيد د جمعې د ورځې راهيسې ليدلی نه دی يعني زما د نه ليدلو لومړی مدت د جمعې ورځ ه) او كله كله د ټول مدت د بيانولو لپاره راځي، لكه: مَاصُمْتُ مُنْذِ يَوْمَيْنِ وَمُذ يَوْمَيْنِ.

ژباړه :

ما د دوو ورځو راهسې روژه نه ده نيولې دلته د ټول مدت بيان دی) ؛ځكه مطلب يې دادی چې ما د روژې نه نيولو پوره مدت دوې ورځې كېږي.

د مذ او منذ تركيب :

د مذ او منذ دوه صورتونه دي :

۱- صورت :

وروسته به يې مرفوع اسم راغلی وي، لكه: مَارَأَيْتُ مُذْيَوْمَانِ. د دې درې تركيبونه كېږي :

۱- مذ او منذ د اول المدت او يا جميع المدت په تاويل مبتداء او يومان يې خبر دی.

۲- مذ او منذ خبر او يومان مبتداء مؤخره جوړيږي.

۳- مذ او منذ مضاف او يومان د فعل محذوف «كان تامه» لپاره فاعل. فعل سره د فاعل مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه د ماقبل لپاره مفعول فيه جوړيږي.

۲- صورت :

د مذ او منذ وروسته چې جمله راشي هغه كه جمله اسميه وي او كه فعليه. لكه: مَارَأَيْتُ مُذ صُمْتَ. د دې دوه تركيبونه كېږي:

۱- مذ او منذ مضاف او (صمت) جمله يې مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه د ماقبل فعل لپاره مفعول فيه جوړيږي لكه: مَا اَكَلْتُ شَيْئًا مُنْذُ طَلَعَ الْفَجْرُ.

۱- مذ او منذ مضاف. «زمانٍ» محذوف مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه موصوف، مابعد جمله يې صفت. بيا د ماقبل فعل لپاره مفعول فيه جوړيږي. لكه: مَارَأَيْتُ مُذْ زَمَانَ صُمْتَ.

د قط معنا :

د قَطُّ معنا ده (هيڅ كله) او د ماضي د زمانې لپاره راځي يعني د ماضي منفي د عموم لپاره

راځي، لکه: مَارَاَيْتُهُ قَطُّ.

ژباړه :

ما دی هيڅ کله هم نه دی ليدلی.

ترکيب:

قط د ماقبل فعل لپاره مفعول فيه جوړيږي، لکه: مَارَاَيْتُهُ قَطُّ.

د عوض معنا:

د عوض معنا ده (هيڅ کله) عوض د استقبال د زماني لپاره راځي يعني د مستقبل د نفي د عمو

لپاره راځي، لکه: لَاتَتْرُكِ الصَّلٰوةَ عَوْضُ.

ژباړه :

تاسي لمونځ هيڅکله مه پريږدئ.

ترکيب:

عوض د ماقبل فعل لپاره مفعول فيه جوړيږي ، لکه: لَاتَتْرُكِ الصَّلٰوةَ عَوْضُ.

د الان معنا:

د اَلْآنَ معنا ده (اوس دستي) او د حال د زماني لپاره راځي.

ترکيب:

الان د ماقبل فعل لپاره مفعول فيه جوړيږي، لکه: جَاءَ زيدٌ الْآنَ.

د بينا ، بينما معنا:

د بَيْنَا او بَيْنَمَا معنا ده (هغه زمانه) او دا د اسماء ظروف زمانيه وو څخه دي، (او قات

وخت) ته مضاف شوي دي، (اوقات) بيا خپل مابعد جملې ته مضاف شوي دی ،بيا (اوقات

حذف/ ليري شو په عوض/ ځای کې يې (الف) او (ما) راوړل شو او په ځواب کې يې ډير

ځتونه (اِذْ يا اِذَا) مفاجاتيه راځي، په ترکيب کې د (اِذْ يا اِذَا) تر مدخول پوري تعلق نيسي

لکه: بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ اِذْ دَخَلَ عَلَيْنَا خَالِدٌ.

ژباړه: په هغه زمانه کې موږ ناست وو چې ناڅاپه پر موږ باندې خالد راغلی .

ترکیب:

دلته (بَيْنَمَا) مضاف شوی دی (اوقات) ته، (اوقات) بیا خپل مابعد جملې ته مضاف شوی دی ،بیا (اوقات) حذف شو په عوض کې یې (ما) راوړل شو، بیا جملې ته مضاف شو کوم چې محلي منصوب دی تر (دخل) پورې تعلق نیشي.

لکه: بَيْنَمَا نحن عند رسول الله اذ طلع علينا زجل .

ترکیب: د اذ تر مدخول پورې تعلق نیسي، بَيْنَمَا مضاف او مابعد یې مضاف الیه بیا د (طلع) لپاره مفعول فیه جوړیږي

د ریث ،ریثما معنا:

د رَيْثَ ،رَيْثَمَا معنا ده (مقدارزمانه / د وخت اندازه) او د اسماء ظروف زمانیه وو څخه دي، لکه: اِنْتَظَرْتُ رَيْثَ الصَّلٰوۃ.

ژباړه:

ما انتظار وکړ د لمانځه د وخت په اندازه (بمقدار وقت الصلوة).

ترکیب:

دا د ماقبل فعل لپاره مفعول فیه جوړیږي، لکه: اِنْتَظَرْتُ رَيْثَ الصَّلٰوۃ.

د لما معنا:

لما اسم شرط غیرجازم دی، معنا یې ده: (کله چې) او د ظرف زمان کیدلو پر بناء باندې محلاً منصوب دی. لکه: ﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا به فتحنا عليهم ابوابَ كل شئ حتى ....

ژباړه:

بیا کله چې هغوی هغه نصیحت هیر کړ چې ورته شوی و، نو موږ هر ډول سوکالی دروازې د هغو پاره پرانیستې.

ترکیب:

لَمَّا ته ورته کوریئ چې پر فعل ماضي داخل شوی دی، که پر فعل مضارع او که پر اسم ، که پر

اسم داخل شوی وي، نو په معنا د «اِلّا» حرفیه راځي، لکه: وَاِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ اى وَاِنْ كُلٌّ اِلَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ. که پر فعل مضارع داخل شوی وي، نو لما حرفیه جازمه جوړیږي. لکه: لَمَّا يَضْرِبُ او که پر فعل ماضي داخل شوی وي، نو لَمَّا ظرفیه شرطیه ده په تر کیب کې خپل شرط ته مضافیږي بیا د جزاء لپاره مفعول فیه جوړیږي. لکه: ﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا به فتحنا علیهم ابواب کل شئ حتى﴾.

د کلما معنا:

کلما هم د ظرفیه شرطیه څخه ده او په دوو جملو یعني په شرط او جزاء داخلیږي او دواړې به ماضي وي، لکه: ﴿کلما اضاء لهم مشوا فیه﴾.

ترکیب:

په ترکیب کې د جزاء لپاره مفعول فیه جوړیږي او په اصل کې د ظرفیت والا معنا په ده کې بالذات نشته. بلکې دا ما مصدریه حینیه ده او ما بعد د مصدر په تاویل اړوي بیا د ظرف والا معنا ځني تر لاسه /حاصله کیږي نو؛ ځکه په ترکیب کې مفعول فیه جوړیږي.

د حیث معنا:

د حیث معنا ده (هغه ځای) او د اسماء ظروف مکانیه وو څخه دی .لکه: اِجْلِسْ حَيْثُ زَيْدٌ جَالِسٌ.

ژباړه: کښینه پر هغه ځای چې زید ناست و.

د حیث ترکیب:

حیث همېش د جملې و طرف ته مضافیږي په ترکیب کې دوه شیان واقع کیږي:

۱-مفعول فیه،لکه: اَجْلِسْ حَيْثُ تَجْلِسُ.

۲- مفعول به ،لکه: ﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ﴾ که تر حیث وروسته (ما) راغلی.لکه: «حَيْثُمَا» نو پدې وخت کې حیثما شرطیه ده ،د خپل جزاء لپاره مفعول فیه جوړیږي .لکه: ﴿حَيْثُمَا

کنتم فولوا وجوهکم ﴾ دېته ما کافه عن الجر وايي او حيث د اضافت څخه راګرځوي

او کله لکه حرف جر پر دا خليږي ، پدې صورت کې بيا متعلق کيږي. لکه: ﴿وَ مِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾.

او کله کله د مفرد و طرفته مضاف شوی وي نو بيا عند البعض معرب دی او ما بعد يې مجرور وي او عند البعض مبني دی ما بعد يې د خبر محذوف لپاره مبتداء جوړيږي.

اسماء ظروف	معنا	ترکیب
قُدَّامُ	مخته	مفعول فيه جوړيږي
اَمَامَ	مخته	=
فَوْقَ	لوړ	=
عِنْدَ	نژدې	=
يَمِيْنُ	راسته طرف	=
اَسْفَلُ	لاندې	=
تَحْتُ	لاندې	=
خَلْفُ	شاه.	=
وَرَاءَ	شاه	=
شِمَالُ	چپه طرف	=
دُوْنَ	د قَبْلُ په معنا	=

قبل ، بعد:

قَبْلَ ،بَعْدَ دواړه د ظرف زمان او مکان دواړو لپاره راځي ،د زمان مثال لکه: اَتَيْتُ زَيْدًا قَبْلَ عَصْرِ او د مکان مثال لکه: دَارِیْ قَبْلَ دَارِکَ.

فائده : قبل ، بعد او د جهات سته ؤ دريو حالتونه دي:

په یوه حالت کې مبني دي او په دوو حالتونو کې معرب وي:

۱ - که مضاف الیه یې محذوف منوي وي، نو پدې وخت کې مبني دي، لکه: اَمَّا بَعْدُ.

۲ - که مضاف الیه یې محذوف نسیًا منسیًا وي، نوپدې وخت کې معرف دي.

۳ - که مضاف الیه یې مذکور وي، نوپدې وخت کې هم معرف دي، لکه: مِنْ قَبْلِه، و مِنْ بَعْدِه.

رُبَّ بَعْدٍ كَانَ خَيْرًا مِّنْ قَبْلٍ.

د انی معنا:

دا د ظرف زمان او مکان دواړو لپاره راځي. د زمان مثال. لکه: اَنّٰی قِتَالٌ اَیْ اَیُّ زَمَانٍ قِتَالٌ.

د مکان مثال. لکه: اَنّٰی تَجْلِسْ اَجْلِسْ

ژباړه: ته چې چېرې کښېنې زه هم هلته کښېنم.

د انی ترکیب:

انی پر دوه ډول دی: ۱ - انی شرطیه. ۲ - انی استفهامیه.

انی وروسته وګورئ چې مفرد دی. که یوه جمله او که دوې جملې دي؟

که دوې جملې وي. نو انی شرطیه ده. په ترکیب کې د شرط لپاره مفعول فیه جوړېږي، لکه: اَنّٰی تَجْلِسْ اَجْلِسْ.

او که یوه جمله او ی

ا مفرد وي. نو انی استفهامیه دی او په ترکیب کې درې شیان واقع کېږي:

۱ - که د انی څخه د ظرف زمان والا معنا مراد وه، نو په معنا د «متی» راځي او د متی غوندي ترکیب یې کېږي. انی جئتم ای متی جئتم

۲ - که د انی څخه د ظرف مکان معنا مراد وه، نو په معنا د «من این» راځي او د من این غوندي ترکیب یې کېږي. انی لک هذا ای من این لک هذا

۳ - که جملې فعلیې ته مضاف وي. نو په معنا د «کیف» راځي. بیا یې د کیف غوندي ترکیب کېږي، لکه: اَنّٰی شِئْتُمْ اَیْ کَیْفَ شِئْتُمْ.

د این معنا: اَیْنَ د ظرف مکان او مکان دواړو لپاره راځي. لکه: اَیْنَ تذهبون.

د این ترکیب:

آيَنَ پر دوه ډوله دی: ١- این استفهامیه. ٢ - این شرطیه.

١- این استفهامیه:

د این وروسته وګورئ چې یوه جمله ده او که دوې؟

که دوې جملې وي، نو این شرطیه ده په ترکیب کې د خپل شرط لپاره مفعول فیه جوړیږي، ﴿أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكُكُّمُ الْمَوْتُ﴾. این تجلس اجلس

او که یو جمله وه، نو این استفهامیه دی. بیا یې مابعد ته وګورئ چې اسم دی. که فعل؟

که اسم وي، نو خبر مقدم وروسته یې مبتداء مؤخره جوړیږي، پدې ډول چې این د ثابتٌ مقدر لپاره مفعول فیه جوړیږي بیا ثابت خبر مقدم جوړیږي، لکه: أَيْنَ أَبُوكَ.

او که فعل وي نو د فعل لپاره مفعول فیه جوړیږي، لکه: ﴿فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ﴾.

د لدا. لدن معنا:

دا د ظرف زما او مکان دواړو لپاره راځي، د زمان مثال، لکه: جئتکلدن طلعت الشمس او د مکان مثال. لکه: من لدن حکیم علیمِ.

ترکیب:

لَدی. لَدُنْ د عند هم معنا دي او د عند غوندي ترکیب یې کیږي او اکثره حرف جر پر داخل وي. لکه: ﴿وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً﴾.

د مع معنا:

مع د ظرف زمان او مکان دواړو لپاره راځي.

ترکیب:

معته وګورئ چې تنوین پر شته که نه؟

که تنوین پروي، نو د «جَمِيْعًا یا مُجْتَمِعِيْنَ» په تاویل اوړي بیا حال جوړیږي. لکه: جئنا

اوکه بې له تنوینه و یعني مضاف و، نو پدې صورت کې مفعول فیه جوړیږي. لکه:

﴿لَاتَحْزَنْ إِنَّ اللهَ مَعَنَا﴾ ای ثبت معنا.

۴- داسماء ظروف دبناء وجه:

۱- په اِذْ . اِذَا . حَيْثُ . رَيْثَ . رَيْثَمَا . لَمَّا . قَبْلُ . بَعْدُ . اَسْفَلَ . وَرَاءَ . قُدَّامَ . اَمَامَ . خَلْفَ . فَوْقَ . تَحْتَ . يَمِيْنَ . شِمَالَ او بينا . بينما كې شبه افتقاري ده.

۲- په مَتٰى . كَيْفَ . اَيَّانَ . اَنّٰى . اَيْنَ كې شبه معنوي ده،، همدارازپه اَمْسِ كې هم شبه معنوي ده.

۳- په مُذْ . مُنْذُ كې شبه وضعي ده.

۴- په قَطُّ . عَوْضُ . اَلْآنَ كې شبه جمودي ده.

۵- په بَيْنَ كې شبه اضافي ده.

۶- لَدٰى . لَدُنْ كې شبه وضعي ده.

التمرين

په لاندې مثالونو كې اسمآء ظروف د معنا په اعتبار - زمان . مكان - د اضافت په اعتبار چې جملې ته مضاف دى او كه مفرد ته او بيا جائز الاضافت دى او كه واجب الاضافت؟ او دغه راز د اسماء ظروف معناګانې هم واضح كړئ او تركيب يې هم كړئ:

﴿وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ﴾ [البقره:۳۰] ﴿وَاِذْ قُلْنَا﴾ [البقره:۳۴] ﴿وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا﴾ [البقره:۱۴] ﴿حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا﴾ [الانعام:۶۱] ﴿وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِي الْحَرْثِ اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ﴾ [الانبياء:۷۸] ﴿نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ﴾ [طٰه:۱۰۴] ﴿نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ بِهٖٓ اِذْ يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ وَاِذْ هُمْ نَجْوٰٓى﴾ [الاسراء:۴۷] ﴿فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِىَ حَيَّةٌ تَسْعٰى﴾ [طٰه:۲۰] ﴿يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ﴾ [التوبه:۹۴] ﴿بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا﴾ [ال عمران:۸] ﴿وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ اِذْ ظَّلَمْتُمْ﴾ [الزخرف:۳۹] ﴿وَتَرَى الشَّمْسَ اِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ﴾ [الكهف:۱۷] ﴿اِذَآ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ

بِرَبِّهِمْ﴾ [الروم:۳۳] ﴿وَإِنْ لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَآ إِذَا هُمْ يَسْخَطُوْنَ﴾ [التوبہ:۵۸] ﴿وَإِذْ نَجَّيْنٰكُمْ
مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ﴾ [البقرہ:۴۹] ﴿قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ اِلَى الصَّخْرَةِ﴾ [الکہف:۶۳] ﴿وَاَشْهِدُوْٓا اِذَا
تَبَايَعْتُمْ﴾ [البقرہ:۸۲] ﴿اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ
مِنْۢ بَعْدِيْ﴾ [البقرہ:۳۳] ﴿اُذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا﴾ [المائدہ:۱۱] ﴿
وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ﴾ [یٰس:۴۸] ﴿وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هُوَ﴾ [اسراء۵۰] ﴿وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا
الْفَتْحُ﴾ [السجدہ:۲۸] ﴿مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ﴾ [البقرہ:۲۱۴] ﴿ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ﴾[یونس:۱۴]
﴿مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ﴾ [القلم:۳۶] ﴿فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ﴾ [الاعراف:۸۴]
﴿وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ﴾ [ابراھم۴۵] ﴿كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ﴾ [البقرہ:س۲۸]
﴿فَكَيْفَ اِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ﴾ [العمران۲۵] ﴿فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ﴾ [المؤمن:۵] ﴿فَكَيْفَ اِذَآ
اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ﴾ [النساء:۶۲] ﴿فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ﴾ [الملک:۱۸] ﴿فَيَبْسُطُهٗ فِي السَّمَاءِ كَيْفَ
يَشَاءُ﴾ [روم۴۸] ﴿يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ﴾ [العمران۶] ﴿يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ﴾
[مائدۃ۶۴] ﴿كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا﴾ [مریم:۲۹] ﴿ يَسْـَٔلُ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ﴾
[القیٰمۃ۶] ﴿اَيَّانَ مُرْسٰىهَا﴾ [النازعات:۴۲] ﴿ يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ﴾ [الذاریات:۱۲]
﴿اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ﴾ [النمل:۶۵] ﴿فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ﴾ [القصص۱۸]
﴿يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْاَمْسِ﴾ [القصص۱۹] ﴿وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا
مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ﴾ [القصص:۸۲] ﴿آٰلْئٰنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ﴾ [یونس۹۰] ﴿فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ
يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا﴾ [الجن۹] ﴿اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ﴾ [الانفال۶۶] ﴿لَقَدْ تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ﴾
[الانعام۹۴] ﴿وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ﴾ [البقرۃ۲۳۷] ﴿قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ﴾
[القصص۲۸] ﴿فَلَمَّا نَجّٰهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ﴾ [لقمان۳۲] ﴿فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ
جَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا﴾ [ھود۷۴] ﴿فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ اِذَا هُمْ يَبْغُوْنَ﴾ [یونس:۲۳] ﴿فَلَمَّآ اَلْقَوْا

قَالَ مُوْسٰى﴾ [يونس:۸۱] ﴿كُلَّمَا اَضَاۤءَ لَهُمْ مَشَوْا فِيْهِ﴾ [البقره۲۰] ﴿كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوْا﴾ [البقره۲۵] ﴿وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ﴾ [هود:۳۸] ﴿اِنَّمَا صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ اَتٰى﴾ [طه۶۹] ﴿وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ﴾ [البقره۱۴۴] ﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ﴾ [الانعام۱۲۴] ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ﴾ [البقره۱۵۰] ﴿وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا﴾ [البقره:۳۵] ﴿فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا﴾ [البقره:۵۸] ﴿وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰى﴾ [الاحقاف:۱۲] ﴿مِّنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ﴾ [التوبه:۱۱۳] ﴿مِنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ﴾ [الانعام:۶۵] ﴿فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ [الروم:۴] ﴿مَا عِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ﴾ [النحل:۹۶] ﴿لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَاۤئِلِهِمْ﴾ [الاعراف:۱۷] ﴿وَمِنْ وَّرَاۤئِهِمْ بَرْزَخٌ﴾ [المؤمنون:۱۰۰] ﴿قَالَتْ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ﴾ [مريم:۲۰] ﴿فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ﴾ [يونس:۳۲] ﴿قُلْ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ﴾ [المؤمن:۶۲] ﴿قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ﴾ [المؤمنون:] ﴿وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ﴾ [السباء:۵۲] ﴿اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى﴾ [الدخان:۱۳] ﴿فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَاۤءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ﴾ [محمد:۱۸] ﴿وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا اَيْنَ مَا كُنْتُ﴾ [مريم:۳۱] ﴿فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَاۤءِيَ﴾ [القصص:۶۲] ﴿قِيْلَ لَهُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ﴾ [المؤمن:۷۳] ﴿هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا﴾ [المجادله:۷] ﴿اَيْنَ الْمَفَرُّ﴾ [القيامه:۱۰] ﴿اَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ﴾ [النساء۷۸] ﴿وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا﴾ [طه:۹۹] ﴿وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ﴾ [ق:۳۵] ﴿وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ﴾ [المؤمنون:۶۲] ﴿وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ﴾ [العمران۱۹۳] ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ﴾ [اعراف۸۸] ﴿وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ﴾ [توبه۱۱۹] ﴿مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ﴾.

د حل كولو طريه

﴿اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰۤئِكَةِ اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِيْفَةً﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې كلام كې څو اسماء ظروف دي؟

شاګرد: یو دی کوم چې «اذ» دی.

استاذ: «اذ» په اعتبار معنا کوم ډول دی ظرف زمان دی او که مکان؟

شاګرد: ظرف زمان دی.

استاذ: په اعتبار د اضافت کوم ډول دی مفرد ته مضاف دی او که جملې ته؟

شاګرد: جملې ته.

استاذ: واجب الاضافت دی که جائز الاضافت؟

شاګرد: واجب الاضافت دی.

استاذ: د دې لفظ د ظرف معنا بیان کړئ؟

شاګرد: او [اې پیغمبره ص] د هغه وخت یادونه وکړه چې کله ستا رب پرښتو ته ویلي وه: زه مځکه کې د یو خلیفه پیدا کوونکی یم!

استاذ: ترکیب یې بیان کړه؟

شاګرد: «اذ» چې په معنا د ماضي په ترکیب کې څلور شیان واقع کیږي: مفعول فیه.

مفعول به، بدل او مضاف الیه دلته د (اُذْکُرْ) فعل محذوف لپاره مفعول به واقع کیږي.

۷-اسماء کنایات

په اسماء کنایات کې څلور خبري دي:

۱- تعریف. ۲- تقسیمات.

۳- ترکیب. ۴- د بناء وجه.

د اسماء کنایات تعریف:

اسم کنایه هغه لفظ ته ویل کیږي چې یو شي معیین کړي د یو غرض له امله د داسي لفظ په تعبیر وکړل شي کوم چې هغه شي په دلالت کولو کې صریح نه وي، لکه: جَاءَنِی فلان، د فلان څخه مراد زید دی.

د اسماء کنایات پېژندنه:

اسماء کنایت د کنایي په اعتبار پر دوه ډوله:

١- د مبهم عدد ځخه کنایه، لکه: كَمْ، كَذَا، كَاَيِّ.

٢- د مبهم قول ځخه کنایه، لکه: كَيْتَ، زَيْتَ.

کم پر دوه ډوله دی :

١-استفهامیه. ٢-خبریه.

١- د کم استفهامیه تعریف :

کم استفهامیه هغه دی چې په هغه سره د یو شي په هکله پوښتنه وشي، لکه: كَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ ؟

د کم خبریه تعریف :

کم خبریه هغه دی چې په هغه سره د کوم شي ډېر ښوول مقصود وي، لکه : ﴿كَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ﴾ . کم مال انفقت.

د کم استفهامیه او د کم خبریه تر منځ توپیر:

١- که د کم وروسته د متکلم یا د غائب ضمیر وي، نو کم خبریه دی، لکه : ﴿كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ﴾ او که تر کم وروسته د مخاطب ضمیر وي، نو دا بیا کم استفهامیه دی . لکه: كَمْ عَبْدًا اِشْتَرَيْتَ ؟

٢- د کم استفهامیه تمییز منصوب وي، لکه : كَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ ؟

او د کم خبریهٔ تمییز مفرد مجرور یا جمع مجرور وي، لکه: كَمْ عَبْدٍ عِنْدِيْ، كَمْ عَبِيْدٍ عِنْدِيْ

٣- د اسماء کنایات ترکیب :

١- د کم استفهامیه، د کم خبریه او د کاین ترکیب :

دوی ته وګورئ چې مضاف الیه دي یا حرف جر پر داخل شوی دی او که نه دی،

که دوی مضاف الیه وي یا حرف جر پر داخل شوی وي، نو دوی محلاً مجرور دي. لکه: "بِكَمْ دِرْهَمًا اشْتَرَيْتَ" ، "غُلَامُ كَمْ رَجُلٍ عِنْدَكَ".

او که پر دوی حرف جر نه وي داخل شوی یا مضاف الیه نه وي وواقع شوي. نو مابعد ته یې وګوری چې اسم دی او که فعل؛

که اسم وي. نو بیا یې تمییز ته وګورئ چې ظرف دی او که غیرظرف؟

که ظرف وي. نو دغه اسماء د خپل تمییز سره خبر مقدم او مابعد یې مبتداء مؤخره ده. لکه: کَمْ یَوْمًا سَفَرُكَ او که غیرظرف وي، نو مبتداء او خبر جوړیږي. لکه: "کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ"

او که تردوی وروسته فعل وي. نو وګورئ چې فعل د دوی څخه اعراض کړی دی او که نه. (فعل د دوی په ضمیر یا متعلق کې عمل کړی دی او که نه؟).

که اعراض یې کړی وي. نو دغه اسمونه مبتداء او مابعد یې خبر دی. لکه: ﴿کَمْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا﴾ .

او که یې اعراض نه و کړی، بلکې دوی ته محتاج و(په دوی کې یې عمل کړی و) ، نو دوی منصوب دي او د نصب دارمدار یې پر تمییز دی(که تمییز یې ظرف وي، نو مفعول فیه جوړیږي لکه: کَمْ یَوْمًا سَافَرْتَ. که مصدر و، نو مفعول مطلق جوړیږي، لکه: کَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتَ او که د دې څخه پرته کوم بل ډول و. نو مفعول به جوړیږي، لکه: کَمْ غُلَامًا اشْتَرَیْتَ).

٢- د کذا ترکیب:

کَذَا ته وګورئ چې تر ده مخکې اسم دی او که فعل؟

که تر ده مخکې اسم وي. نو وګورئ چې ظرف دی او که غیرظرف؟

که ظرف وي. نو ظرف خبر مقدم او مابعد یې مبتداء مؤخره جوړیږي. لکه: عِنْدِيْ کَذَا و کَذَا دِرْهَمًا او که غیرظرف وي. نو مبتداء او خبر سره جوړیږي، لکه: اَلْمُسْلِمُوْنَ کَذَا و کَذَا رَجُلًا او که تر ده مخکې فعل وي، نو فعل ته وګورئ چې فعل معلوم دی او که فعل مجهول ؟

که فعل مجهول وي، نو د هغه لپاره نائب فاعل دی. لکه: أُکْرِمُ کَذَا و کَذَا رَجُلًا او که فعل معلوم وي، نو ورته وګورئ چې فاعل یې ذکر شوی دی او که نه؟

که فاعل یې ذکر شوی نه وي، نو دی یې فاعل دی، لکه: جَاءَ کَذَا و کَذَا رَجُلًا او که فاعل یې

ذكرشوي وي، نو دی منصوب دی او د نصبوالي دار مداريې پر تمييز دی، كه تمييزيې ظرف وي، نو مفعول فيه جوړيږي، لكه: صُمْتُ كَذَا كَذَا يَوْمًا. كه مصدر وي، نو مفعول مطلق جوړيږي، لكه: ضَرَبْتُ كَذَا كَذَا ضَرْبَةً د دې څخه پرته کوم بل شی وي، نومفعول به جوړيږي لكه: اِشْتَرَيْتُ كَذَا كَذَا قَلَمًا.

۳- د كيت او زيت تركيب:

كَيْتَ او زَيْتَ د جملې څخه کنایه دي هغه جمله چې د مقولې په اعتبار منصوبه وي، لكه: قَالَ زَيْدٌ كَيْتَ وَكَيْتَ. قُلْتُ لَهُ زَيْتَ وَزَيْتَ اوس نو دا د مقوله کېدلو په خاطر محلاً منصوبه شوه.

"كذا" د عمل مبهم څخه كنايه، لكه: "عَمِلَ كَذَا".

۴- د اسماء كنايات د بناء وجه:

۱- كَمْ استفهاميه؛ ځکه مبني دی چې شبه معنوي پکې ده.

۲- كم خبريه؛ ځکه مبني دی چې پر كم استفهاميه باندې حمل دی.

۳- كَاَيِّنْ؛ ځکه مبني دی چې شبه معنوي پکې ده.

۴- كَذَا د كاف مثليه او (ذَا) اسم اشاره څخه مرکب دی او په کاف مثليه کې شبه وضعي او (ذَا) اسم اشاره کې شبه افتقاري ده.

۸- مركب بنائي:

مرکب بنائي ان شاء الله په مرکباتو کې راځي.

التمرين

په لاندې مثالونو کې اسماء کنايات معلوم کړئ او كم استفهاميه او كم خبريه هم متعيين کړئ او همدارازتر کیب یې هم بیان کړئ:

﴿وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ بَعْدِ نُوْحٍ﴾ [الاسراء:۱۷] ﴿كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنَ الْقُرُوْنِ﴾ [يٰس ۳۱] ﴿كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ﴾ [القصص ۵۸] ﴿سَلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِنْ اٰيَةٍ بَيِّنَةٍ﴾

البقرة۲۵۹] ﴿قُلْ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ﴾ [المؤمنون ۱۱۲] ﴿قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ
يَوْمًا﴾ [البقرة۲۵۹] ﴿كَمْ تَرَكُوا مِنْ جَنّٰتٍ وَعُيُونٍ﴾ [الدخان ۲۵] ﴿قَالَ قَائِلٌ مِنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ﴾
[الكهف۱۹] ﴿وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ﴾ [الانبياء ۱۱] ﴿وَكَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِي
شَفَاعَتُهُمْ﴾ [النجم:۲٦] ﴿كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً﴾ [البقرة ۲۴۹] ﴿وَكَمْ أَرْسَلْنَا
مِنْ نَبِيٍّ﴾ [الزخرف:٦] ﴿كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا﴾ [الاعراف۴] ﴿كَمْ أَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ
كَرِيمٍ﴾ [الشعراء:۷] ﴿وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ﴾ [اليوسف۱۰۵] ﴿وَكَأَيِّنْ مِنْ
دَابَّةٍ لَا تَحْمِلُ رِزْقَهَا﴾ [العنكبوت۶۰] ﴿فَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنٰهَا﴾ [الحج:۴۵] ﴿وَكَأَيِّنْ مِنْ
قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِنْ قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنٰهُمْ﴾ [محمد۱۳] ﴿فَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ
مَيِّتٍ﴾ [الحج:۴۸] ﴿قُلْتُ لِزَيْدٍ كَيْتَ وَذَيْتَ﴾ ﴿مَلَكْتُ كَذَا وَكَذَا دِرْهَمًا﴾.

د حل كولو طريه

﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُونِ مِنْ بَعْدِ نُوحٍ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې ايات کې څو اسماء كنايات شته؟

شاګرد: استاد جي! يو دى كوم چې «كم» دى.

استاذ: د كم كوم ډول دى استفهاميه دى او كه كم خبريه؟

شاګرد: كم خبريه دى.

استاذ: د كم تركيب سره د قاعدې بيان كړئ؟

شاګرد: د كم وروسته فعل واقع شوى دى او مفعول به يې ذكر هم نه دى، نو دا يې مفعول به واقع شوى دى.

د معرب ډولونه :

د معرب دوه ډولونه دي:

۱- اسم متمكن چې په تركيب کې واقع شوى وي.

۲- فعل مضارع چې كله د جمع مؤنث د نون او تاكيد د نون څخه خالي وي

اسم متمكن د اعراب د طريقو په اعتبار پر شپاړس[۱۶] ډوله دی

لومړی ډول مفرد منصرف صحيح :

فائده :

د نحويانو په اصطلاح کې صحيح هغه اسم دی چې په اخير کې يې حرف علت نه وي، لکه:زيد ،زانية.

فائده:

دوهم ډول جاري مجری منصرف صحيح :

جاري مجری صحيح هغه اسم ته ويل کيږي چې په اخير کې يې حرف علت وي او ما قبل يې ساکن وي، لکه: دَلْوٌ ، ظَبْيٌ، بغدادِی.

دريم ډول جمع مکسر منصرف صحيح:

اعراب :

د دې درو سره وو اعراب لفظي حرکتي او غير تبعي راځي : رفع يې په ضمه لفظي سره، نصب يې په فتحه لفظي سره او جر يې په کسره لفظي سره، لکه : جَاءَنِيْ زَيْدٌ و دَلْوٌ و رِجَالٌ. رَأَيْتُ زَيْدًا و دَلْوًا و رِجَالًا ، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ و دَلْوٍ و رِجَالٍ .

څلورم ډول جمع مؤنث سالم :

جمع مؤنث سالم هغه جمع چې په آخير کې (الف) او (تاء) زائد وي. لکه: مُسْلِمَاتٌ .

اعراب:

د جمع سالم اعراب لفظي حرکتي او تبعي راځي: رفع يې په ضمه لفظي او نصب او جر يې په کسره لفظي سره، لکه: هُنَّ مُسْلِمَاتٌ. رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ . مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ

پنځم ډول غير منصرف :

غير منصرف هغه اسم دی چې د منع صرف (د کسره او تنوين د نه راتلو) د نهه[۹] سببونو څخه دوه سببه يا يو سبب چې د دوو قوت ولري په کې وي ، لکه: عُمَرُ ، اَحْمَدُ.

اعراب :

د غير منصرف اعراب اعراب لفظي حركتي تبعي راځي، رفع يې په ضمه لفظي سره، نصب او جريې په فتحه لفظي سره راځي، لکه : جَاءَنِیْ اَحْمَدُ، رَايتُ اَحْمَدَ، مَرَرْتُ بِاَحْمَدَ.

د غير منصرف اسباب:

د غير منصرف نهه سببونه دي:

١: عدل	٣: تانيث	٥: عجمه	٧: تركيب	٩: الف او نون زائد تان
٢: وصف	۴: معرفه	۶: جمع	٨: وزن فعل	

١- **عدل :**

عدل هغه اسم دی چې بې له صرفي قانونِه خپل اصلي قانوني شكل پرېښوول بل شكل ته اوښتل چې ماده او معنا يې پرخپل حالت پاته وي، لکه: عمرُ.

٢- **وصف :**

وصف هغه اسم دی چې پر داسي ذات دلالت وکړي چې د سوروالي صفت پکې وي، لکه: احمد.

٣- **تانيث :**

يو اسم مؤنث كول، لکه: طَلْحَةُ.

۴- **معرفه:** اسم به علم وي، لکه: محمد، زيد.

۵- **عجمه :**

کوم اسم غيرعربي به د يو معنا لپاره موضوع وي يعني علم به وي ، لکه: اِبْرَاهِيْمُ .

۶- **جمع :**

جمع هغه ده چې يو اسم په جمعيت سره متصف وي يعني جمع منتهى الجموع به وي، لکه: مَسَاجِدُ.

٧- **تركيب :**

تركيب هغه دی چې يو اسم په تركيب پوري متصف وي پدې چې هيڅ جزء به يې حرف نه

وي. لکه: معدیکرب.

۸- **وزن فعل**

وزن فعل هغه دی چې یو اسم به پر داسي وزن وي چې دغه وزن به په عربي ژبه کې په فعل پوري خاص وي. لکه: احمد.

۹- **الف او نون زائدتان:**

الف او نون به د اسم په آخیر کې راغلي وي، لکه: عُثْمَانُ او عِمْرَانُ.

د غیر منصرف نښې:

غیر منصرف، پر دوه ډوله دی: یا به علم وي او یا به غیر علم وي، د هر یوه لپاره شپږ شپږ نښې دي:.

۱- **د علم نښې:**

ګڼه	نښې	مثالونه
۱	په علم کې تانیث لفظي او معنوي وي	طَلْحَةُ ، زَيْنَبُ.
۲	د علم په آخیر کې الف نون زائدتان وي	عِمْرَانُ.
۳	علم به وزن افعل وي	اَحْمَدُ.
۴	علم به مرکب منع صرف وي	مَعْدِيْكَرِبُ.
۵	علم به عجمه وي	اِبْرَاهِيْمُ.
۶	علم به د فعل وزن وي	عُمَرُ ، زُفَرُ.

۲- د غیر علم نښې:

مثالونه	نښې	ګڼه
اَحۡمَرُ، ابيض	افعل صفتي وي	۱
سُكۡرَان.	فَعلاَنُ صفتي وي	۲
اُحَادُ، مَوۡحِدُ.	فُعَال او مَفعَلَ وزن وي	۳
حَمۡرَآءُ .	الف ممدوده تانيثي وي	۴
حُبۡلٰى .	الف مقصوره تانيثي وي	۵
مَسَاجِدُ .	جمع اقصى وي	۶

التمارين

په لاندې مثالونو کې د اسم معرب شپاړس ډولونه بيان کړئ، که غير منصرف وي، نو سببونه او نښې يې بيان کړئ او د اعراب حالت يې بيان کړئ چې حالت رفعي دی، يا نصبي او يا جري:

﴿وَحۡيًا اَوۡ مِنۡ وَّرَآءِ حِجَابٍ﴾ [الشورىٰ:۵۱] ﴿وَ لَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيۡطٰنُ، اِنَّهٗ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ﴾ [الزخرف:۶۲] ﴿وَ رَسُوۡلِهِ النَّبِيِّ الۡاُمِّيِّ﴾ [الاعراف:۱۵۸] ﴿اِنَّ لَدَيۡنَاۤ اَنۡكَالًا وَّ جَحِيۡمًا وَّ طَعَامًا ذَا غُصَّةٍ﴾ [المزمل:۱۲] ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغۡوِ فِيۡۤ اَيۡمَانِكُمۡ﴾ [البقرة:۲۲۵] ﴿وَ اِنۡ كُنۡتُمۡ مَّرۡضٰى﴾ [المائدة:۶] ﴿كُلُّ اُنۡثٰى﴾ [الرعد:۸] ﴿وَ هُوَ الۡعَلِيُّ الۡعَظِيۡمُ﴾ [البقرة:۲۵۵] ﴿فَكَانَ قَابَ قَوۡسَيۡنِ اَوۡ اَدۡنٰى﴾ [النجم:۹] ﴿لِلرِّجَالِ نَصِيۡبٌ﴾ [النساء:۷] ﴿اَنۡعَامٌ وَّ حَرۡثٌ حِجۡرٌ﴾ [الانعام:۱۳۸] ﴿وَّ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ﴾ [الجاثيه:۱۰] ﴿فِيۡهَاۤ اَنۡهٰرٌ مِّنۡ مَّآءٍ غَيۡرِ اٰسِنٍ﴾ [محمد:۱۵] ﴿وَّ كُنۡتُمۡ اَزۡوَاجًا ثَلٰثَةً﴾ [الواقعه:۷] ﴿عُرُبًا اَتۡرَابًا﴾ [الواقعه:۳۷] ﴿فَعِدَّةٌ مِّنۡ

﴿اَيَّامٍ اُخَرَ﴾ [البقره:١٨٥] ﴿لِّاَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ﴾ [الواقعه:٣٨] ﴿فِيْهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ﴾ [البينه:٣]
﴿فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ. وَّ اَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ﴾ [الغاشيه١٣-١٤] ﴿وَ اَنْزَلَ اللهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ﴾
[النساء:١١٣] ﴿وَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ [توبه٧١] ﴿مَا هُنَّ اُمَّهَاتِهِمْ﴾
[المجادلة٢] ﴿لَنْ تَمَسَّ النَّارُ اِلَّا اَيَّاماً مَّعْدُوْدَاتٍ﴾ [العمران٢٤] ﴿وَ هُمْ فِي الْغُرُفَاتِ اٰمِنُوْنَ﴾
[السباء٣٧] ﴿وَ لَاتُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ﴾ [النور٣٣] ﴿فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ﴾ [النساء:٣٤]
﴿قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ﴾ [الحديد:١٧] ﴿ثَيِّبٰتٍ عٰبِدٰتٍ﴾ [التحريم:٥] ﴿قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ
فِرْعَوْنَ﴾ [الاعراف:١٠٩] ﴿وَ نَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ. وَّ زَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ﴾ [الغاشية:١٦] ﴿مَا سَلَكَكُمْ فِيْ
سَقَرَ﴾ [المدثر:٤٢] ﴿اِنَّ فِرْعَوْنَ وَ هَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا﴾ [القصص:٨] ﴿ ﴿اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ
مُوْسٰي﴾ [القصص:٧٦] ﴿وَ اِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا﴾ [هود:٨٤] ﴿بٰلِغَ الْكَعْبَةِ﴾ [المائده:٩٥]
﴿وَ نَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنّٰظِرِيْنَ﴾ [الاعراف:١٠٨] ﴿لَاَجِدُ رِيْحَ يُوْسُفَ﴾ [يوسف:٩٥]
﴿فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ﴾ [هود:٧٢] ﴿اِسْمُهٗٓ اَحْمَدُ﴾ [الصف:٦] ﴿قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ﴾
[البقره:١٨٩] ﴿وَ لَاتَذَرُنَّ وَ دًّا وَّلَا سُوَاعاً وَّ لَا يَغُوْثَ وَ يَعُوْقَ وَنَسْراً﴾ [نوح٢٣] ﴿كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ
الشَّيٰطِيْنُ فِي الْاَرْضِ حَيْرَانَ لَهٗ﴾ [الانعام٧١] ﴿وَ لَمَّا رَجَعَ مُوْسٰى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفاً﴾
[الانعام١٥٠] ﴿اُولِيْ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ﴾ [فاطر:١] ﴿ اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ﴾
[النحل:١٢٣].

د حل کولو طريقه

﴿اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰي﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام څو اسماء معرب شته؟

شاګرد: استادجي! درې معرب (قارون. قوم. موسیٰ) شته.

استاذ: د شپاړس ډولونو څخه کوم ډول دي؟

شاګرد: موسی او قارون د عامه وو څخه پنځم ډول دي او قوم د عامه وو څخه لومړی ډول دی.

استاذ: د اعراب يې كوم حالت دی؟

شاګرد: د قارون حالت نصبي دی او د قوم او موسی حالت جري دی.

استاذ: د هر يوه تركيب بيان كړئ؟

شاګرد: قارون د انّ اسم دی او من قوم موسی د كان خبر دی.

شپږم ډول اسماء سته مكبره :

د اسماء ستة مكبره وو شمېر:

د اسماء سته مكبره لپاره ټول شپږ الفاظ دي:

(۱) اَبٌ. (۲) اَخٌ. (۳) حَمٌ. (۴) هَنٌ. (۵) فَمٌ. (۶) ذُوْمَالٍ.

د اسماء سته مكبره وو شرطونه :

د اسماء سته مكبره وو لپاره څلور شرطونه دي :

۱- مفرد به. ۲- مكبر به وي.

۳- مضاف به وي. ۴- د متكلم ياء ته به مضاف نه وي

اعراب :

د اسماء سته مكبره وو اعراب حروفي لفظي او غير تبعي راځي، رفع يې په واو لفظي سره نصب يې په الف لفظي سره او جريې په ياء لفظي سره، لكه: جَاءَنِيْ اَبُوْكَ. رَأَيْتُ اَبَاكَ. مَرَرْتُ بِأَبِيْكَ

اووم ډول مثنى.

آتم ډول كلا او كلتا چې ضمير ته مضاف وي .

نهم ډول اثنان او اثنتان .

اعراب :

د دغو درو سره وو ډولونو اعراب حروفي، لفظي او تبعي راځي. رفع يې په الف ساكن ماقبل مفتوح. نصب او جريې په ياء ساكنه ماقبل مفتوح سره دي. لكه : جَاءَ رَجُلَانِ وَكِلَاهُمَا وَاِثْنَانِ رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَاِثْنَيْنِ و مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَاِثْنَيْنِ .

لسم ډول جمع مذكر سالم .

يوولسم ډول اولو.

دوولسم ډول عشرون تا تسعون.

اعراب :

د دوی اعراب حروفي، لفظي او تبعي راځي: رفع يې په واو ساكن ماقبل مضموم، نصب او جر يې په ياء ساكنه ماقبل مكسور سره دی، لكه: جَاءَ مُسْلِمُوْنَ اُولُوْمَالٍ و عِشْرُوْنَ رَجُلًا و رَأَيْتُ مُسْلِمِيْنَ اُولِيْ مَالٍ و عِشْرِيْنَ رَجُلًا و مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ اُولِيْ مَالٍ و عِشْرِيْنَ رَجُلًا .

ديارلسم ډول اسم مقصور:

اسم مقصور هغه دی چې په آخير كې يې الف مقصوره وي، لكه: مُوْسٰى.

څلورم ډول غيرجمع مذكر سالم چې د متكلم ياء ته مضاف وي.

اعراب :

ددوی اعراب رفع يې په ضمه تقديري سره، نصب يې په فتحه تقديري سره او جر يې په كسره تقديري سره دی. لكه : جَاءَ مُوْسٰى وَغُلَامِيْ، رَأَيْتُ مُوْسٰى وَغُلَامِيْ ،مَرَرْتُ بِمُوْسٰى و غُلَامِيْ.

پنځلسم ډول منقوص.

اسم منقوص هغه اسم دی چې په آخير كې يې ياء ساكنه (غيرمتكلم) ماقبل مكسور وي،

لكه : قَاضِيْ ، حَاجِيْ ، قَارِيْ حكمت الله حقاني.

اعراب :

د اسم منقوص اعراب رفع يې په ضمه تقديري سره. نصب يې په فتحه لفظي سره او جر يې په كسره تقديري سره دی، لكه: جَاءَ الْقَاضِيْ و رَأَيْتُ الْقَاضِيَ و مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ .

شپاړسم ډول جمع مذكر سالم چې د متكلم ياء ته مضاف وي.

اعراب:

د جمع مذكر سالم اعراب رفع يې په واو تقديري سره، نصب او جر يې په ياء ماقبل مكسور سره دی. لكه : هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ و رَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ و مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ.

التمارین

﴿وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا﴾ [الكهف:۸۲] ﴿قَالَ ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ لَّكُمْ مِّنْ اَبِيْكُمْ﴾ [يوسف:۵۹] ﴿وَ اذْكُرْ اَخَا عَادٍ﴾ [الاحقاف:۲۱] ﴿اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ﴾ [الشعراء:۱۰۶] ﴿اِنَّ هٰذَآ اَخِيْ﴾ [ص:۲۳] ﴿لِيَبْلُغَ فَاهُ﴾ [الرعد:۱۴] ﴿وَاللهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ﴾ [ال عمران:۴] ﴿وَّ ذِي الْقُرْبٰى وَ الْيَتٰمٰى﴾ [البقره:۸۳] ﴿يَّتِيْمًا ذَا مَقْرَبَةٍ۝ اَوْ مِسْكِيْنًا ذَا مَتْرَبَةٍ﴾ [البلد:۱۵،۱۶] ﴿اَبَاهُمْ عِشَاءً﴾ [اليوسف۱۶] ﴿فِيْ رَحْلِ اَخِيْهِ﴾ [يوسف:۷۰] ﴿جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ﴾ [الكهف:۸۲] ﴿وَّ اَشْهِدُوْا ذَوَيْ عَدْلٍ﴾ [الطلاق:۲] ﴿فِيْهِمَا عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ﴾ [الرحمن:۶۶] ﴿وَ هَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ﴾ [البلد:۱۰] ﴿اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ وَ لِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ﴾ [البلد:۹-۸] ﴿اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوْ كِلٰهُمَا﴾ [اسراء۲۳] ﴿كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا﴾ [الكهف۳۳] ﴿رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَ اَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ﴾ [المؤمن:۱۱] ﴿اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ﴾ [المائده۱۰۶] ﴿ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ﴾ [الانعام۱۴۳] ﴿وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا﴾ [التوبه:۱۰۲] ﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا﴾ [الكهف:۱۰۳] ﴿وَ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَاءُ﴾ [التوبه:۷۱] ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ [يونس:۱۰] ﴿فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ﴾ [يوسف:۴۲] ﴿اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ﴾ [التوبه:۱۱۲] ﴿وَ الْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللهِ﴾ [التوبه:۱۱۲] ﴿اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ﴾ [الزمر:۹] ﴿اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّ ذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ﴾ [حم سجده:۴۳] ﴿شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَ اَهْلُوْنَا﴾ [الفتح:۱۱] ﴿قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا﴾ [التحريم:۵] ﴿اَلتَّقْوٰى وَاتَّقُوْنِ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ﴾ [البقره:۱۹۷] ﴿عِبَادًا لَّنَا اُولِيْ بَاْسٍ﴾ [بنی اسرائیل:۵] ﴿اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا﴾ [الانفال۶۵] ﴿كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ﴾ [المعارج:۴] ﴿فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً﴾ [الاعراف۱۴۲] ﴿وَ وٰعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً﴾ [الاعراف۱۴۲] ﴿ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا﴾ [الحاقه۳۲]

﴿لَهٗ تِسۡعٌ وَّ تِسۡعُوۡنَ نَعۡجَةً﴾ [ص٢٣] ﴿وَ جَنَی الۡجَنَّتَیۡنِ دَانٍ﴾ [الرحمٰن٥٤] ﴿وَ مَا بَیۡنَهُمَا وَ مَا تَحۡتَ الثَّرٰی﴾ [طٰه٦] ﴿وَ اَخۡرَجَ ضُحٰىهَا﴾ [النّزعات٢٩] ﴿اَوۡ بِهٖۤ اَذًی مِّنۡ رَّاۡسِهٖ فَفِدۡیَةٌ﴾ [البقرة١٩٦] ﴿وَ كُنۡتُمۡ عَلٰی شَفَا حُفۡرَةٍ مِّنَ النَّارِ﴾ [العمران١٠٣] ﴿ذٰلِكَ هُدَی اللّٰهِ یَهۡدِیۡ مَنۡ یَّشَآءُ﴾ [زمر٢٣] ﴿وَ السَّلٰمُ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الۡهُدٰی﴾ [طٰه٤٧] ﴿وَ اِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیۡ عَنِّیۡ﴾ [البقرة١٨٦] ﴿وَ اتَّخَذُوۡۤا اٰیٰتِیۡ وَ رُسُلِیۡ هُزُوًا﴾ [الكهف١٠٦] ﴿اُذۡكُرۡ نِعۡمَتِیۡ عَلَیۡكَ﴾ [المائدة١١٠] ﴿اِنَّ ابۡنِیۡ مِنۡ اَهۡلِیۡ﴾ [هود٤٥] ﴿اِنۡ اَجۡرِیَ اِلَّا عَلَی الَّذِیۡ فَطَرَنِیۡ﴾ [هود٥١] ﴿یٰقَوۡمِ هٰۤؤُلَآءِ بَنَاتِیۡ هُنَّ اَطۡهَرُ لَكُمۡ﴾ [هود٧٨] ﴿اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰی رَبِّكَ كَدۡحًا فَمُلٰقِیۡهِ﴾ [انشقاق٦] ﴿فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ ۘ یَوۡمَ یَدۡعُ الدَّاعِ اِلٰی شَیۡءٍ نُّكُرٍ﴾ [قمر٦] ﴿یٰقَوۡمَنَاۤ اَجِیۡبُوۡا دَاعِیَ اللّٰهِ﴾ [الاحقاف٣١] ﴿وَّ لِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ﴾ [الرعد٧] ﴿فَامۡسَحُوۡا بِوُجُوۡهِكُمۡ وَ اَیۡدِیۡكُمۡ﴾ [النساء٤٣] ﴿وَ لَقَدۡ اٰتَیۡنٰكَ سَبۡعًا مِّنَ الۡمَثَانِیۡ﴾ [الحجر٨٧] ﴿ثَانِیَ اثۡنَیۡنِ اِذۡ هُمَا فِی الۡغَارِ﴾ [التوبه٤٠] ﴿وَ مَاۤ اَنۡتُمۡ بِمُصۡرِخِیَّ﴾ [ابراهيم٢٢] ﴿اَلۡاٰمِرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ النَّاهُوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ﴾ [التوبه:١١٢]

د حل كولو طريقه

﴿كَانَ اَبُوۡهُمَا صَالِحًا﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې كلام څو اسماء معرب شته؟

شاګرد: استاذجي! دوه شته كوم چې ابو او صالح دي.

استاذ: د شپاړس ډولونو څخه كوم ډول دي؟

شاګرد: ابو د خاصه وو څخه لومړي دول دی او صالح د عامه وو څخه لومړی ډول دي.

استاذ: د اعراب يې كوم حالت دی؟

شاګرد: د ابو حالت رفعي دی او د صالح حالت نصبي دی.

استاذ: د هريوه تركيب بيان كړئ؟

شاګرد: ابو د كان اسم دی او صالحاً د كان خبر دی.

فعل مضارع د اعراب د طريقو په اعتبار:

فعل مضارع د اعراب د طريقو په اعتبار پر څلور ډوله ده:

۱- دا هغه مضارع ده چې مفرد صحيح وي، چې د ضمير بارز څخه خالي وي د دې اعراب رفع يې په ضمه لفظي سره ده. نصب يې په فتحه لفظي سره او جزم يې د لام کلمې په سکون سره دى.

۲- د مفرد معتل واوي او يائي اعراب: رفع يې په ضمه تقديري سره ده، نصب يې په فتحه لفظي سره او جزم يې د لام کلمې په حذف سره دى.

۳- د مفرد معتل الفي اعراب: رفع يې په ضمه تقديري سره ده، نصب يې په فتحه تقديري سره او جزم يې د لام کلمې په حذف سره دى.

۴- د فعل مضارع د هغو اوو صيغو اعراب چې نون اعرابي ور سره و، هغه که صحيح وي او که معتل، رفع يې په اثبات د نون سره ده، نصب او جزم يې په حذف نون سره دى.

د حصر وجه:

فعل مضارع به د دوو حالو څخه خالي نه وي: يا به د پنځو صيغو څخه وي او يا به د اووه صيغو څخه وي، که پنځه صيغې (يَضۡرِبُ. تَضۡرِبُ. تَضۡرِبُ. اَضۡرِبُ. نَضۡرِبُ) وي بيا د غه پنځه صيغې [...]رو حالو څخه خالي نه دي: يا به صحيح وي او يا به معتل واوي يا يائي وي او يا به معتل الفي [...] که صحيح وي، نو لومړى ډول دى اعراب يې رفع يې په ضمه لفظي سره ده. نصب يې په [...]ه لفظي سره او جزم يې د لام کلمې په سکون سره دى ،لکه: هُوَ يَضۡرِبُ. لَنۡ يَّضۡرِبَ. لَمۡ [...]رِب. که معتل واوي يا يائي وي، نو دوهم ډول دى اعراب يې رفع يې په ضمه تقديري سره [...]صب يې په فتحه لفظي سره او جزم يې د لام کلمې په حذف سره دى. لکه: هُوَ يَغۡزُوۡ و يَرۡمِىۡ. [...]يغۡزُوَ و لَنۡ يَرۡمِيَ. لَمۡ يَغۡزُ و لَمۡ يَرۡمِ او که معتل الفى وي .نو دريم ډول دى اعراب يې رفع [...]په ضمه تقديري سره ده، نصب يې په فتحه تقديري سره او جزم يې د لام کلمې په حذف سره [...]لکه: هُوَ يَرۡضٰى. لَنۡ يَّرۡضٰى. لَمۡ يَرۡضَ او که د اووه صيغو څخه وي. نو څلورم ډول دى اعراب [...]فع يې په اثبات د نون سره ده، نصب او جزم يې په حذف نون سره دى. لکه: هُمَا يَضۡرِبَانِ.

لن يضربا، لم يضربا، هم يضربون، لن يضربوا، لم يضربوا.

التمرين

په لاندې مثالونو کې د فعل مضارع ځلور ډولونه سره د اعراب بيان کړئ:

﴿لَنْ نَّصْبِرَ﴾ [البقره:٦١] ﴿وَ اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ [البقره:١٨٤] ﴿وَ لَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَاءِ﴾ [النساء:١٢٩] ﴿وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللهِ لَاتُحْصُوْهَا﴾ [النحل:٨١] ﴿يُرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ﴾ [الاعراف:١١٠] ﴿وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَ لَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾ [البقره:١٢٠] ﴿اَلَمْ تَرَ كَيْفَ﴾ [الفيل:١] ﴿يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا﴾ [التوبه:٣٢] ﴿اَفَاَنْتَ تَهْدِي الْعُمْيَ﴾ [الزخرف:٤٠] ﴿رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰي﴾ [طه:٤٥] ﴿تُرْجِيْ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِيْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ﴾ [الاحزاب:٥١] ﴿وَ لَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ﴾ [حم سجده:٣٢] ﴿اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ﴾ [القصص:١٩] ﴿يَسْعٰى۝٨وَ هُوَ يَخْشٰى﴾ [عبس:٩] ﴿وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ [البقره:٣٥] ﴿ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ وَ لْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَ لْيَطَّوَّفُوْا﴾ [الحج:٢٩] ﴿وَ لَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَ لَا تَمْشِ﴾ [لقمان:١٨] ﴿لعله يَذَّكَّرُاو يخشى﴾ [طه:٤٤] ﴿لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا﴾ [الاحزاب:٢٥].

د حل کولو طريقه

﴿لَنْ نَّصْبِرَ اَنْ تَصُوْمُوا﴾

اُستاذ: ګرانو طالبانو! په دې کلام کې څو فعل مضارع شته؟

شاګرد: استاد جي! دوې شته کوم چې (لن نصبر، تصوموا) دی.

اُستاذ: د فعل معرب څلورو ډلونو څخه کوم ډول دی؟

شاګرد: زما ګران استاذ! (لن نصبر) لومړی ډول دی او (تصوموا) څلورم ډول دی.

اُستاذ: د لومړي او څلورم ډول اعراب بيان کړئ؟

شاګرد: د لومړي ډول اعراب رفع يې په ضمه لفظي سره ده، نصب يې په فتحه لفظي سره

جزم يې په سكون سره دى او د څلورم ډول اعراب رفع يې په اثبات د نون سره ده او نصب او جزم يې په حذف د نون سره دي.

اسم په اعتبار د تعريف او تنكير پر دوه ډله دى

۱-معرفه.

۲- نكره.

۱-د معرفې تعريف:

معرفه هغه اسم دى چې د معين شي لپاره استعمال كړل شوى وي ، لكه: زَيْدٌ.

۲ - د نكرې تعريف:

نكره هغه اسم دى چې د غير معين شي لپاره استعمال كړل شي، لكه :رَجُلٌ . فَرَسٌ.

د معرفې ټول اووه ډولونه دي كوم چې په لاندې ډول دي:

۱- مضمرات، لكه: اَنَا. نَحْنُ....

۲- اعلام ، بيا عام دى كه علم محض وي، لكه: زيد ، كه كنيت، لكه: ابوحنيفة او كه لقب مشهور وي،لكه: الصديق، الفاروق.

۳- اسماء اشارات، لكه: هذا.

۴- اسماء موصولات، لكه:الذي.

۵- معرفه په نداء، لكه:يازيد.

۶- معرفه په الف لام، لكه: الرجل.

۷- د معرفه په نداء پرته په مذكوره پنځو ډولونو كې كوم يوه ته مضاف وي، لكه: غُلَامُهُ، غُلَامُ زَيْدٍ، غُلَامُ هٰذَا ،غُلَامُ الَّذِىْ عِنْدِىْ، غُلَامُ الرَّجُلِ.

التمرين

په لاندې مثالونو كې معرفه او نكره معلوم كړئ همدارا ز د معرفې ډولونه هم متعيين كړئ:

﴿لَهُمْ فِيْهَا دَارُالْخُلْدِ﴾ [حم سجده:۲۸] ﴿كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ﴾ [البقره:۶۵] ﴿وَ اَنَا اَوَّلُ

[يونس ٤٠] ﴿لا فَارِضٌ وَّ لَا بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ ذٰلِكَ﴾ [البقره:٦٨] ﴿وَ هٰذَا الْبَلَدِ
الْأَمِين﴾ [التين ٣] ﴿كُلُّ حِزْبٍ مُّحْتَضَرٌ﴾ [القمر ٢٨] ﴿ذٰلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللهِ النَّارُ﴾ [حم
السجده ٢٨] ﴿عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ﴾ [سورة الرحمن ٦٦] ﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحِ الْمُرْسَلِينَ﴾
[الشعراء ١٠٥] ﴿وَ إِلٰى عَادٍ أَخَاهُمْ هُوْدًا﴾ [هود ٥٠] ﴿وَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ [البقره ١٠]
﴿فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ﴾ [البقره ٢١٩] ﴿مُتَّكِـئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ﴾ [الدهر:١٣] ﴿رَبِّ السَّمٰوٰتِ
وَ الْأَرْضِ﴾ [الدخان ٧] ﴿أَفَغَيْرَ اللهِ تَتَّقُوْنَ﴾ [النحل ٥٢] ﴿وَ إِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ﴾ [الزخرف ١٧]
﴿أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُوْنَ﴾ [النحل ٥٩] ﴿مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَّ دَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا﴾ [النحل ٦٦]
﴿يَا إِبْلِيسُ﴾ [ص ٧٥] ﴿اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ﴾ [الكهف:١٠٤] ﴿يٰذَا الْقَرْنَيْنِ﴾ [الكهف ٨٦]
﴿هٰذَا رَحْمَةٌ﴾ [الكهف ٩٨] ﴿اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا﴾ [الاحزاب:٤١] ﴿وَ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ﴾
[الدخان ٢] ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ﴾ [الاحزاب:٤٠] ﴿مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَ مَلٰئِكَتِهِ
وَ رُسُلِهِ وَ جِبْرِيْلَ وَ مِيْكَالَ﴾ [البقرة ٩٨] ﴿فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا﴾ [الاحزاب:٣٧] ﴿إِنَّ قَارُوْنَ كَانَ
مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى﴾ [القصص ٧٦] ﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِيْ لَهَبٍ﴾ [لهب ١] ﴿اِسْمُهُ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ﴾
[العمران ٤٥] ﴿يَسْئَلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ﴾ [الكهف ٨٣] ﴿سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾
[النساء ٢٦] ﴿صُحُفِ إِبْرَاهِيْمَ وَ مُوْسٰى﴾ [الاعلى ١٩] ﴿يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ﴾ [يٰسٓ ٣٠].

د حل كولو طريقه

﴿لَهُمْ فِيْهَا دَارُ الْخُلْدِ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې كلام كې څو معرفه اسمونه شته؟

شاګرد: څلور دي كوم چې (لهم فيها دار الخلد) دي.

استاذ: د معرفې كوم ډولونه دي؟

شاګرد: لهم ضمير دى. فيها ضمير دى. دار نكره مضاف دي او الخلد معرفه باللام دى

۴- ډول اسم په اعتبار د تذكير او تانيث

اسم په اعتبار د تذکیر او تانیث پر دوه ډوله دی:

۱-مذکر.

۲-مؤنث.

۱- د مذكر تعريف:

مذکر هغه دی چې د تانيث نښه په کې نه وي، لکه: رَجُلٌ.

۲- د مؤنث تعريف:

مؤنث هغه اسم دی چې د تانيث نښې په کې وي، لکه: اِمْرَءَةٌ.

فائده:

د تانيث نښې:

د تانيث څلور نښې دي:

۱- تاء ملفوظه، لکه: طَلْحَةُ.

۲- الف مقصوره، لکه: حُبْلٰی.

۳- الف ممدوده، لکه: حَمْرَآءُ.

۴- تاء مقدره، لکه: اَرْضٌ.

مؤنث پر دوه ډوله دی:

۲- مؤنث قیاسي.

۲- مؤنث سماعي.

۱- د مؤنث قياسي تعريف:

مؤنث قیاسي هغه مؤنث ده چې د هغې لپاره کومه قاعده او قانون وي، هغه درې ډوله لري:

۱- مؤنث په تاء ظاهره، لکه: طَلْحَةُ.

۲- الف مقصوره، لکه: حُبْلٰی.

۳- الف ممدوده، لکه: حَمْرَآءُ.

۲- د مؤنث سماعي تعريف:

مؤنث سماعي هغه مؤنث ده چې د هغې لپاره کومه قاعده او قانون نه وي، بلکې یوائې د عربو څخه پر اوریدلو موقوفه وي.

د مؤنث سماعي ډولونه:

مؤنث سماعي پر دوه ډوله دی:

۱ - واجب التانيث.

۲- جائز التانيث.

۱- واجب التانيث:

واجب التانيث دې ته ویل کیږي چې مؤنث ویل واجب دي او مذکر ویل جائز نه وي، هغه پ لاندې ډول دي:

واجب التأنيث

گڼه	الفاظ
۱	دانسان ټول مکرره اعضاء پرته د ورځو، بارخوګانو، ټیکو او د ځنګلو د نومونو څخه.
۲	د ښځو صفتونه، لکه: حائض، نفاس.
۳	د نفس، نار او ارض لفظونه.
۴	د دوږخ د طبقو نومونه، لکه: جحيم، سعير....
۵	د هواګانو نومونه، لکه: صرصر، نسيم.
۶	د لمر نوم، لکه: شمس
۷	د شرابو نومونه، لکه: خمر.
۸	د جنګونو نومونه، لکه: بدر، احد....
۹	د ښځو نومونه، لکه: زينب....

۲- جائز التانيث: جائز التانيث هغه الفاظ دي چې مذکر او مؤنث دواړه ویل یې جائ وي، هغه په لاندې ډول دي:

جائز التانیث

گڼه	الفاظ
۱	د ځایونو نومونه،لکه: سنګین ،هلمند.
۲	د قبیلو نومونه لکه : قریش
۳	حروف هجاءلکه: الف ،باء ،تاء او داسې نور .
۴	حروف عامله لکه: حروف جاره.
۵	مصدر چې کله د صفت په معنا مستعمل وي لکه: زَيْدٌ عَدْلٌ.
۶	دَ فعول وزن، لکه: اِمْرَاَةٌ صَبُوْرَةٌ.
۷	د فعيل وزن، لکه: اِمْرَاَةٌ جَرِيْحٌ.
۸	اسم تفضيل چې په مِن مستعمل وي لکه: اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ.
۹	لفظ د نسبت.
۱۰	جحيم

مؤنث پر دوه ډوله ده :

۱-مؤنث حقيقي. ۲- مؤنث لفظي .

۱-د مؤنث حقيقي تعريف:

مؤنث حقيقي هغه مؤنث ده چې په مقابل کې يې حيوان مذکروي، لکه: اِمْرَأَةٌ چې په مقابل

يې رَجُلٌ دی .

۲- د مؤنث لفظي تعريف:

مؤنث لفظي هغه مؤنث ده چې په مقابل کې يې مذکر حيوان نه وي، لکه:

ظُلْمَةٌ او قُوَّةٌ.

التمرين

په لاندې مثالونو کې د مذکر او مؤنث ډولونه (قياسی، سماعی، جائز التانيث، واجب

التانيث، مؤنث حقيقي او غير حقيقي) بيان کړئ:

﴿قُوٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا﴾ [التحریم ۶] ﴿قَالَتْ اُولٰهُمْ لِاٰخِرٰهُمْ﴾ [الاعراف:۳۹] ﴿وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا فَالْمُوْرِيٰتِ قَدْحًا فَالْمُغِيْرٰتِ صُبْحًا﴾ [العادیات:۳] ﴿فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ﴾ [الحاقه ۲۱] ﴿اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾ [التکویر:۱] ﴿هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ﴾ [الاعراف:۷۳] ﴿بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ﴾ [البقرہ:۶۹] ﴿فَصَلَتِ الْعِيْرُ﴾ [یوسف:۹۴] ﴿السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌ﴾ [المزمل:۱۸] ﴿جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا﴾ [البینه:۸] ﴿بَيْضَاءَ لِلنّٰظِرِيْنَ﴾ [الاعراف:۱۰۸] ﴿فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ○ وَّاَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ﴾ [الغاشیة:۱۴] ﴿نَزْلَةً اُخْرٰى﴾ [النجم:۱۳] ﴿مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى﴾ [النجم:۱۸] ﴿وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ﴾ [الطارق:۱] ﴿مِنْ قُوَّةٍ وَّلَا نَاصِرٍ﴾ [الطارق:۱۰] ﴿يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ﴾ [الفجر:۲۷] ﴿فَكُّ رَقَبَةٍ﴾ [البلد:۱۳] ﴿اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ﴾ [الرعد:۵] ﴿وَاِلٰى مَدْيَنَ﴾ [هود:۸۴] ﴿فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾ [البقرہ:۶۰] ﴿وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ﴾ [النحل:۳۰] ﴿اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ﴾ [ابراهیم:۱۸] ﴿هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيْ﴾ [هود:۷۸] ﴿هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ○۶۳﴾ [یس:۶۳] ﴿وَالّٰٓئِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ﴾ [الطلاق:۴] ﴿اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ﴾ [الحاقه:۱۲] ﴿ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ﴾ [الحاقه:۳۱] ﴿سَاُصْلِيْهِ سَقَرَ﴾ [المدثر:۲۶] ﴿ثم جعلنا الشمس عليهِ دليلاً﴾ [فرقان۴۵] ﴿وَ جعلنا جَهَنَّمَ لِلكافرين حصيراً﴾ [اسراء۸] ﴿فَجَعَلْنَا حصيداً﴾ [یونس۲۴] ﴿وَلَمْ اَكُ بَغِيًّا﴾ [مریم۲۰] ﴿وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ﴾ [محمد۱۵] ﴿تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا﴾ [التحریم۸] ﴿فَاِنَّ الْجَحِيْمَ هِيَ الْمَاْوٰى﴾ [النزعات۳۹] ﴿وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ﴾ [الکهف۵۷] ﴿وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ﴾ [القیامة۲۹] ﴿فَتَزِلَّ قَدَمٌۢ بَعْدَ ثُبُوْتِهَا﴾ [النحل:۹۴].

د حل کولو طریقه

﴿قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو مذکر او مؤنث شته؟

شاګرد: یو مذکر کوم چې (اهل) دی، درې ضمیرونه د مذکر لپاره دي کوم چې قوا ضمیر ی، د انتم ضمیر دی او د (انفسکم او اهلیکم) ضمیرونه دي او دوه مؤنثه «انفس او نارا» دي.

استاذ: د مؤنث کوم ډولونه دي سماعي دي او که قیاسي؟

شاګرد: مؤنث سماعي دي.

استاذ: جائز التانیث دي او که یا واجب التانیث؟

شاګرد: واجب التانیث

استاذ: مؤنث لفظي دي او که حقیقي؟

شاګرد: مؤنث لفظي دي

۵- ډول اسم په اعتبار د تعداد

اسم په اعتبار د تعدد پر درې ډوله دی:

(۱) واحد. (۲) تثنیه. (۳) جمع.

۱- د واحد تعریف:

واحد هغه اسم دی چې دلالت وکړي پر یوه فرد. لکه: رَجُلٌ.

۲- د تثنیې تعریف:

مثنی هغه اسم دی چې دوه شیان وښیي، خو چې د واحد په آخیر کې یې الف یا (یاء) ماقبل مفتوح او (نون) مکسور اضافه شوی وي، لکه: رَجُلَانِ، رَجُلَیْنِ.

۳- د جمع تعریف:

جمع هغه اسم دی چې تر دوو ډېر شیان وښیي، پدې شرط چې د مفرد په آخیر کې به یې تغییر راغلی وي، دا تغییر که لفظي وي. لکه: د رَجُلٌ څخه رِجَالٌ د مُسْلِمٌ څخه مُسْلِمُوْنَ د مُسْلِمَةٌ څخه مُسْلِمَاتٌ او که تقدیري وي. لکه: فُلْكٌ د فُلْكٌ په لفظ کې په ښکاره تغییر نه دی راغلی؛ ځکه چې واحد یې هم فُلْكٌ دی، اوس نو که د فُلْكٌ څخه واحد مراد وي، نو موږ وایو چې

فُلْكٌ د قُفْلٌ پروزن دی او که جمع مراد وي. نو موږ وایو چې فُلْكٌ د اُسْدٌ پروزن دی.

فائده :

د فلک د مفرد او د جمعې د پیژندلو طریقه :

۱ – که دغه صیغې ته د مذکر ضمیر راجع شوی و، نو واحد ده او که د مؤنث ضمیر ور

راجع شوی و. نو جمع ده. لکه: ﴿حَتّٰى إِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيحٍ﴾

۲ – که یې صفت مذکر راوړل شوی و، نو واحد ده او که یې صفت مؤنث راوړل وی و. نو

جمع ده. لکه: ﴿وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ﴾ .

د جمعې وېش :

جمع په اعتبار د لفظ پر دوه ډوله ده:

۱ – جمع تکسیر.

۲ – جمع تصحیح.

د جمع مکسر تعریف:

جمع تکسیر هغه جمع ده چې د واحد شکل یې روغ نه وي، لکه: رَجُلٌ څخه رِجَالٌ او

مَسْجِدٌ څخه مَسَاجِدٌ. بیا جمع تکسیر پر دوه ډوله ده :

۱ – جمع منتهی الجموع. ۲ – جمع غیر منتهی الجموع.

۱ – د جمع منتهی الجموع تعریف:

جمع منتهی الجموع هغه جمع ده چې لومړی او دوهم حرف یې مفتوح وي او د ریم ځای ی

(الف) علامت د جمع منتهی الجموع وي، تر (الف) وروسته که یو حرف وي، نو مشدد به وي

لکه: فَرَسٌ څخه فَرَاشٌ او که وروسته یې دوه حرفه وه، یا به د یوه جنسه وي او یا به نه وي که

یوه جنسه وه. نو یو په بل کې مدغمیږي، لکه: د دَابَّةٌ څخه دَوَابُّ او که د یوه جنس څخه نه وه

نو پر لومړي حرف یې کسره وي او دوهم به پر خپل حال پاته وي، لکه: ضَارِبَةٌ څخه ضَوَارِبُ

که درې حروف وه، نو پر لومړي حرف یې کسره، دوهم ځای یاء ساکنه راځي او آخیري حرف

یې اعتبار نشته، لکه: د مضرب څخه مَضَارِيبُ. داسې جمعو ته جمع اِقصی هم وایي.

۲- د جمع غیر منتهی الجموع تعریف:

جمع غیر منتهی الجموع هغه جمع ده چې د منتهی الجموع د اوزان څخه نه وي. لکه: رِجَالٌ.

د جمع منتهی الجموع د جمع غیر منتهی الجموع اوزان:

۱- د جمع منتهی الجموع اوزان:

د جمع منتهی الجموع مشهور اوزان درې دي:

۱- فَعَالٌّ، لکه: دَوَابٌّ. ۲- مَفَاعِلُ، لکه: مَسَاجِدُ. ۳- مَفَاعِيْلُ، لکه: مَصَابِيْحُ.

۲- د جمع غیر منتهی الجموع اوزان:

د جمع منتهی الجموع د اوازن څخه پر ته نور ټول اوزان د جمع غیر منتهی الجموع دي، خو یو څو مشهور اوزان یې په لاندې ډول دي:

اوزان	موزون	اوزان	موزون
اَفْعُلٌ	اَكْلُبٌ. ۲:	فُعَلَاءُ	عُلَمَاءُ
اَفْعَالٌ	اَقْوَالٌ	اَفْعِلَاءُ	اَنْبِيَاءُ
اَفْعِلَةٌ	اَعْوِنَةٌ	فُعُوْلٌ	نُجُوْمٌ
فِعْلَةٌ	غِلْمَةٌ	فُعَّالٌ	خُدَّامٌ
فِعَالٌ	عِبَادٌ	فَعَلَةٌ	طَلَبَةٌ
فِعْلَانٌ	غِلْمَانٌ	فُعُلٌ	رُسُلٌ
فَعَلٌ	مَرَقٌ	فَعْلٰى	مَرْضٰى

د جمع تصحیح تعریف:

جمع تصحیح هغه جمع ده چې د واحد بناء یې سالمه وي، لکه: د مُسْلِمٌ څخه مُسْلِمُوْنَ او د

مُسْلِمَةٌ څخه مُسْلِمَاتٌ .

د جمع تصحيح ډولونه :

جمع تصحيح پر دوه ډوله ده:

١- جمع مذكرسالم.

٢- جمع مؤنث سالم .

١- د جمع مذكر سالم تعريف:

جمع مذكر سالم هغه جمع ده چې په حالت رفعي کې يې په آخير کې (واو) ماقبل مضموم او په حالت نصبي او جري کې يې (ياء) ساکنه ماقبل مکسور او (نون) مفتوحه راغلي وي. لکه: مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمِينَ .

٢- د جمع مؤنث سالم تعريف:

جمع مؤنث سالم هغه جمع ده چې په آخير کې يې (الف) او (تاء) زائده وي. لکه: مُسْلِمَاتٌ .

جمع په اعتبار د معنا پر دوه ډوله ده:

جمع د معنا په اعتبار پر دوه ډوله ده :

١- جمع قلت.

٢- جمع کثرت .

١- د جمع قلت تعريف :

جمع قلت هغه جمع ده چې د درو څخه تر نهه پورې عدد وښيي .

د جمع قلت اوزان پنځه دي:

اوزان	موزون	اوزان	موزون
١ : اَفْعُلٌ	اَكْلُبٌ	٣: اَفْعِلَةٌ	اَعْوِنَةٌ
٢: اَفْعَالٌ	اَقْوَال	٤: فِعْلَةٌ	غِلْمَةٌ
٥: جمع تصحيح بې الف لام	مُسْلِمُوْنَ، مُسْلِمَاتٌ	+	+

۲۔ د جمع کثرت تعریف :

جمع کثرت هغه ده چې د لسو څخه تر الی ما لانهایة پورې عدد ښیي.

۲۔ د جمع کثرت اوزان :

د جمع قلت د پنځو اوزان څخه پر ته نور ټول اوزان د جمع کثرت دي، خو لس(۱۰) اوزان يې مشهور دي :

اوزان	موزون	اوزان	موزون
۱ : فِعَالٌ	عِبَادٌ	۶ : فَعَلَةٌ	طَلَبَةٌ
۲ : فُعَلَاءُ	عُلَمَاءُ	۷ : فِعْلَانٌ	غِلْمَانٌ
۳ : اَفْعِلَاءُ	اَنْبِيَاءُ	۸ : فُعُلٌ	رُسُلٌ
۴ : فُعُوْلٌ	نُجُوْمٌ	۹ : فَعَلٌ	مَرَقٌ
۵ : فُعَّالٌ	خُدَّامٌ	۱۰ : فَعْلٰی	مَرْضٰی

التمرين

په لاندې مثالونو کې واحد، تثنيه او جمع وواياست همدارازدا هم واضح کړئ چې جمع سالم ده او که د مکسره کوم ډول ده جمع اقصی ده او غير اقصی همدارازقلت او کثرت هم بيان کړئ:

﴿اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ﴾ [الشوری:۱۵] ﴿عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ﴾ [سورة الرحمن:۶۶] ﴿مُتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ﴾ [الدهر:۱۵] ﴿وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا﴾ [العاديات:۱] ﴿مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ﴾ [النجم:۱۸] ﴿اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ﴾ [يوسف:۴۴] ﴿كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ﴾ [الممتحنه:۱۳] ﴿مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَ جِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَ قُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ﴾ [السباء:۱۳] ﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ﴾ [التوبه:۱۷] ﴿وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ﴾ [البقره:۲۸۲] ﴿هُمْ

فِيهَا خٰلِدُوْنَ﴾ [البقره:٣٩] ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ﴾ [الماعون:٤]
﴿رِجَالٌ لَّا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ﴾ [النور:٣٧] ﴿كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ اُكُلَهَا﴾ [الكهف:٣٣] ﴿فِيْهِمَا عَيْنٰنِ
تَجْرِيٰنِ﴾ [سورة الرحمن:٥٠] ﴿لَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ﴾ [البقره:٢٥] ﴿وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ
الْغَيْبِ﴾ [الانعام:٥٩] ﴿سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّ ثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ حُسُوْمًا﴾ [الحاقه:٧] ﴿فِيْهَا
كُتُبٌ قَيِّمَةٌ﴾ [البنية:٣] ﴿فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ وَّ اَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ وَّ نَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ﴾
[الغاشيه:١٥] ﴿اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ﴾ [يٰس:٨]
﴿الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ﴾ [الاحزاب:٣٥] ﴿بَعْضُهُمْ اَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ [التوبه:٧١] ﴿اَعْيُنٌ
يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ﴾ [الاعراف:١٩٥] ﴿اٰمِ الْاُنْثَيَيْنِ﴾ [الانعام:١٤٤] ﴿قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ
يَخَافُوْنَ﴾ [مائده:٢٣] ﴿قَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا﴾ [العمران:١٣] ﴿اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ
بِهَا﴾ [اعراف:١٩٥] ﴿وَلْيَاْخُذُوْا اَسْلِحَتَهُمْ﴾ [النساء:١٠٢] ﴿سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ﴾ [احزاب:١٩]
﴿اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى﴾ [الليل:٤] ﴿وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ﴾ [يوسف:٣٠] ﴿كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ
الْمَوْتٰى﴾ [البقره:٧٣] ﴿وَ تُدْلُوْا بِهَا اِلَى الْحُكَّامِ﴾ [البقره:١٨٨] ﴿يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَاءَ مِنَ
التَّعَفُّفِ﴾ [البقره:٢٧٣] ﴿كِرَامٍ بَرَرَةٍ﴾ [العبس:١٦] ﴿حُنَفَاءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ﴾ [حج:٣١] ﴿وَ
قَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ﴾ [فصلت:٢٥] ﴿وَجَاءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ﴾ [الاعراف:١١٣] ﴿وَ نَخِيْلٌ صِنْوَانٌ
وَّغَيْرُ صِنْوَانٍ﴾ [رعد:٤] ﴿مِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ﴾ [الانعام:٩٩] ﴿وَ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ
غِلْمَانٌ لَّهُمْ﴾ [الطور:٢٤] ﴿اَتَاْتُوْنَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ﴾ [الشعراء:١٦٥] ﴿فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا
اَوْ رُكْبَانًا﴾ [البقره:٢٣٩].

د حل کولو طريقه

﴿يُعَمِّرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ﴾

اُستاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې څو واحد، تثنيه او جمع شته؟

شاګرد: پدې کلام کې يو واحد شته کوم چې لفظ «الله» دی او يو ضمير د جمعي لپاره دی کوم چې د (يعمروا) ضمير دی يوه جمع (مساجد) ده.

استاذ: جمع تکسير ده او که جمع تصحيح؟

شاګرد: جمع تکسير ده.

استاذ: د جمع مکسر کوم ډول ده اقصی ده او که غير اقصی؟

شاګرد: جمع اقصی ده.

استاذ: جمع قلت ده او که کثرت.

شاګرد: جمع کثرت ده.



مرکبات

د مرکب تعريف:

مرکب هغه لفظ دی چې د دوو کلمو، يا د ډېرو کلمو څخه جوړ وي. د دوو کلمو مثال، لکه: غُلَامُ زَيْدٍ. د ډېرو کلمو مثال، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا.

د مرکباتو وېش:

مرکب پر دوه ډوله دی: ۱- : مرکب غير مفيد. ۲- : مرکب مفيد.

۱- د مرکب غير مفيد تعريف:

مرکب غيرمفيد دا دی چې خبرې کوونکی د خبرو په کولو سره چپ شي، نو مخاطب ته هيڅ خبر يا طلب حاصل نشي، لکه: غُلَامُ زَيْدٍ.

د مرکب غير مفيد قسمونه:

مرکب غيرميد پنځه ډولونه دي:

۱- مرکب اضافي. ۲- مرکب توصيفي.

۳- مرکب بنائي.

۴- مركب منع صرف.

۵- مركب صوتي.

۱- ډول مركب اضافي

د مركب اضافي تعريف :

مركب اضافي هغه دى چې دوه اسمونه پدې توګه سره يوځاى شي چې د لومړي اسم څخه تنوين ،يا قائم مقام د تنوين حذف كړل شي ،دوهم اسم يې پرځاى كښيښنودل شي ،لومړي اسم ته مضاف او دوهم اسم ته مضاف اليه ويل كېږي او مضاف اليه تل مجرور وي، لكه: غُلَامُ زَيْدٍ

د مركب اضافي نښې .

د مركب اضافي نښې پر دوه ډوله دي :

۱- لفظي نښې. ۲- معنوي نښې.

۱- لفظي نښې

۱- چې په لومړي اسم الف لام نه وي او په دوهم اسم الف لام وي، لكه: كِتَابُ الطَّهَارَةِ.

۲- چې په لومړي او دوهم اسم الف لام نه وي او په دريم اسمِ الف لام وي ،لكه: بَابُ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ.

۳- چې په لومړي، دوهم او دريم اسم الف لام نه وي او په څلوم اسم الف لام وي. لكه: بَابُ مُتَابَعَةِ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ.

۴- چې په لومړي اسم الف لام نه وي او دوهم ځاى ضمير وي. لكه: قُلُوْبُهُمْ.

۵- - چې په لومړي او دوهم اسم الف لام نه وي او ځاى ضمير وي، لكه: غَسْلَ يَدَيْهِ.

۶- چې په لومړي، دوهم او دريم اسم الف لام نه وي او ځاى ضميروي، لكه: ﴿ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ﴾.

۷- چې په لومړي اسم الف لام او تنوين نه وي او دوهم ځاى علم وي. لكه: عَبْدُ اللهِ.

۸- چې په لومړي او دوهم اسم الف لام نه وي او دريم ځاى علم وي، لكه: اِبْنُ غُلَامِ زَيْدٍ.

۹- چې په لومړي، دوهم او دريم اسم الف لام نه وي او څلوم ځای علم وي. لکه: ﴿مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ﴾.

۱۰- چې په لومړي اسم الف لام او تنوين نه وي او دوهم ځای اسم اشاره وي. لکه: ﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ﴾.

۱۱- چې په لومړي او دوهم اسم الف لام نه وي او دريم ځای اسم اشاره وي، لکه: تَزْيِينُ دِيْبَاجَةِ هٰذَا الْكِتٰبِ.

۱۲- چې په لومړي، دوهم او دريم اسم الف لام نه وي او څلورم ځای اسم اشاره وي، لکه: بَيَانُ اِعْتِبَارِ صِفَةِ هٰذَا الْكِتٰبِ.

۱۳- چې په لومړي اسم الف لام او تنوين نه وي او دوهم ځای اسم موصول وي. لکه: ﴿سُبْحٰنَ الَّذِي أَسْرٰى بِعَبْدِهِ﴾

۱۴- چې په لومړي او دوهم اسم الف لام او تنوين نه وي او دريم ځای اسم موصول وي. لکه: مِثْلَ أَيَّامِ الَّذِينَ.

۱۵- چې په لومړي اسم الف لام او تنوين نه وي او دوهم ځای اسم عدد وي. لکه: ﴿تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ﴾

۱۶- چې په لومړي او دوهم اسم الف لام او تنوين نه وي او دريم ځای اسم عدد وي . لکه: عَلٰى رَأْسِ كُلِّ مِأَةِ سَنَةٍ.

۱۷- چې په لومړي اسم الف لام او تنوين نه وي او دوهم ځای لفظ وويل شي خپله لفظ مراد وي، لکه: خَبَرُ اَنَّ. بَابُ عَلِمْتُ.

۱۸- چې په لومړي اسم الف لام او تنوين نه وي او دوهم ځای «مَنْ. مَا. اَن» راشي، لکه: ﴿جَزَآءُ مَنْ تَزَكّٰى﴾ ، مُوْتُ مَا لَا دَمَ لَهُ . بَعْدَ أَنْ أَظْفَرَكُمْ.

۱۹- چې په لومړي اسم الف لام او تنوين نه وي او دوهم ځای نکره مع التنوين راشي. لکه:

﴿وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ﴾

۲۰ - ځيني داسم الفاظ دي چې لازم الاضافت دي:

إِذْ. إِذَا. حَيْثُ. خلف. قُدَّامُ. مع. فَوْقُ. تَحْتُ. عِنْدَ. دُوْنَ. مِثْلَ. نحو. كُل. بَعْضُ. غَيْرُ. شَانُ

اذ اذا حیث قدام خلف فوق تحت عند دون مع مثل نحو کل بعض غیر شان

۲- **معنوي نښې**:

۱- د مضاف او مضاف اليه په پښتو ترجمه کې لومړی د مضاف اليه ترجمه بيا د مضاف ترجمه کول کيږي. لکه: غُلَامُ زَيْدٍ.

ژباړه: د زيد مريی.

۲- د مضاف او مضاف اليه په اردو ترجمه کې د (کا، کے، کی، کو، را، رے، ری، نا، نے، نی ...) الفاظ راځي او که چېرې مضاف په اردو کې مذکر وي، نو د (کا) لفظ راځي، لکه: ﴿رَسُولُ اللهِ﴾.

ژباړه: اللہ کا رسول او پښتو ژباړه: د الله ﷻ رسول صلی الله عليه وسلم!

که چېرې مضاف په اردو کې مؤنث وي، نو د (کی) لفظ راځي، لکه: ﴿كِتَابُ اللّٰهِ﴾.

ژباړه: اللہ کی کتاب او په پښتو ژباړه: د الله ﷻ کتاب.

که چېرې مضاف مضاف په اردو کې جمعه مذکر وي، نو د (کے) لفظ راځي، لکه: ﴿رُسُلُهُ﴾

ژباړه: اس کے رسول او په پښتو ژباړه: د هغه رسول صلی الله عليه وسلم!

که مضاف په اردو کې جمعه مؤنثه وي، نو د (کی) لفظ راځي، لکه: ﴿كُتُبُهُ﴾.

ژباړه: اس کی کتابیں او پښتو ژباړه: د هغه کتابونه.

که مصدر د مفعول و خوا ته مضاف وي، نو په اردو ترجمه کې یې د (کو) لفظ راځي، لکه:
﴿یَجُوْزُ اِجْبَارُ بِکْرٍ﴾.
ژباړه:
باکرہ کو مجبور کرنا جائز نہیں ہے و پښتو ژباړه: پېغله د هغې د اجازې پرته په زور سره یو چا ته په
اح ورکول جواز نه لري.
او که مضاف الیه ضمیر د متکلم او یا د مخاطب وي، نو د مضاف او مضاف الیه تر منځ یې
اردو ترجمه کې (را، ری، رے، کے) لفظونه راځي، لکه:
اَبُوْکَ تیرا باپ او پښتو ژباړه: ستا پلار.
اِبْنَتِي میری بیٹی او پښتو ژباړه: زما لور.
رُسُلُنَا مارے رسول او پښتو ژباړه: زموږ پیغمبران.
او که مضاف الیه ضمیر د غائب وي، یا د متکلم ضمیر وي، نو په اردو ترجمه کې یې (نا، نی
ے) لفظونه راځي، لکه: ﴿وَاخْتَارَ مُوْسٰی قَوْمَهٗ﴾.
ژباړه:
موسی نے اپنی قوم سے پسند کیے او پښتو ژباړه: موسی علیه السلام خپل قوم خوښ کړ.
ضَرَبْتُ غُلَامِيْ میں نے اپنے غلام کو مارا او پښتو ژباړه: ما خپل غلام ووهلی.

اضافت وېش:

اضافت پر دوه ډوله دی: ۱- اضافت لفظي. ۲- اضافت معنوي.

۱- د اضافت لفظي تعریف:

اضافت لفظي هغه ته ویل کېږي چې مضاف صیغه د صفت وي او خپل معمول ته مضاف وي
لکه: ضَارِبُ زَیْدٍ.

فائده : د معمول څخه مراد فاعل او مفعول به دي.

فائده : اضافت لفظي يوائې په لفظ کې د تخفيف فائده ور کوي.

۲- د اضافت معنوي تعريف :

اضافت معنوي هغه ته ويل کېږي چې مضاف صيغه د صفت نه وي ،لکه: غُلَامُ زَيْدٍ، ک

صيغه د صفت وي. نو خپل معمول ته به مضاف نه وي، لکه: کَرِيمُ بَلَدٍ او که مضاف د اسم فاعل

صيغه وي . نو بيا به د دوام او استمرار په معنا دلالت کوي،لکه: ﴿غَافِرِ الذَّنْبِ﴾.

فائده : اضافت معنوي درې ګټې لري:

۱- تخفيف. ۲- تعريف. ۳- تخصيص.

د حصر وجه :

په اضافت معنوي کې مضاف اليه ته وګورئ! که نکره وي، نو تخفيف مع التخصيص فائد

کوي، لکه: غُلَامُ رَجُلٍ او که معرفه وي، نو تخفيف مع التعريف فائده کوي، لکه : غُلَامُ زَيْدٍ

د اضافت معنوي وېش :

اضافت معنوي پر درې ډوله دی:

(۱) اضافت لامي. (۲) اضافت مني. (۳) اضافت فوي.

مضاف اليه ته وګورئ چې د مضاف له جنس څخه دی او که نه؟ که يې د جنس څخه و ن

اضافت مني دي ،لکه: خَاتَمُ الْفِضَّةِ. که يې له جنس څخه نه و ،نو ورته وګورئ چې مضاف ظر

دی او که نه ؟ که ظرف و، نو اضافت فوي دی. لکه: يَوْمُ الْجُمُعَةِ او که ظرف نه و. نو اضاف

لامي دی. لکه : غُلَامُ زَيْدٍ.

۲- ډول مرکب توصيفي

د مرکب توصيفي تعريف :

مرکب توصيفي هغه ته ويل کېږي چې د صفت او موصوف څخه جوړشوی وي. لکه

﴿اَلصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾.

د مرکب توصيفي نښې:

د مرکب توصيفي نښې پر دوه ډوله دي:

۱-لفظي نښې. ۲ – معنوي نښې.

۱- د مرکب توصيفي لفظي نښې:

۱- چې دوه اسمونه معرف باللام راشي، نو لومړی موصوف او دوهم يې صفت جوړيږي، لکه: ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾.

۲- تر علم وروسته يو يا څو اسمونه معرف باللام راشي، لکه: ﴿هُوَاللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ﴾.

۳- دوه نکره تنوين لرونکې اسمونه يوځای راشي پدې شرط چې دواړه د به صفت صيغې نه وي احترازي مثال، لکه: ﴿وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ اتفاقي مثال، لکه: ﴿عَذَابًا مُهِينًا﴾.

۴- تر نکرې وروسته مِن بيانيه راشي، لکه: ﴿عَذَابٌ من ربهم﴾.

۵- تر نکرې وروسته جمله راشي، لکه: ﴿جَنّٰتٍ تَجْرِیْ﴾.

۶- تر نکرې وروسته د «غَيْر» يا د «ذَات» لفظ راشي، لکه: ﴿إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾. صَلٰوة ذِي رُكُوعٍ.

۷- کوم اسم چې ضمير ته مضاف وي تر هغه وروسته معرف باللام، يا اسم اشاره او يا اسم موصول راشي، لکه: عَلٰى نَعَمَائِهِ الشَّامِلَةِ. ﴿مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا﴾. ﴿وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِيْ﴾

۸- دلفظ د ويلو څخه يې عالم مراد وي تر هغه وروسته معرف باللام، يا اسم اشاره او يا اسم موصول راشي، لکه: مَا اَلْكَافَّةُ. لَا اَلَّتِيْ لِنَفِيِ الْجِنْسِ. كَانَ هٰذَا تَامَّةٌ.

۹- تر اسم موصول مخکې معرف باللام راشي، لکه: ﴿هُدًى لِلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ﴾.

۱۰- تر اسم اشاره وروسته معرف باللام راشي، لکه: ﴿ذٰلِكَ الْكِتٰبُ﴾.

۱۱- چې د «اِبْنُ» لفظ د دوو علمونو ترمنځ واقع شي، نو د ماقبل عالم لپاره صفت او د مابعد

لپاره مضاف جوړيږي ،لکه: عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ.

۲- د مرکب توصيفي معنوي نښې:

د موصوف اوصفت د ترجمې کولو په وخت کې د موصوف د ترجمې مخکې لفظ (داسې) او ترمنځ يې لفظ د (کوم) په آخير کې يې لفظ د (دی) رائحي ،لکه بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ شروع کوم په نامه د الله جَلَّ جَلَالُهُ (داسې) خداي پاک (کوم) چې ډير مهربان دی او د ډير رحم والا دی.

التمرين

په لاندې مثالونو کې مرکب اضافي ووياياست، دا هم واضح کړئ چې د اضافي کوم ډول دی کومه نښه پکې ده او معنوي نښې يې هم بيان کړئ، همدا راز مرکب توصيفي سره د نښو بيان کړئ او ترجمه يې هم وکړئ:

﴿حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ﴾ [الذاريات:۲۴] ﴿بِاِخْرَاجِ الرُّسُلِ﴾ [التوبه:۱۳] ﴿مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ [الزلزال:۷] ﴿اِحْدَى ابْنَتَيَّ﴾ [القصص:۲۷] ﴿كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَارًا﴾ [البقره:۱۷] ﴿مِنْ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ﴾ [البقره:۲۷] ﴿وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهِمَ﴾ [البقره:۱۳۳] ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ﴾ [البقره:۱۴۹] ﴿حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ [البقره:۱۹۶] ﴿فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ [البقره:۲۵۳] ﴿مِلَّةَ اٰبَآءِيْ﴾ [وسف:۳۸] ﴿بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ﴾ [الفرقان:۴۸] ﴿ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ﴾ [السباء:۱۶] ﴿يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾ [الهود:۹۸] ﴿اُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ﴾ [المائده:۱] ﴿فَمَحَوْنَا اٰيَةَ الَّيْلِ وَ جَعَلْنَا اٰيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً﴾ [الاسراء۱۲] ﴿وَ نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ﴾ [ق۱۶] ﴿تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ﴾ [يونس:۱] ﴿عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ﴾ [الانسان۲۱] ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ﴾ [القمان۶] ﴿كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا﴾ [الكهف۱۰۷] ﴿اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ﴾ [الرعد۲۲] ﴿وَ مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ﴾ [القصص۳۷] ﴿وَ هُوَالَّذِىْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ﴾ [الانعام۱۶۵] ﴿يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ﴾ [يوسف۳۹] ﴿اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِيْثَاقُ الْكِتٰبِ﴾ [الاعراف۱۶۹] ﴿هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ﴾

[البقرہ:۹۴] ﴿اِنِّیْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا﴾ [البقرہ:۱۲۴] ﴿وَ الْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ﴾ [الحج:۳۵] ﴿اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْرَبِّهِمْ﴾ [البقرہ۴۶] ﴿اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَ رَافِعُكَ اِلَيَّ﴾ [العمران۵۵] ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ﴾ [العمران۱۸۵] ﴿اِنَّ اللهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَ النَّوٰى﴾ [الانعام۹۵] ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰئِكَةُ ظَالِمِيْ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا﴾ [النساء۹۷] ﴿وَ هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ لِّمَابَيْنَ يَدَيْهِ﴾ [الانعام۹۲] ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ [الفاتحه:۴] ﴿اِلَيْكَ اٰيٰت بَيِّنٰتٍ﴾ [البقرہ:۹۹] ﴿وَ لَمَّا جَاءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ﴾ [البقرہ:۱۰۱] ﴿لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ﴾ [البقرہ:۱۱۸] ﴿وَ الْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ﴾ [البقرہ:۱۶۴] ﴿ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللهِ﴾ [النساء:۷۰] ﴿مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ﴾ [الحجر:۲۸] ﴿رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ﴾ [النساء:۱] ﴿اُدْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ﴾ [البقرہ:۵۸] ﴿عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ﴾ [مریم:۳۴] ﴿تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ﴾[البقرہ:۱۳۴] ﴿الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ﴾ [البقرہ:۱۸۷] ﴿الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ﴾ [الانبياء:۴۷] ﴿اتَّخَذْتَ اِلٰـهًا غَيْرِيْ﴾ [الشعراء:۲۹] ﴿رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ﴾ [الشعراء:۱۴۳] ﴿يٰاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ﴾ [النمل:۱۸] ﴿رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ﴾ [القريش:۳] ﴿مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا﴾ [النساء:۷۵] ﴿وَ اتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللهِ﴾ [البقرہ:۲۸۱] ﴿اَوْ اِطْعٰمٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ﴾ [البلد:۱۴] ﴿قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيْرُهُمْ هٰذَا﴾ [الانبياء:۶۳] ﴿مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾ [الاعراف:۶۵].

د حل کولو طريقه

﴿حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرَاهِيم﴾

استاذ: ګرانو طالبانو ! پدې کې کلام څو مرکب اضافي شته؟

شاګرد: يو مرکب اضافي شته کوم چې (حديث ضيف) دى.

استاذ: د مرکب اضافي کومه نښه ده؟

شاګرد: پر لومړي اَو دوهم باندې الف لام نه شته او دريم ځاى علم، لکه: ابن غلام زيد.

استاذ: د دې آیات ترجمه وکړئ چې معنوي نښه یې معلومه شي؟

شاګرد: د ابراهیمؑ د معززو مېلمنو کیسه.

استاذ: معنوي علامت یې بیان کړئ؟

شاګرد: معنوي علامت یې دا ده چې د مضاف او مضاف الیه ترمنځ د (د) راغلی دی، نو ترجمه یې دا شوه: د ابراهیمؑ د معززو مېلمنو کیسه.

﴿تِلۡکَ آیاتٌ بَیِّنٰتٌ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کې کلام څو مرکب توصیفي شته؟

شاګرد: یو مرکب توصیفي شته کوم چې «آیاتٌ بَیِّنٰتٌ» دی.

استاذ: د مرکب توصیفي کومه نښه ده؟

شاګرد: دوه اسمونه نکره دي او پر دواړو تنوین راغلی دی، لکه: ﴿عذابٌ عظیمٌ﴾.

استاذ: د دې آیات ترجمه وکړئ چې معنوي نښه یې معلومه شي؟

شاګرد: دا داسې علامې دي چې په ډاګه څرګندوي د حق ښکاره کوونکې دي.

۳- دول مرکب بنائي

د مرکب بنائي تعریف:

مرکب بنائي هغه مرکب غیر مفید ته وایي چې دوه اسمونه داسې یو ځای شي چې یو ځنې جوړ شي چې دوهم اسم د کوم حرف معنا ته متضمن وي او د لومړي اسم څخه د تاء تانیث حیثیت ولري. لکه: اَحَدَ عَشَرَ څخه تر تِسۡعَةَ عَشَرَ پورې چې په اصل کې اَحَدٌ وَّ عَشَرٌ و، واو یې حذف کړ دواړه اسمونه یې یو ځای کړل یو یې ځنې جوړ کړ پرته د اثنا عشر څخه کوم چې لومړی جزء یې معرب دی.

۴- دول مرکب منع صرف

د مرکب منع الصرف تعریف:

مرکب منع الصرف هغه مرکب غیر مفید ته وایي: چې دوه اسمونه داسې یو ځای شي او یو ځنې جوړ شي چې دوهم اسم د کوم حرف معنا ته متضمن نه وي او د لومړي اسم څخه د تاء تانیث

حیثیت ولري، لکه: بَعْلَبَكُّ، لومړی جزء یې مبني پر فتحه دي او دوهم جزء یې معرب غیر منصرف دی.

۵- ډول مرکب صوتي

د مرکب صوتي تعریف:

مرکب صوتي هغه مرکب غیر مفید ته وایي چې دوه اسمونه پر داسي ډول سره یو ځای شي او یو ځنې جوړ شي چې دوهم اسم یې محض اواز وي او د کوم حرف معنا ته متضمن نه وي او د لومړي اسم ځخه د تاء تانیث حیثیت ولري، لکه: سِیْبَوَیْهِ . نِفْطَوَیْهِ . شِیْرَوَیْهِ .

التمرین

په لاندې مثالونو کې مرکب بنائي، منع الصرف او صوتي بیان کړئ:

﴿فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَیْنًا﴾ [البقرة:۶۰] ﴿إِنِّیْ رَاَیْتُ اَحَدَ عَشَرَ کَوْکَبًا﴾ [یوسف:۴] ﴿مَاتَ مَعْدِ یْکرب﴾ ﴿ذَهَبْتُ اِلٰی بَعْلَبَکَ﴾ ﴿سِیْبَوَیْهُ اِمَامُ النَّحْوِ﴾ ﴿اِشْتَرَیْتُ سَبْعَ عَشَرَ قَلَماً﴾ ﴿حَیْص بَیْص﴾ ﴿عِنْدِیْ ثَمَانِیَّةَ عَشَرَ خُبْزاً﴾ ﴿نِفْتَوَیْه﴾ ﴿ذَهَبْتُ اِلٰی حَضْرَمُوْت﴾ ﴿اَخَذْتُ اَرْبَعَ عَشَرَ کِتَاباً﴾ ﴿عَلَیْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴾ [المدثر:۳۰] ﴿وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَیْ عَشْرَةَ اَسْبَاطاً اُمَماً﴾ [الاعراف۱۶۰] ﴿اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْراً﴾ [توبه۳۶] ﴿فَانْفَجَرت مِنْهُ اثْنَتَا عَشَرَةَ عَیْناً﴾ [الاعراف۱۶۰].

د حل کولو طریقه

﴿فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشَرَةَ عَیْنًا﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې مرکب بنائي، منع الصرف او صوتي شته؟

شاګرد: پدې کلام کې یو مرکب بنائي شته کوم چې اثنتا عشرة دی.

۲- ډول مرکب مفید

مرکب پر دوه ډوله دی:

۱- جمله خبریه. ۲- جمله انشائیه.

۱ـ جمله خبريه

د جملې خبريې تعريف:

جمله خبريه د هغه ويل کېږي چې ويونکې ته رېښتنی ،يا دروا غجن ويل کيدای شي، لکه:

زَيْدٌ قَائِمٌ.

د جملې خبريې وېش:

جمله خبريه ټول څلور ډولونه دي.

۱ـ اسميه. ۲ـ فعليه.

۳ـ ظرفيه. ۴ـ شرطيه.

۱ـ جمله اسميه

د جملې اسميې تعريف:

جمله اسميه هغه ده چې د دوو مقصودي اجزاوو څخه يې لومړی جزء اسم وي او دوهم جزءيې عام دی که اسم وي، لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ، يا فعل وي، لکه: زَيْدٌ ضَرَبَ عمروا او يا جار مجرور وي، لکه: زَيْدٌ فِي الدَّارِ.

د لومړي جزء نوم مسند اليه دی او د دوهم جزء نوم مسند او خبر هم ورته ويل کيږي.

د جملې اسميې نښې:

د جملې اسميې نښې پر دوه ډوله د:

۱ـ خاص نښې. ۲ـ عام نښې.

۱ـ خاصې نښې

د جملې اسميې خاصې نښې:

۱ـ په ابتداء د کلام چې ضمير مرفوع منفصل راشي، نو دا مبتداء جوړېږي، لکه: ﴿هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾. هُمْ ضمير مرفوع منفصل مبتداءَ (اَلْمُفْلِحُوْن) يې خبر دی.

۲ـ په ابتداء د کلام کې معرف باللام اسم راشي ،وروسته يې نکره ، يا فعل او يا

جارمجرور راشي، لكه: اَلْقُرْآنُ حُجَّةٌ . اَلْبَيْعُ يَنْعَقِدُ . اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ .

۳- يو اسم مضاف وي معرف باللام ته ،وروسته يې نكره يا فعل او يا جا مجرور را شي، لكه: عَبْدُ اللهِ قائم . عَبْدُ اللهِ يَبِيْعُ . عَبدُ اللهِ فِي الدَّارِ .

۴- د اسم اشاري وروسته غير معرف باللام . يا فعل او يا جار او مجرور راشي، لكه: هٰذا رَجُلٌ . هٰذا ثَبَتَ . هٰذا فِي الدَّارِ .

۵- كله چې د علم وروسته نكره ،يا فعل او يا جار او مجرور راشي، لكه: زَيْدٌ قَائمٌ . زَيْدٌ ثَبَتَ . زَيد فِي الدَّارِ .

۶- پر حروف مشبه بالفعل چې كله (ما) كافه داخله شي . لكه : ﴿أَنَّمَا إِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾ .

۷- د افعال مدح او ذم د فاعل وروسته چې كله اسم مرفوع راشي .نو دا د محذوف مبتداء لپاره خبر جوړيږي، لكه: نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ . اَی هُوَ زَيْدٌ .

۸- چې كله جمله په ابتداء كې راشي او د حروف مصدريه وو څخه يو حرف پر داخل وي، لكه: ﴿أَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ .

فائده : حروف مصدريه څلور دي : اَنْ . اَنَّ . مَا . لَوْ .

۹- مُعرّف هميشه مبتداء وي او تعريف يې خبر جوړيږي . لكه : "اَلْكَلِمَةُ لَفْظٌ وُضِعَ لِمَعْنى مُفْرَدٍ" .

۱۰- د سَوَآءٌ لفظ چې هر ځاى راشي، نو دا خبر مقدم او مابعد يې مبتداء مؤخره جوړيږي، لكه: ﴿سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَ أَنْذَرْتَهُمْ﴾ .

۱۱- لفظ د (نحو) او (كاف مثليه) چې هر ځاى راشي ، نو دوى د محذوف مبتداء لپاره

خبر جوړیږي، لکه: نَحْوُ زَیْدٍ .اَی: مِثَالُهٗ زَیْدٌ . کَالسَّمَکِ .اَی: مثَالُهٗ کَالسَّمَکِ.

۱۲- د اَمَّا لفظ چې پر اسم مرفوع داخل شي وروسته يې (فاء) راشي، نو دغه اسم مرفوع مبتداء جوړیږي، لکه: اَمَّا الْمُقَدَّمَةُ فَفِي الْمُبَادِیَ الَّتِي.

۱۳- د جار او مجرور وروسته که نکره ، یا اسم موصول راشي، نو دا خبر مقدم او مابعد يې مبتداء مؤخره جوړیږي، لکه: فِي الدَّارِ رَجُلٌ.﴿لَه مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾.

۱۴- د (ما) او (اِلَّا) تر منځ چې کله یو اسم واقع وي، نو دا مبتداء جوړیږي، لکه: ﴿مَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ﴾.

۱۵- د (اِنْ) ، (اِلَّا) او یا د (اِن) او (لَمَّا) تر منځ چې کله اسم راشي، نو دا هم مبتداء جوړیږي، لکه: په ﴿اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰئِي﴾. ﴿وَاِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ﴾.

۱۶- چیرې چې مَن او ما استفهامیه راشي، نو دا مبتداء جوړیږي ، لکه: مَنْ اَبُوْکَ . مَا اَضْرَبَه.

۲- عامې نښې:

د جملې اسمیې عامې نښې ټولې څلور دي:

۱- د کوم ځای څخه چې خبره شروع شي هغه مبتداء ده او پر کوم ځای چې خبره پای ته ورسیږي هغه خبر دی ،، لکه: د ﴿اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾ څخه خبره شروع شوه کوم چې مبتداء ده او پر ﴿اُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ...﴾ خبره ختمه (تامه) شوه کوم چې خبر دی.

۲- د چا په اړه چې خبري کیږي هغه مبتداء ده او کومه خبره چې ده هغه خبر دی، لکه: اَلْمَدْرَسَةُ طَوِيْلَةٌ. "اَلْمَدْرَسَةُ" مبتداء ده؛ ځکه چې د طوالت خبره يې کیږي او "طَوِيْلَةٌ" يې خبر دی کوم چې د طوالت خبره ده.

۳- مبتداء همیشه ذات وي او خبر ذات مع الوصف وي، لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ. "زَيْدٌ" ذات دی کوم چې مبتداء ده او "قَائِمٌ" ذات مع الوصف دی کوم چې خبر دی.

۴- د مبتداء په پښتو ترجمه /ژباړه کې سکون راځي او د خبر په ترجمه کې په پای کې (دی، نه دی، یم، و، وو) غوندي الفاظ راځي، لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ. مَازَيْدٌ بِقَائِمٍ.

التمرين

په لاندې مثالونو کې مرکب مفید معلوم کړئ او دا هم واضح کړئ چې د مرکب مفید کوم ډول دی جمله خبریه ده او که انشائیه، که جمله خبریه وي، نو اسمیه ده او که فعلیه. که اسمیه وي. نو کومه نښه پکې ده او ترجمه یې وکړئ:

﴿مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ﴾ [الفتح:۲۹] ﴿وَ وَيْلٌ لِّلْكٰفِرِيْنَ﴾ [ابراهيم:۲] ﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ﴾ [البقرة:۱۹۷] ﴿اَلْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ﴾ [الانفال:۱] ﴿هٰذَآ اِلٰـهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوْسٰى﴾ [طه:۸۸] ﴿اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا﴾ [يوسف:۷۷] ﴿اَنَا اَخُوْكَ﴾ [يوسف:۶۹] ﴿وَ اللهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ﴾ [البقرة:۲۷۶] ﴿سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ﴾ [الزمر:۷۳] ﴿هَلْ اَنْتُمْ منتهون﴾ [المائدة:۹۱] ﴿ءَ اَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ بَنٰهَا﴾ [النازعات:۲۷] ﴿وَ الَّذِيْنَ كَسَبُوا السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍۭ بِمِثْلِهَا﴾ [يونس:۲۷] ﴿وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ﴾ [يونس:۴۷] ﴿اِنَّ هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ﴾ [طه:۲۹] ﴿اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَي اللهِ﴾ [هود:] ﴿وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَ لِقَاءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ﴾ [الاعراف:۱۴۷] ﴿فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ﴾ [النساء:۱۷۵] ﴿قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ﴾ [النساء:۱۷۶] ﴿وَاَمْرُهٗٓ اِلَى اللهِ﴾ [البقرة:۲۷۵] ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ﴾ [البقرة:۲۲۹] ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ﴾ [النساء:۲۲۳] ﴿وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ﴾ [البقرة:۱۱۵] ﴿وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَاءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ﴾ [البقرة:۴۹] ﴿وَ اِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ﴾ [المرسلات:۱۰] ﴿وَ مَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ﴾ [ال عمران:۲۲] ﴿لَكُمْ فِيْهَا

فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ﴾ [المومنون:۱۹] ﴿مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ [المومنون:۳۳] ﴿هٰذَا بُهْتَانٌ عظيمٌ﴾ [النور:۱۶] ﴿مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ﴾ [يس:۴۸] ﴿وَّمَا ذٰلِكَ عَلَي اللهِ بِعَزِيْزٍ﴾ [ابراهيم:۲۰] ﴿وَاَنْ تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ [البقره:۲۸۰] ﴿وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفاًوَّطَمْعاً﴾ [الروم۲۴] ﴿وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ [النساء۲۵].

د حل كولو طريقه

﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَعْلُوْمَاتٌ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو ! پدې كلام كې مركب مفيد شته او كه غيرمفيد، كه مفيد وي، نو كوم ډول ده خبريه ده او كه انشائيه. كه خبريه وي. نو اسميه ده او كه فعليه :

شاګرد: مركب مفيد دى خبريه اسميه ده .

استاذ: د جملې اسميې كومه نښه ده ؟

شاګرد: استاذجي ! دوهمه علامت ده يعني د معرف بالام وروسته نكره راغلې ده. لكه: القران حجة.

استاذ: تركيب او معنا يې بيان كړئ ؟

شاګرد: الحج مبتداء ده اشهر يې خبردى. معنا: حج مياشت ده داسې مياشت كوم چې معلومه ده.

۲- جمله فعليه

د جملې فعلې تعريف :

جمله فعليه هغه جمله ده. چې د دوو مقصودي اجزاءوو څخه يې لومړى جزء فعل وي او دوهم جزء يې فاعل يا نائب فاعل وي. لكه: ضَرَبَ زَيْدٌ زيد وهل كړي وه او ضُرِبَ زَيْدٌ (زيد وهل شوى دى) لومړى جزء ته يې مسند وايي كوم چې فعل هم ته ويل كيږي او دوهم جزء ته يې مسنداليه وايي كوم چې فاعل يا نائب فاعل هم ته ويل كيږي.

۱- **حکم**: په جمله فعلیه کې دوه اجزء وي: (۱) فعل. (۲) فاعل.

۲- **حکم**: فعل مسند وي او فاعل مسند الیه وي.

۳- **حکم**: فاعل همیشه مرفوع وي پرته د یو څو ځایونو څخه.

فائده:

د جملې فعلیې نښې:

د جملې فعلیې اجزاء پر دوه ډوله دي: (۱) اجزاء اصلي (۲) اجزاء زائده:

۱- د جملې فعلیې اجزاء اصلي دوه دي: (۱) فعل. (۲) فاعل.

۲- د جملې فعلیې اجزاء زائده نهه دي:

(۱) مفعول به. (۲) مفعول فیه. (۳) مفعول معه. (۴) مفعول له. (۵) مفعول مطلق. (۶) حال. (۷) تمییز (۸) مستثنی (۹) جار مجرور.

د اجزاء اصلي وو د پیژندلو طریقه:

د نحویانو په باور فعل پر درې ډوله دی:

(۱) فعل ماضي. (۲) فعل مضارع. (۳) فعل امر.

فعل ماضي او مضارع:

د فعل ماضي او مضارع هره صیغه (پرته د واحد مذکر غائب او واحدې مؤنثې څخه) فعل سره د فاعل ده. لکه: ضربتُ....

د واحد مذکر غائب او واحدې مؤنثې لپاره پنځه صورتونه دي، په څلورو صورتونو کې یې ضمیر مستتر دی او په یوه صورت کې یې فاعل اسم ظاهر دی:

۱- د مبتداء خبر وي. لکه: ﴿اَللّٰه یرزق﴾

۲- د موصوف صفت وي، لکه: ﴿تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ﴾.

۳- د موصول صله وي، لکه: ﴿اَلَّذِیْ خَلَقَكُمْ﴾.

۴- د ذوالحال حال وي، لکه: جَاءَ زَیْدٌ قَدْ رَکِبَ.

۵- د دغو څلورو ځایونو څخه پرته فاعل یې هغه وخت اسم ظاهر راځي چې اکثره وخته نه د

لام په ابتداء کې راشي، لکه: ﴿خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾.

فعل امر:

د امر حاضر ټولې صيغې فعل بافاعل دي، لکه: ﴿أَقِيمُوا الصَّلٰوةَ﴾.

۲- د اجزاء زائده وو پيژندل:

۱- د مفعول مطلق نښې:

د مفعول مطلق په پښتو ژباړه کې د (سره) لفظ راځي او د خپل فعل په معنا وي، لکه:

ضَرَبْتُ ضَرْبًا. ما وهل کړ په وهلو سره.

۲- د مفعول به نښې:

او په پښتو معنا کې يې په اخير کې د (لره) او يا د (څخه) لفظ راځي او په ځواب کې يې د (د چا څخه) لفظ راځي او داسې نور، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

ژباړه: وهل يې وکړه زيد عمرو لره

﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾

ژباړه: د الله تعالى څخه وېرېدونکي اوسئ!

۳- د مفعول فيه نښې:

د مفعول فيه نښه دا ده چې ډېر وختونه يې د پښتو ژباړې په اخير کې لفظ د (کې) راځي او په زمان کې سوال په (کله) سره کيږي. لکه: صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ.

ژباړه: ما روژه ونيوله، کله؟ د جمعې په ورځ کې.

او په مکان کې سوال په (چيرې) سره کيږي، لکه: جَلَسْتُ فِي الْمَسْجِدِ.

ژباړه: زه کښېنستم، چيرې؟ په مسجد کې.

همدارزيې دوهمه نښنه يې دا ده چيري چې تر فعل او فاعل وروسته ظرف راشي كه زمان وي او كه مكان په تركيب كې مفعول فيه واقع كيږي .

۴- د مفعول معه نښې :

دمفعول معه نښنه دا ده چې په پښتو ژباړه كې يې د (سره) لفظ راځي او دوهمه نښنه يې دا ده چې هميشه تر (واو) وروسته راځي، لكه: جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ.

ژباړه : يخ د چپونو سره راغلی .

۵- د مفعول له نښې :

دمفعول له نښنه دا ده چې د پښتو ژباړه كې يې د (لپاره) او په ځواب كې (د څه لپار) لفظ راځي. لكه: ضَرَبْتُ زَيْدًا تَأْدِيبًا .

ژباړه : ما زيد وواهه ، د څه لپاره؟ د ادب لپاره .

۶- د حال نښې :

- د حال په پښتو ژباړه كې سوال په كوم حال ،يا په كوم حالت او يا په څنګه حال سره كيږي او په ځواب كې لفظ د (په داسې حال كې) راځي ،لكه: جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا .

ژباړه : ما ته زيد راغلی، په كوم حال كې ؟ په داسې حال كې چې سپور و .

۲- تر فعل وروسته چې د اسم فاعل يا اسم مفعول صيغه نكره منصوبه راشي، نو په عمومي توګه حال واقع كيږي، پدې شرط چې د افعال ناقصه خبر نه وي، د اسم فاعل مثال، لكه: ﴿إِنَّا أَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا﴾، د اسم مفعول مثال: ﴿وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا﴾.

۳- تر فعل وروسته چې جمله اسميه راشي او په شروع كې يې واو او ضمير وي، نو دا جمله حاليه واقع كيږي، لكه: ﴿مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا﴾ .

۴- تر معرفه وروسته چې جمله فعليه راشي، نو دا هم جمله حاليّه واقع كيږي، لكه: ﴿وَإِذْ

نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْءَ الْعَذَابِ﴾ يَسُوْمُوْنَكُمْ د آلِ فِرْعَوْنَ څخه حال دی.

۷ – د تمييز نښې :

په پښتو ژباړه کې از روئي يا از اعتبار يا از حيثيت راځي، دغه ډول په کوم حيثيت سره او په کوم اعتبار سره په ځواب کې راځي ، لکه: طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا .

ژباړه: زيد د نفس په اعتبار ښه دی.

۸ – د مستثنی نښې:

مستثنی هغه اسم دی تر الا يا د الا تر اخوات وروسته راځي، لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا.

۹ – جار مجرور :

د جار مجرور تعريف او تشريح به تول په حروف عامله وو کې ان شاء الله راشي مثال يې، لکه: ﴿خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ﴾.

التمرين

په لاندې مثالونو کې جمله فعليه نښانې کړئ او دا هم واضح کړئ چې فعل د دوو صيغو څخه دی او که د دولس صيغو څخه هم دا راز يې اجزاء اصليه او غير اصليه هم وواياست:

﴿وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا﴾ [النساء:۵] ﴿اذكر الله ذكراً كثيراً﴾ [الاحزاب:۴۱] ﴿وَتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا﴾ [الطور:۱۰] ﴿وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ [النساء:۶۵] ﴿يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ [الحديد:۱۱] ﴿وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ [توبه:۱۰۹] ﴿وَلَوْ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ﴾ [يونس:۱۱] ﴿فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ﴾ [يونس:۹۵] ﴿وَجَآءُوْٓا اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ﴾ [يوسف:۱۶] ﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًا﴾ [البقرہ:۲۸۱] ﴿فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ [الاعراف۷۳] ﴿كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ﴾ [البقرہ:۲۶۱] ﴿وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ﴾ [النحل:۷۸] ﴿كَالَّتِيْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا﴾ [النحل:۹۲] ﴿اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا﴾ [القمر:۱۹] ﴿قُلِ الَّذِيْ فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ [الاسراء:۵۱] ﴿اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾ [الحج:۱۷] ﴿فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا﴾ [مريم۱۱] ﴿اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾ [الفتح۱۸] ﴿ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ

ل جَهَنَّمَ جِثِيّاً﴾ [مريم ۶۸] ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ﴾ [الاسراء:۳۱] ﴿لَمَا يَهْبِطُ
ن خَشْيَةِ اللهِ﴾ [البقره:۷۴] ﴿وَمَنْ يَّفْعَلْ ذَالِكَ ابْتِغَاءَ ﴾ [النساء ۱۱۴] ﴿وَمَا تُنْفِقُوْنَ
اِبْتِغَاءَوَجْهِ اللهِ﴾ [البقره:۲۷۲] ﴿وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَالنَّاسِ﴾ [النساء ۳۸] ﴿وَ
تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا﴾ [لقمان:۱۸] ﴿وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ﴾ [الاسراء:۴۶] ﴿وَ
تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ﴾ [البقره:۶۰] ﴿فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً﴾ [الاعراف:۱۴۲] ﴿
عُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ طَمَعًا السجده:۱۶] ﴿اُدْخُلُوٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا﴾ [النحل:۲۹]
يَاْتُوْكَ رِجَالًا﴾ [الحج:۲۷] ﴿فَرَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ ﴾ [طه:۸۶] ﴿وَاَمَّا مَنْ جَآءَكَ
سْعٰى﴾ [عبس:۸] ﴿جاء اهل المدينة يَسْتَبْشِرُوْنَ﴾ [الحجر:۶۷] ﴿يَوْمَ تَاْتِيْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ
نْ نَّفْسِهَا﴾ [النحل:۱۱۱] ﴿اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّ عَلَانِيَةً﴾
لبقره:۲۶۲] ﴿جَآءَتْهُمْ اٰيٰتُنَا مُبْصِرَةً﴾ [النمل:۱۳] ﴿وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا﴾ [النساء:۵۵] ﴿وَ
لَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾ [القصص:۷۵] ﴿وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ﴾
لحجر:۵۶] ﴿فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِلْءُالْاَرْضِ ذَهَباً﴾ [العمران ۹۱] ﴿وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ
مَدَداً﴾ [الكهف ۱۰۹] ﴿وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْباً﴾ [مريم:۴] ﴿وَاَنَّ اللهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْماً﴾
طلاق ۱۲] ﴿وَفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْناً﴾ [القمر ۱۲] ﴿وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَداً﴾ [الجن ۲۸] ﴿فَسَجَدُوْ
اِلَّا اِبْلِيْسَ﴾ [البقره ۳۴] ﴿فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِيْلاً﴾ [البقره ۲۴۹] ﴿فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا اِلَّا كَبِيْرًا﴾
الانبياء ۵۸] ﴿وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ﴾ [هود:۸۱].

د حل کولو طریقه

﴿وَاللهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو ! پدې ایات کې جمله فعلیه شته او که اسمیه، که فعلیه وي. نو اجزاء اصلي او غیر اصلي یې وو ایاست:

شاګرد: جمله فعلیه شته.

س: د دور ثخخه ده او که د دولس ثخخه؟

ج: د دور ثخخه ده.

س: په ابتداء کې ده او که په منځ؟

ج: په منځ کې ده.

س: په منځ کې کوم ځای دی؟

ج: د مبتداء وروسته واقع شوې ده.

س: اجزاء اصلي او غیر اصلي یې ووایاست؟

ج: الله. لا یهدی او ضمیر یې اجزاء اصلي دي او (القوم الظالمین) یې اجزاء زائده دي.

س: د اجزاء زائده وو ثخخه کوم ډول دي؟

ج: د اجزاء زائده وو ثخخه مفعول به دی.

۳- جمله ظرفیه

د جملې ظرفیې تعریف:

جمله ظرفیه هغې جملې ته ویل کېږي چې د دوو مقصودي اجزاء وو ثخخه یې لومړی جزء ظرف او یا جار مجرور وي. لکه: عِنْدِیْ دِرْهَمٌ. فِی الدَّارِ رَجُلٌ.

ترکیب:

د (فی الدار رجل) درې ترکیبونه کېږي.

۱- فِی الدَّارِ ظرف مستقر متعلق تر (ثَابِتٌ) پوري، خبر مقدم او ما بعد یې مبتداء مؤخر جوړیږي. مبتداء سره د خبر جمله اسمیه ده.

۲- فِی الدَّارِ ظرف مستقر متعلق تر (ثَبَتَ) فعل مقدر پوري او (رَجُلٌ) یې فاعل دی. په دغه صورة کې جمله فعلیه جوړیږي.

۳- فِی الدَّارِ ظرف قائم مقام د (ثَبَتَ) او (رَجُلٌ) یې فاعل دی په دغه صورة کې جمله ظرفیه جوړیږي.

ليکن عند الجمهور د شپږو شيانو څخه به يې پر يوه اعتماد کړی وي.

۴- جمله شرطيه

د جملې شرطيې تعريف:

جمله شرطيه هغې جملې ته ويل کيږي، لکه: ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْکَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾.

د جملې شرطيې نښې:

چې پر کومه جمله د حروف شرطيه وو څخه، يا د اسماء شرطيه وو څخه يو حرف، يا اسم شرط پر داخل شوي وي، نو ته پوه سه چې دا جمله شرطيه ده.

حروف شرطيه ټول درې دي: (۱): اِنْ. (۲): لَوْ. (۳): اَمَّا

او اسماء شرطيه دوولس دي:

(۱): مَنْ (۲): مَا. (۳): مَهْمَا. (۴): اَيْنَ. (۵): مَتٰى. (۶): اَيٌّ. (۷): اَنّٰى. (۸): اِذْمَا. (۹): حَيْثُمَا. (۱۰): كَيْفَمَا. (۱۱): لَمَّا. (۱۲): كُلَّمَا.

۲- د شرط څخه خبره شروع کيږي او پر جزاء باندې پوره کيږي. لکه: ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْکَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾

۳- د جزاء په پېښتو ژباړه کې د (نو، يا بيا، يا پس) الفاظ راځي، لکه: اِنْ كَانَتِ الشَّمْسُ طَالِعَةً فَالنَّهَارُ مَوْجُوْدٌ.

التمرين

په لاندې مثالونو کې جمله ظرفيه او شرطيه نښاني کړئ او د جملې ظرفيې ترکيب هم وکړئ:

﴿فَمَنْ جَاءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ﴾ [البقره:۲۷۵] ﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ﴾ [البقره:۱۲۱] ﴿فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ﴾ [البقره:۲۶۶] ﴿وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ﴾ [البقره:۲۰۰] ﴿وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ﴾ [البقره:۱۰۸] ﴿وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ﴾ [التوبه:۱۱۶] ﴿فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾

[البقرة-١٣] ﴿أُولٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ﴾ [البقرة:١٥٧] ﴿وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ أَنْصَارٍ﴾ [البقرة:٢٧٠] ﴿فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنْصَارِيْٓ إِلَى اللهِ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللهِ﴾ [ال عمران:٥٢] ﴿وَأُولٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ﴾ [ال عمران:٩١] ﴿وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللهَ بِهٖ عَلِيْمٌ﴾ [البقرة:٢٧٣] ﴿قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ هَلْ لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِنْ شَيْءٍ﴾ [ال عمران:١٥٤] ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللهِ﴾ [البقرة:١١٥] ﴿وَمَا تُقَدِّمُوْا لِأَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللهِ﴾ [المزمل:٢٠] ﴿أُولٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللهِ﴾ [البقرة:١٦١] ﴿وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا﴾ [البقرة:٢٦٩] ﴿فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ [البقرة:٢٧٩] ﴿وَأَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللهِ﴾ [ال عمران:١٠٧] ﴿فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ﴾ [النساء:٦] ﴿وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ﴾ [السبا:٢٢].

د حل کولو طریقه

﴿أَصَابَهَا اعصارٌ فيه نارٌ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو جملې ظرفیې شته او څو شرطیې شته؟

شاګرد: یوه جمله ظرفیه ده کوم چې «فیه نارٌ» دی.

استاذ: اعتماد یې پر څه شي کړی دی؟

شاګرد: پر موصوف باندې کوم چې «اعصارٌ» دی.

استاذ: ترکیب یې بیان کړئ؟

شاګرد: فیه جار مجرو قائم مقام د ثبت او «نار» یې فاعل دی.

﴿وَمَنْ يَّكْفُر به فاؤلئک هُمُ الخَاسِرُون﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو جملې شرطیې شته؟

شاګرد: یوه شته.

استاذ: شرط کوم دی او جزاء څه شي ده؟

شاګرد: «و من یکفربه» شرط دی او «فاولئک هم الخاسرون» يې جزاء ده.

استاذ: د شرط لفظ څه دی؟

شاګرد: مَن اسم شرط دی.

۲- جمله انشائیه

دجملې انشائيې تعريف:

جمله انشائیه هغه جمله ده، چې ويونکي ته يې څوک صادق يا کاذب نشي ويلای، يعني حکايت د محکي عنه. نه د صدق او نه د کذب احتمال لري، لکه: اِضْرِبْ.

د جملې انشائيې وېش:

جمله انشائیه پر دوه ډوله ده: ۱- انشاء طلبي. ۲- انشاء غیرطلبي.

۱- د انشاء طلبی ډولونه:

د انشاء طلبي نهه ډولونه دي:

۱- امر، لکه: اِضْرِبْ! ۲- نهي، لکه: لَاتَضْرِبْ!

۳- استفهام، لکه: هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا! ۴- تمني، لکه: لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ!

۵- ترجي، لکه: لَعَلَّ عَمْرًوا غَائِبٌ! ۶- نداء، لکه: يَاالله!

۷- عرض، لکه: اَلَاتَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا!

۸- تحضيض، لکه: هَلَّا تصَلِّيْ!

۹- دعاء، لکه: "جَزَاکَ الله خَيْرًا"!

۲- د انشاء غیرطلبی ډولونه:

د انشاء غیرطلبي اته ډولونه دي:

۱- عقود، لکه: بِعْتُ وَاشْتَرَيْتُ. ۲- قسم، لکه: وَاللهِ لَاَضْرِبَنَ زَيْدًا.

۳- تعجب، لکه: مَااَحْسَنَهٗ. ۴- افعال مدح والذم، لکه: نِعْمُ الرَّجُلُ زَيْدٌ.

۵- دافعال مقاربه وو څخه هغه افعال چې د اميد معنا پکې وي: «عَسٰى. حَرٰى. اِخْلَوْلَقَ».
لکه: عَسٰى زَيْدٌ اَن يَخْرُجَ.

۶- حمد او ثناء. لکه: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾.

۷- رُبَّ چې پر داخل وي. لکه: رُبَّ رجلٍ لقيت.

۸- کم خبريه وي. لکه: کَمْ اهلکنا.

التمرين

په لاندې مثالونو کې جمله انشائيه معلومه کړئ همدا راز انشاء طلبي او غير طلبي هم بيان کړئ:

﴿لعلّ الله يحدث بعد ذالک امراً﴾ [الطلاق:۱] ﴿يا ليتها كانت القاضية﴾ [الحاقه:۲۷] ﴿لا تمسّوها بسوء﴾ [الاعراف:۷۳] ﴿فادخلي في عبادي﴾ [الفجر:۲۹] ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ﴾ [المائدة:۹۱] ﴿اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ﴾ [مريم:۳۸] ﴿قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا﴾ [هود:۳۲] ﴿وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ۝ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ﴾ [التين:۲] ﴿ءَ اَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ﴾ [النازعات:۲۷] ﴿وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ﴾ [سورة الرحمن:۹] ﴿هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ﴾ [الغاشيه:۱] ﴿يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً﴾ [ص:۲۶] ﴿وَالْعَصْرِ۝ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ﴾ [العصر:۲] ﴿ما اصبرکم على النار﴾ [البقره:۱۷] ﴿اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ﴾ [الاعراف:۱۷۲] ﴿كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا﴾ [الاعراف:۳۱] ﴿وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ﴾ [ص:۲۱] ﴿اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى﴾ [الضحى:۶] ﴿يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا﴾ [النباء:۴۰] ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ﴾ [المزمل:۱] ﴿وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ﴾ [الانبياء:۵۷] ﴿يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ﴾ [البقرة:۱۲۲] ﴿وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ [البقره:۲۱۶] ﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ﴾ [البقرة:۹۰] ﴿وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ [يونس:۱۰] ﴿وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ﴾ [التحريم:۹] ﴿عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا﴾ [يوسف:۸۳] ﴿فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾

[الرعد:۲۴] ﴿وَ تَعَاوَنُوْا عَلَي الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَي الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ﴾ [المائده:۲]
﴿لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ [البقره:۱۸۵] ﴿قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَ انْصُرُوْآ اٰلِهَتَكُمْ﴾ [الانبياء:۶۸]
﴿اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللهُ لَكُمْ﴾ [النور۲۲] ﴿اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْا اَيْمَانَهُمْ﴾ [التوبه۱۳]
﴿قَوْمَ فِرْعَوْنَ اَلَا يَتَّقُوْنَ﴾ [الشعراء۱۱] ﴿فَقَرَّبَهٗ اِلَيْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ﴾ [الذاريات۲۷] ﴿وَ
لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ﴾ [البقره۱۶۷] ﴿رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ [الحجر:۲] ﴿سَلْ بَنِيْ
اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِنْ اٰيَةٍۢ بَيِّنَةٍ﴾ [البقره۲۱۱] ﴿وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ﴾ [الانبياء:۱۱] ﴿رُبَّ
كاسية فى الدنيا عارية فى الاخرة﴾.

د حل کولو طریقه

﴿لَعَلَّ اللهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو جملې انشائیې شته او څو شرطیې شته؟

شاګرد: یوه جمله انشائیه ده.

استاذ: د انشائیې څه علامت ده.

شاګرد: د ترجي معنا ده.

استاذ: انشاء طلبي ده او که غیر طلبي؟

شاګرد: انشاء طلبي ده.





لومړی باب د حروف عامله وو په بیان کې دی

د عاملو ویش :

عامل پر دوه ډوله دی : ۱- عامل لفظي. ۲- عامل معنوي.

۱- عامل لفظي پر درې ډوله دی :

۱- حروف عامله.

۲ - افعال عامله.

۳ - اسماء عامله.

۲ - **عامل معنوي دوه دي:** ۱ - ابتداء . ۲ - خلو.

۱ - حروف عامله :

حروف عامله په ډوله اووه دي :

۱ - حروف جاره .

۲ - حروف مشبه بالفعل.

۳ - ما و لا المشبهتان بليس.

۴ - لائي نفي جنس.

۵ - حروف نداء .

۶ - حروف نواصب.

۷ - حروف جوازم.

بيا دغه اووه پردوه ډوله دي:

لومړی ډول:

هغه دي چې په اسم کې عمل کوي .دا ټول پنځه دي:

۱ - حروف جاره .

۲ - حروف مشبه بالفعل.

۳ - ما و لا المشبهتان بليس.

۴ - لائي نفي جنس.

۵ - حروف نداء.

بيا دغه پنځه پردوه ډوله دي :

لومړی ډول:

لومړی هغه دي چې په يوه اسم کې عمل کوي دا ټول دوه دي :

۱ - حروف جار. ۲ - حروف نداء.

دوهم هغه دي چې په دوو اسمونو کې عمل کوي دا ټول درې دي :

۱- حروف مشبه بالفعل.

۲- ما و لا المشبهتان بليس.

۳- لائي نفي جنس.

دوهم ډول :

هغه دي چې په فعل کې عمل کوي دا ټول دوه دي :

۱- حروف نواصب .

۲- حروف جوازم.

۱ - ډول حروف جاره

کوم چې په يوه اسم کې عمل کوي د هغوی څخه لومړی ډول حروف جاره

د حروف جاره وو شمير:

حروف جاره ټول اوولس دي:

(۱) بَاء (۲) تَاء (۳) كاف (۴) لَام (۵) واو (۶) مُذْ (۷) مُنْذ (۸) خَلَا (۹) رُبَّ.

(۱۰) حَاشَا (۱۱) مِنْ (۱۲) عَدَا (۱۳) فِيْ (۱۴) عَنْ (۱۵) عَلٰی (۱۶) حَتّٰی (۱۷) إِلٰی.

د حروف جاره وو عمل :

حروف جاره پر اسم داخليږي جرور کوي، هغه که اسم حقيقي وي. لکه : المال لزيدٍ . يا حکمي وي، لکه: بِأَنْ تَقُوْمَ اويا تأويلي وي ، لکه: تأتِي على بمعنی فِي.

فائده :

د هر حرف جر جار مجرور څخه د ترکيب په وخت کې په ظرف سره تعبير ځنې کېږي او هر ظرف متعلق عامل غواړي، نو هر ظرف متعلق عامل غواړي. بيا که يې متعلق ذکر و. نو هغه ته ظرف لغو ويل کيږي. لکه: ﴿أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ او که متعلق مقدر وي (په لفظونو کې موجود نه وي) د افعال عامه وو څخه وي، نو هغه ته ظرف مستقر لغو ويل کيږي. لکه: المال لزيد.

فائده :

افعال عامه ټول څلور دي :

افعال عامہ چہار است: نزد اہل عقول * کون است، و ثبوت است، وجود است، وحصول

د ظرف مستقر نښې:

د ظرف مستقر ټول څلور مقامات دي، پاتې ټول ظرف لغو دي:

١- جار مجرور د مبتداء په خبر کې واقع شوی وي، لکه: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾.

٢- جار او مجرور د موصوف صفت واقع شوی وي، لکه: علی معنی فی نفسها.

٣- جار مجرور د موصول صله واقع شوی وي، لکه: ﴿الذین من قبلکم﴾.

۴- جار مجرور د ذوالحال حال واقع شوی وي، لکه: فاللفظیة منها علی نوعین.

د ظرف لغو نښې:

د ظرف لغو نښې پر دوه ډوله دي:

١- لفظي نښې.

٢- معنوي نښې.

١- لفظي نښې:

لفظي نښې يې دا دي چې د فعل، اسم فاعل، اسم مفعول، اسم تفضيل، صفت مشبه او مصدر، وروسته جارمجرور راشي، نو تر يوه پورې تعلق نيشي، لکه: ﴿خَتَمَ اللّٰهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ﴾.

٢- معنوي نښې:

معنوي نښې يې دا دي چې د جارمجرور څخه مخکې فعل، يا شبه فعل متعدد ذکر وي، نو د جار مجرور د متعلق پېژندل داسې کېږي چې د کوم لفظ د متعلق کيدلو ګمان وي، د هغه لفظ او د حرف جر په پښتو ژباړه کې لفظ د (په څه سره) په يو ځای کولو سره سوال وکړي، که په ځواب کې مجرور راغلی، نو دا متعلق صحيح دی او که نه، نو بل متعلق جوړېږي، لکه: په «جَلَسْتُ وَكَتَبْتُ بِالْقَلَمِ» کې که سوال وکړل شي چې (په څه سره) نو ځواب «بِالْقَلَمِ» سم دی، بدی مثال کی د «بِالْقَلَمِ» متعلق «كَتَبْتُ» دی نه «جَلَسْتُ».

د جار مجرور د پښتو ژباړلو طريقه :

کله چې جار مجرور په پښتو ژبه کې د ژباړل کيدو په وخت کې د هغه د اړوند / متعلق معنا لفظ (کوم) او (نو) په يوځاى کولو سره راګرځي ترڅو معلوم شي چې جار مجرور د هغه لفظ سره دى، لکه: جَلَسْتُ وَكَتَبْتُ بِالْقَلَمِ.

ژباړه:

زه کښيناستلم او ما وليکى ومې ليکى په قلم سره.

۲- دول حروف نداء :

چې په يوه اسم کې عمل کوي د هغوى څخه دوهم ډول حروف نداء دي:

د حروف نداء شمير:

حروف نداء ټول پنځه دي : يا ، ايا ، هيا ، اى ، همزه مفتوحه.

دا چې پر کوم اسم داخل شي هغه اسم ته منادى ويل کيږي.

فائده :

د منادى څلور حالتونه دي :

۱- منادى به مضاف وي، لکه: يَاعَبْدَ اللهِ.

۲- منادى به شبه مضاف وي، لکه: يَاطَالِعًا جَبَلًا.

۳- منادى نکره غير معين وي، لکه : يَارَجُلًا خُذْ بِيَدِىْ.

۴- منادى به مفرد معرفه وي، لکه : يَازَيْدُ.

د حروف نداء عمل:

حروف نداء خيل منادى ته نصب ورکوي لفظاً يا محلاً ،چې منادى لفظاً منصوب وي د دي لپاره دري شرطونه دي:

۱- منادى به مضاف وي. لکه: يَاعَبْدَ اللهِ.

۲- منادى به شبه مضاف وي، لکه: يَاطَالِعًا جَبَلًا.

۳- منادی نکره غیر معین وي، لکه : یَارَجُلاً خُذْ بِیَدِیْ.
چې منادی محلاً منصوب وي د دې لپاره دوه شرطون دي:
۱- مفرد به وي.
۲- معرفه به وي. لکه : یَا زَیْدُ. یَا زَیْدَانِ. یَا مُوْسَیٰ. یَا قَاضِیْ. یَا مُسْلِمُوْنَ.

التمرین

په لاندې مثالونو کې حروف جاره پیدا کړئ. مدخول ته یې وګورئ چې حرف جر د کومې نښې څخه ورکړیل شویدی او متعلق یې پیدا کړئ چې ظرف لغو ده او که ظرف مستقر، که مستقر وي. نو د ظرف مستقر کوم مقام دی او ظرف لغو وي. نو لفظاً دی او که معناً همدارنګ حروف نداء هم پیدا کړئ:

﴿الَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ﴾ [البقره:۳] ﴿وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِیْنَ﴾ [البقره:۱۳۰] ﴿وَاٰتَیْنٰهُ فِي الدُّنْیَا﴾ [النحل:۱۲۲] ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ رِجَالٌ﴾ [الاحزاب:۲۳] ﴿لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰۤی اَکْثَرِهِمْ﴾ [یس:۷] ﴿قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّکَ لَفِيْ ضَلٰلِكَ الْقَدِیْمِ﴾ [یوسف:۹۵] ﴿مَا سَلَکَکُمْ فِيْ سَقَرَ﴾ [المدثر:۴۲] ﴿وَاٰتَیْنٰهُ مِنَ الْکُنُوْزِ﴾ [القصص:۷۶] ﴿لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ﴾ [الزمر:۵۳] ﴿وَاَوْحَیْنَاۤ اِلٰی مُوْسٰۤی﴾ [الشعراء:۵۲] ﴿وَیُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ﴾ [البقره:۲۵۷] ﴿ائْتُوْنِيْ بِاَخٍ لَّکُمْ مِّنْ اَبِیْکُمْ﴾ [یوسف:۵۹] ﴿اِنْ کُنْتُ عَلٰی بَیِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ﴾ [هود:۲۸] ﴿سَلٰمٌ هِيَ حَتّٰی مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴾ [القدر:۵] ﴿خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰی سَمْعِهِمْ وَعَلٰۤی اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ﴾ [البقره:۷] ﴿قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖۤ﴾ [الاعراف:۶۰] ﴿خُذُوْا مَاۤ اٰتَیْنٰکُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْکُرُوْا مَا فِیْهِ﴾ [الاعراف:۱۷۱] ﴿وَلِلْکٰفِرِیْنَ عَذَابٌ مُّهِیْنٌ﴾ [المجادله:۵] ﴿بَلْ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ [البقره:۱۱۶] ﴿وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ﴾ [الحج:۲۷] ﴿وَعَلَیْهَا وَعَلَی الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ﴾ [المؤمنون:۲۲] ﴿هٰذَا مِنْ شِیْعَتِهٖ وَهٰذَا مِنْ عَدُوِّهٖ﴾ [القصص:۱۵] ﴿کَالْمُهْلِ ۚ یَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ۝ کَغَلْيِ الْحَمِیْمِ﴾ [الدخان:۴۵] ﴿اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِیْنَ کَالْمُجْرِمِیْنَ﴾ [القلم:۳۵]

﴿اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ﴾ [النمل:۹۲] ﴿وَ مَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ﴾ [النحل:۵۳]
﴿اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ﴾ [النحل:۷۲] ﴿يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللهِ﴾ [الاحقاف:۳۱] ﴿يٰمُوْسٰي لَا
تَخَفْ﴾ [النحل:۱۰] ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ﴾ [الاحزاب:۲۸] ﴿يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا﴾
[المؤمن:۳۶] ﴿يٰعِيْسٰٓى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ﴾ ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ﴾ [المائدہ:۱] ﴿يٰنُوْحُ
قَدْ جٰدَلْتَنَا﴾ [هود:۳۲] ﴿يٰحَسْرَةً عَلَي الْعِبَادِ﴾ [یس:۳۰] ﴿يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا﴾ [یوسف:۸۷] ﴿يا
داؤد انا جعلناک﴾ [ص:۲۶] ﴿يٰلُوْطُ اِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ﴾ [هود:۸۱] ﴿يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا﴾
[البقرہ:۴۰] ﴿اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ﴾ [یونس:۲] ﴿قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ
بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ﴾ [طٰهٰ:۹۴] ﴿يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا﴾ [مائدہ:۱۵].

د حل کولو طريقه

﴿اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو حروف جاره شته ؟

شاګرد: يو حرف جار شته کوم چې په «بالغيب» کې «با» ده.

استاذ: جرېې په کومه علامت سره دی ؟

شاګرد: په لفظي کسره سره یې جر دی.

استاذ: ظرف لغو ده که ظرف مستقر؟

شاګرد: ظرف لغو ده.

استاذ: چې ظرف لغو ده، نو څه شي سره متعلق کیږي ؟

شاګرد: تر «يؤمنون» سره تعلق نیشي.

استاذ: د ايات ترجمه وکړئ ؟

شاګرد: دا هغه خلک دي چې ايمان يې راوړی دی ايمان يې راوړی دی پر غيب/ ناليدلو سره.

﴿يا داؤد اِنَّا جَعَلْنَاكَ خليفة فی الارض﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو حروف نداء شته؟

شاګرد: یو ه حرف نداء شته کوم چې «یا» ده.

استاذ: حرف نداء څه عمل کړی دی؟

شاګرد: منادی مفرد معرفه ده ضمه یې ورکړې ده.

استاذ: د ایات ترجمه وکړئ؟

شاګرد: اې داؤد! موږ ته په مځکه کې خلیفه جوړ کړی یې.

استاذ: د ایات ترکیب وکړئ؟

شاګرد: یا قائم مقام د ادعو ده او داؤد لفظاً منادی حقیقتاً مفعول دی د ادعو لپاره بیا به دا جمله فعلیه انشائیه شي.

هغه حروف عامله دي چې په دووا سمونو کې عمل کوي هغه په درې ډوله دي: د هغوی څخه لومړی ډول حروف مشبه بالفعل دي:

۱- ډول حروف مشبه بالفعل

د حروف مشبه بالفعل شمېر:

حروف مشبه بالفعل ټول شپږ دي:

(۱): اِنَّ. (۲): اَنَّ. (۳): کَاَنَّ. (۴): لٰکِنَّ. (۵): لَیْتَ. (۶): لَعَلَّ.

د حروف مشبه بالفعل عمل:

دا حروف پر جمله اسمیه داخلیږي د جملې اسمیې لومړي جزء (چې په اصل کې مبتداء ده) ته نصب ور کوي د ځان لپاره یې اسم جوړوي او دوهم جزء (چې په اصل کې خبر دی) ته رفع ورکوي د ځان لپاره یې خبر جوړوي، لکه: إِنَّ زیداً قائم زید ته د ان اسم ویل کیږي او قایم ته یې خبر ویل کیږي.

۲- ډول ما ولا المشبهتان بلیس

ما و لا المشبهتان بلیس هغه حروف دي چې د لیس سره په دوو شیانو کې مشابهت لري:

۱- په معنا کې ۲- په عمل کې.

د ما او لا المشبهتان بليس شمير:

دغه حروف چې د ليس سره مشابه ده هغه دوه دي، لکه: ما ، لا.

د ما او لا عمل :

دا حروف د ليس غوندي پر جمله اسميه داخليږي مبتداء ته رفع ورکوي د ځان لپاره يې اسم جوړوي او خبر ته نصب ورکوي د ځان لپاره يې خبر جوړوي ،لکه: ﴿مَاهٰذَا بَشَرًا﴾.

د ما او لا د عمل لپاره شرطونه:

۱- د ما د عمل لپاره څلور شرطونه دي :

۱- ترتيب به باقي وي ، يعنى اسم مقدم او خبر به مؤخر وي .

۲- د ما سره به (ان) نافيه متصل نه وي .

۳- د (ما) د اسم او خبر تر منځ به په (الا) سره فاصله نه وي.

۴- د خبر معمول به د (ما) سره متصل نه وي. نو چې دغه څلور شرطونه پکې موجود وي. نو بيا عمل کوي، لکه: ﴿مَاهٰذَا بَشَرًا﴾.

۲- د لا د عمل لپاره هم څلور شرطونه دي :

۱- ترتيب به باقي وي . ۲- فاصله به په (اِلّا) سره نه وي .

۳- د (لا) د خبر معمول به د (لَا) سره متصل نه وي .

۴- د (لا) اسم او خبر به دواړه نکره وي که چيري معرفه وي بيا عمل نه کوي، لکه: لَا رَجُلٌ فِى الدَّارِ.

التمرين

په لاندي مثالونو کې حروف مشبه بالفعل معلوم کړئ، د اسم رفع او د خبر نصب يې په کومه علامت سره دی او دا هم واضح کړئ چې خبر يې مفرد دی، که جمله او که شبه جمله. که شبه جمله وي. نو بيا ظرف مستقر ده او که نه او همدارازد ما و لا مشبتهان بليس اسم او خبر هم معلوم کړئ :

﴿إِنَّ اللهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ [الانفال:۱۰] ﴿إِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ﴾ [يوسف ٥]

﴿اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ [الزخرف:۴۳] ﴿وَ اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ﴾ [البقرہ:۲۳۵] ﴿لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ﴾ [الشوری:۱۷] ﴿اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾ [یونس:۶۲] ﴿يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا﴾ [النباء:۴۰] ﴿لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا﴾ [الطلاق:۱] ﴿وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ [الاعراف:۱۸۷] ﴿كَاَنَّ فِيْٓ اُذُنَيْهِ وَقْرًا﴾ [لقمان:۷] ﴿يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا﴾ [مریم:۲۳] ﴿وَ مَا رَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى﴾ [الانفال:۱۷] ﴿كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ﴾ [حم سجدہ:۳۵] ﴿لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ﴾ [ال عمران:۷۲] ﴿كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ﴾ [المنافقون:۴] ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ﴾ [الحج:۶] ﴿اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ﴾ [المنافقون:۱] ﴿وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ﴾ [الانفال:۱۷] ﴿وَ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ﴾ [یس:۳] ﴿فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ﴾ [البقرہ:۶۱] ﴿اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ﴾ [الاحزاب:۳۵] ﴿مَا هٰذَا بَشَرًا﴾ [یوسف:۳۱] ﴿مَا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ﴾ [المجادلہ:۲] ﴿وَ مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ﴾ [البقرہ:۱۴۹] ﴿وَ مَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ﴾ [ابراھیم:۲۰] ﴿وَ مَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ﴾ [حم سجدہ:۴۶] ﴿وَ مَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ﴾ [الحدید:۲۰] ﴿وَ مَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ﴾ [ق:۴۵] ﴿وَ مَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ﴾ [الحاقہ:۴۱] ﴿مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ﴾ [ن:۲] ﴿وَ مَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ﴾ [ال عمران:۹۱] ﴿وَ مَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا﴾ [ھود:۶] ﴿اِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ﴾ [المدثر:۲۶] ﴿يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَ لَا خُلَّةٌ﴾ [البقرہ:۲۵۴] ﴿وَ لَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ﴾ [الم سجدہ:۲۹] ﴿وَ مَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ [ال عمران:۱۰۸] ﴿وَ مَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ﴾ [الانفال:۱۰] ﴿وَ مَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ﴾ [الحاقہ:۴۱] ﴿مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَ مَآ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ﴾ [ابراھیم:۲۲] ﴿وَ مَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ﴾ [الروم:۶۴].

د حل کولو طریقه

﴿اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ﴾

س ۶: گرانو طالبانو! پدې کلام کې څو حروف مشبه بالفعل شته؟

شاګرد: يو حرف مشبه بالفعل شته کوم چې «اِنَّ» دی.

استاذ: اسم او خبر يې څه شي دي؟

شاګرد: لفظ الله يې اسم دی او عزيز حکيم يې خبر دی.

استاذ: د اسم نصب يې او د خبر رفع يې په کومه علامت سره دی.

شاګرد: د اسم حرکت په فتحه سره نصب ورکړی دی او د خبر حرکت يې په ضمه سره دی.

استاذ: خبر يې مفرد ی او که جمله؟

شاګرد: خبر يې شبه جمله ده.

﴿وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِيْنَ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو ما و لا مشبه بليس شته؟

شاګرد: يو حرف ما و لا مشبه بليس شته کوم چې «ما» دی.

استاذ: اسم او خبر يې څه شي دي؟

شاګرد: عمل يې نه دی کړی.

استاذ: کوم شرط يې مفقود / نشته دی.

شاګرد: ترتيب يې باقي نه دی.

۳- ډول لائي نفی جنس

دريم ډول لائي نفی جنس دی کوم چې په دوو اسمونو کې عمل کوي

د لائي نفی جنس شمېر:

دا يو حرف دی.

د لائي نفی جنس عمل:

دا حرف پر جمله اسميه داخلېږي مبتداء ته نصب ورکوي د ځان لپاره يې اسم جوړوي او خبر ته رفع ورکوي د ځان لپاره يې خبر جوړوي ،لکه: لَا غلامَ رجلٍ ظريفٌ فيها.

د لائي نفي جنس د اسم څلور صورتونه دي:

۱ - که د لائي نفي جنس اسم نکره متصل مضاف یا شبه مضاف وي، نو پدې صورت کې معرب منصوب وي. د مضاف مثال. لکه: لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيفٌ فِي الدَّارِ.

د شبه مضاف مثال. لکه: لَا طَالِعًا جَبَلًا. ترکیب یې اسانه دی.

۲ - که د (لا) اسم نکره متصل مفرد غیرمکرر وي، نو پدې صورت کې مبني پر فتحه وي، لکه: لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ.

۳ - که د (لا) اسم معرفه وي، نو پدې وخت کې (لا) ملغی عن العمل ده (یعني عمل نه کوي) د (لا) تکرار د بلې معرفې سره ضروري دی او د (لا) مدخول د پخوا په څېر مبتداء او مابعد یې خبر دی. لکه: لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو.

همدا راز که د (لا) اسم نکره وي خو متصل نه وي، نو هم (لا) ملغی عن العمل ده. لکه: ﴿لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ﴾.

۴ - که د لائي نفي جنس اسم نکره متصل مفرد مکرر وي، نو پدې وخت کې پنځه ډوله ویل کېږي:

۱ - ډول: فَتْحُهُمَا. لکه: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ.

دواړه اسمونه مبني پر فتحه دي، دواړه ځایونه لائي نفي جنس دی او په دواړو ځایونو کې خبر محذوف دی. لکه: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدَانِ بِأَحدٍ إِلَّا بِاللهِ.

۲ - ډول: رَفْعُهُمَا. لکه: لَا حَوْلٌ وَّلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ.

دواړه اسمونه مرفوع دي. په دواړو ځایونو کې لائي نفی جنس ملغی عن العمل دی. بوجه تکرار. یعني عمل نه کوي. عامل یې معنوی دی، یعني ابتداء ده، نو پدې صورت کې هم خبر محذوف دی. لکه: لَا حَوْلٌ وَّلَا قُوَّةٌ مَّوْجُوْدانِ بِأَحدٍ إِلَّا بِاللهِ.

۳ - ډول: فتح الاول و رفع الثانی، لکه: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ.

لومړی اسم مبني پر فتحه دی لائي نفي جنس. دوهم اسم مرفوع په تنوین سره دی، دوهمه (لا) زائده د نفی د تاکید لپاره ده. «قُوَّةٌ» لفظ مرفوع دی د (حول) پر بعید محل عطف دی

(حول) د اصل په اعتبار مرفود ی په عامل معنوي سره ،یعني د ابتداء له امله .

۴- ږول : رفع الاول و فتح الثانی ، لکه: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ.

پدې صورت کې لومړی اسم ؛ ځکه مرفوع دی چې لا مشبه بلیس پر داخله ده، (حول) مرفوع اسم د (لا) لپاره او دوهم اسم مبني پر فتحه؛ ځکه دی چې (لا) د نفي جنس ده، نو (قوة) مبني پر فتحه محلاً منصوب اسم د لائي نفي جنس دی.

۵- ږول : فتح الاول و نصب الثانی ،لکه: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً إِلَّا بِاللهِ.

پدې صورت کې لومړی (لا) د نفي جنس او (حول) مبني پر فتح محلاً منصوب د (لا) اسم او دوهم لا زائده ده د نفي د تاکید لپاره ده او (قوة) لفظاً منصوب مع التنوین د حول پر محل تریب عطف ده .

دلائي نفي جنس نبني :

نبنې پیدا ده چې کله (لا) پر اسم فاعل، اسم مفعول، مصدر او صفت مشبه داخله شي، نو په عام ډول لائي نفي جنس وي.

التمرين

په لاندې مثالونو کې د لائي نفي جنس د اسم حالتونه وواياست چې د څلورو حالتونو څخه کوم حالت دی معرب دی او که مبني:

﴿لَّا شِيَةَ فِيهَا﴾ [البقره:۷۱] ﴿لَا رَيْبَ فِيهِ﴾ [البقره:۲] ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ﴾ [محمد:۱۹] ﴿لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ﴾ [هود:۴۳] ﴿لا خَيْرَ﴾ [النساء:۱۱۴] ﴿فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾ [البقره:۱۹۷] ﴿لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ﴾ [البقره:۲۵۶] ﴿فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ﴾ [البقره:۱۷۳] ﴿و لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ﴾ [البقره:۲۳۵] ﴿لَا انْفِصَامَ لَهَا﴾ [البقره:۲۵۶] ﴿كَلَّا لَا وَزَرَ﴾ [القيامه:۱۱] ﴿قَالُوا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ﴾ [البقره:۲۴۹] ﴿لَا فِيهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ﴾ [الصف:۴۷] ﴿لَنَا اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾ [الشورىٰ:۱۵] ﴿لَا الشَّمْسُ يَنْبَغِيْ لَهَا اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ﴾ [یٰس:۴۰]

﴿قَالُوْا لَاضَيْرَ اِنَّا اِلٰی رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ﴾ [الشعراء ٥٠] ﴿وَ اَنَّ الْكَافِرِيْنَ لَا مَوْلَا لَهُمْ﴾ [محمد: ۱۱] ﴿لَا قِبَلَ لَهُمْ﴾ ﴿مَن يَّهْدِی اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ﴾ ﴿وَ مَن يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ﴾ ﴿حكمُهٗ اَن لَا كَسْرَةَ وَلَا تَنْوِيْنَ﴾ ﴿لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهٗ﴾ ﴿لَا دِيْنَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهٗ﴾:

د حل کولو طریقه

﴿لَا شِيَّةَ فِيْهَا﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کښې څو لائي جنس شته؟

شاګرد: پدې کلام کښې یو لائي جنس شته کوم چې په «لَا شِيَّةَ» کښې دی

استاذ: د لائي جنس د اسم د څلورو حالتونو څخه کوم حالت دی؟

شاګرد: مفرد نکره متصل دی کوم چې مبني پر فتحه دی.

۲- ډول هغه حروف دي چې په فعل مضارع کښې عمل کوي

هغه حروف چې په فعل مضارع کښې عمل کوي هغه پر دوه ډوله دي:

۱- حروف نواصب. ۲- حروف جوازم.

۱- ډول حروف نواصب

حروف نواصب ټول څلور دي: (۱) اَنْ (۲) لَنْ (۳) كَيْ (۴) اِذَنْ.

عمل يې:

دا حروف پر فعل مضارع داخليږي نصب ورکوي، پدې ډول د پنځو صيغو اخير ته نصب ور کوي او د اووه صيغو څخه نون اعرابي حذفوي او په ذوو صيغو کښې هيڅ نه کوي؛ ځکه هغه مبني دي. لکه: اُرِيْدُ اَنْ تَقُوْمَ. لَنْ تخرُجَ زينب. اَسْلَمْتُ كَيْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ. اِذَنْ اُكْرِمَكَ.

فائده:

اَنْ د شپږو شيانو وروسته مقدريږي فعل مضارع ته نصب ورکوي:

۱- تر (حَتّٰى) وروسته. لکه: مررت حَتّٰى أَدْخُلَ الْبَلَدَ.

۲- تر لام جحد وروسته لام جحد دېته ويل کيږي چې د کان منفيه پر خبر داخل شوی وي.

لکه: ﴿وَمَاكَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ﴾.

۳- ترلام زائده وروسته، دا هغه لام دی چې د فعل متعدي په مفعول داخل شوی وي. لکه: ﴿يُرِيْدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ﴾. ترلام تعليليه وروسته، دا هغه لام دی چې ځپل مابعد د ماقبل لپاره علت جوړوي. لکه: اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ او ترلام عاقبت وروسته، لام عاقبت هغه لام دی چې پر نتيجه داخليږي او مابعد يې د ماقبل د نقيض مقتضي وي، لکه: ﴿فَالْتَقَطَهُ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا﴾.

۴- (او) په معنا د (اِلٰى اَنْ يا اِلَّا اَنْ) وروسته، اَوْ د (اِلٰى اَنْ يا اِلَّا اَنْ) په معنا هغه دی چې مؤول مصدر پر مصدر متصيد باندې عطف وي، لکه: لَاَلْزِمَنَّكَ اَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ.

۵- تر واو الصرف وروسته دا هغه دی چې پر فعل مضارع باندې داخل شي د هغه په ذريعه سره د مصدر مؤول عطف پر مصدر متصيد او يا مصدر متوهم باندې کول کيږي. لکه: ﴿يَالَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَانُكَذِّبَ بايات ربنا﴾. خو شرط يې دا دی چې واو صرف په نهه (۹) شيانو کې به تر يوه وروسته واقع وي، هغه نهه شيان دا دي:

۱- امر.	۲- نهي.	۳- نفي.	۴- استفهام.	۵- تمنی.
۶- ترجي.	۷- عرض.	۸- تحضيض.	۹- دعاء.	+

۶- تر فاء سببيه وروسته دا هغه ده چې په واسطه سره يې د مصدر مؤول عطف پر مصدر متصيد عطف کيږي کوم چې د شپږو شيانو په ځواب کې راځي.

۱- د امر په ځواب کې چې وروسته يې (اَنْ) مقدر وي. لکه: زُرْنِيْ فَاُكْرِمَكَ.

۲- تر نهي وروسته. لکه: لَاتَشْتِمْنِيْ فَاُذِيْنَكَ.

۳- تر نفي وروسته. لکه: مَاتَاْتِيْنَا فَتُحَدِّثَنَا.

۴- تر استفهام وروسته. لکه: اَيْنَ بَيْتُكَ فَاَزُوْرَكَ!.

۵- تر تمنی وروسته، لکه: لَيْتَ لِيْ مَالاً فَأُنْفِقَ مِنْهُ.

۶- تر عرض وروسته، لکه: اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا.

التمارين

په لاندې مثالونو کې د حروف ناصبه وو ځخه اَن ظاهره او اَن مقدره وواياست او د مقدره مقامات ونباني کړئ، همدارنګ فعل مضارع ته نصب کومې علامت ورکړې دی:

﴿وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا﴾ [النساء:۱۲۹] ﴿يُرِيْدُ اللهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ﴾ [النساء:۲۶] ﴿اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰي﴾ [طه:۴۵] ﴿حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَيْنَا مُوْسٰى﴾ [طه:۹۱] ﴿اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰي﴾ [طه:۶۵] ﴿وَمَا اٰتَيْتُمْ مِنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا﴾ [الروم:۳۹] ﴿وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى﴾ [طه:۸۴] ﴿يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ﴾ [طه:۶۳] ﴿اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ تَارَةً اُخْرٰى فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيْحِ فَيُغْرِقَكُمْ﴾ [بنی اسرائیل:۶۹] ﴿وَاَنْ تَعْفُوْٓا﴾ [البقرہ:۲۳۷] ﴿اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ﴾ [الحج:۱۵] ﴿اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ﴾ [الحج:۴۶] ﴿لَا تَجْعَلْ مَعَ اللهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا﴾ [بنی اسرائیل:۲۲] ﴿يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللهِ﴾ [الاعراف:۷] ﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُطْلِعَكُمْ﴾ [ال عمران:۱۷۹] ﴿يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا﴾ [التوبہ:۹۶] ﴿قَالَ لَمْ اَكُنْ لِّاَسْجُدَ لِبَشَرٍ﴾ [الحج:۳۳] ﴿اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ﴾ [القصص:۱۹] ﴿كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً﴾ [الحشر:۷] ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ﴾ [الاحزاب:۳۲] ﴿كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا﴾ [طه:۴۰] ﴿وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ﴾ [الانفال:۳۳] ﴿وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ [البقرہ:۳۵] ﴿كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا﴾ [طه:۳۳] ﴿وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ﴾ [هود:۱۱۳] ﴿فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَاءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ﴾ [الاعراف:۵۳] ﴿لِكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰي مَا فَاتَكُمْ﴾ [الحديد:۲۳] ﴿وَلَا تَطْغَوْا فِيْهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ﴾ [طه:۸۱] ﴿يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ﴾ [النساء:۷۳] ﴿فَلَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُوْنَ

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ [الشعراء:۱۰۲] ﴿مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾ [الانعام:۵۲] ﴿لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا﴾ [الفاطر:۳۶] ﴿وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ﴾ [النحل:۹۴] ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ﴾ [بنی اسرائیل:۲۹] ﴿وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓي اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ﴾ [المائدہ:۲۱] ﴿لَا تَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ﴾ [طه:۶۱] ﴿حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا﴾ [النساء۱۵] ﴿اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً﴾ [البقره۲۳۶] ﴿وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ﴾ [العمران۱۴۲].

د حل کولو طریقه

﴿وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې څو حروف نواصب شته؟

شاگرد: پدې کلام کې دوه دي: اَن، لَن.

استاذ: ظاهره دي او که مقدرة؟

شاگرد: ظاهره دي

استاذ: د فعل مضارع نصب په کومې علامې سره دی؟

شاگرد: په حذف نون اعرابي سره یې نصب ورکړی دی.

﴿وَلَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې ایات کې څو حروف نواصب شته؟

شاگرد: یو دی.

استاذ: ظاهره دی او که مقدرة؟

س: د مقدر کیدلو کوم ځای دی ؟

ځ: شپږم ځای دی کوم چې تر فاء وروسته واقع شوی دی .

ځ: تر فاء وروسته ان هغه وخت مقدر کیږي چې د شپږو شیانو په ځواب کې واقع شوي ي. دلته کوم شي دی.

ځ: فاء د نهي په ځواب کې واقع شوې ده.

س: د فعل مضارع نصب په کومي علامې سره دی؟

ځ: نصب یې په یاء سره ورکړی دی.

۲- ډول حروف جوازم

د حروف جوازم شمېر :

حروف جوازم پنځه دي :

(۱) اِنْ (۲) لَمْ (۳) لَمَّا (۴) لام امر . (۵) لام نهي .

د حروف جوازم عمل :

دا حروف پر فعل مضارع داخلیږي ، د پنځو صیغو په اخیر کې لفظًا جزم کوي ،پدې ډول که :غه پنځه صیغې معتل وي، نو بیا یې جزم په حذف د حرف علت سره دی، (په حذف د لام کلمې). په اووه صیغو کې نون اعرابي حذفوي او په دوو صیغو کې هیڅ نه کوي :ځکه هغه مبني دي. لکه : لَمْ یَنْصُرْ . لَمَّا یَنْصُرْ . لِیَنْصُرْ . لَا یَنْصُرْ .

حروف جوازم پر دوه ډوله دی :

لومړي ډول هغه دي چې په یوه فعل کې عمل کوي هغه ټول څلور دي: لَمْ . لَمَّا . لام امر او لام نهي .

دي دوهم ډول هغه چې په دوو فعلونو کې عمل کوي هغه یوائې اِنْ دی. اِنْ پر دوه ډوله دی :

۱- اِنْ ظاهره. ۲- اِنْ مقدره.

فائده :

اِنْ ظاهره په دوو جملو کې عمل کوي اولې جملې ته شرط ویل کیږي او دوهمې جملې ته جزاء

ویل کېږي ، شرط همیشه جمله فعلیه وي او جزاء عامه ده فعلیه هم راځي . لکه : اِنۡ تَنۡصُرۡ اَنۡصُرۡ .
او اسمیه هم راځي ، لکه : اِنۡ کَانَتِ الشَّمۡسُ طَالِعَةً فَالنَّهَارُ مَوۡجُوۡدٌ .

فائده :

پر جزاء (فاء) داخلیږي چې کله جزاء جمله اسمیه وي ، یا انشائیه وي ، یا حرف سین ، یا سوف یا قد ، یا د افعال جوامد څخه وي ، یا حرف نفي پر داخل شوي وي ، یا کَاَنَّمَا پر داخل شوی وي ویا د جزاء په شروع کې ادوات شرط راغلي وي .

اِنۡ مقدره فعل مضارع چې کله د اوو شیانو څخه د یوه په ځواب کې واقع شوي وي . نو فعل مضارع مجزومه کېږي بناء پر جزاء ، په داسې ځایونو کې (ان) مع الشرط محذوف وي . هغه نهه شیان دادي :

(۱) امر . (۲) نهي . (۳) استفهام . (۴) تمنی . (۵) عرض (۶) تحضیض . (۷) دعاء لکه :
﴿قُلۡ اِنۡ کُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللهَ فَاتَّبِعُوۡنِيۡ يُحۡبِبۡکُمُ اللهُ﴾ .

التمرین

په لاندې مثالونو کې حروف جوازم پیدا کړئ ، شرط یې هم معلوم کړئ یدې ډول چې فعل مضارع ته یې کوم ډول جزم ورکړی دی ، ان شرطیه ظاهر دی او که مقدر . که ظاهر وي ، نو شرط او جزاء یې معلوم کړئ او که ان شرطیه مقدره وي ، نو بیا پر جزاء فاء داخله ده او که نه . که فاء پر داخله وي ، دخول د فاء کوم ځای دی :

﴿وَلَمَّا يَاۡتِکُمۡ مَّثَلُ الَّذِيۡنَ خَلَوۡا مِنۡ قَبۡلِکُمۡ﴾ [البقره:۲۱۴] ﴿فَلۡيَضۡحَکُوۡا قَلِيۡلًا وَّلۡيَبۡکُوۡا کَثِيۡرًا﴾ [التوبه:۸۲] ﴿وَلَا تَهِنُوۡا وَلَا تَحۡزَنُوۡا﴾ [ال عمران:۱۳۹] ﴿اِنۡ يَّشَاۡ يُذۡهِبۡکُمۡ﴾ [ابراهیم:۱۹] ﴿فَاِنۡ لَّمۡ تَفۡعَلُوۡا وَلَنۡ تَفۡعَلُوۡا فَاتَّقُوا النَّارَ﴾ [البقره:۲۴] ﴿وَاِنۡ تَعُدُّوۡا نِعۡمَتَ اللهِ لَا تُحۡصُوۡهَا﴾ [النحل:۱۸] ﴿اِنۡ تَذَرۡهُمۡ يُضِلُّوۡا عِبَادَكَ﴾ [نوح:۲۷] ﴿وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ﴾ [لقمان:۱۷] ﴿وَلَا تَمۡشِ فِي الۡاَرۡضِ مَرَحًا﴾ [لقمان:۱۸] ﴿وَاِنۡ يَّمۡسَسۡكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَا کَاشِفَ لَهٗۤ﴾

[یونس:۱۰۵] ﴿وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا﴾ [النور:۲۲] ﴿إِنْ نَّعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً﴾
[التوبہ:۶۶] ﴿إِنْ كُنْتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ﴾ [المائدہ:۱۱۶] ﴿قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللهُ﴾ [التوبہ:۱۴]
﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللهُ﴾ [ال عمران:۳۱] ﴿فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ
مُؤْمِنٰتٍ﴾ [الممتحنہ:۱۰] ﴿إِنْ تَرَنِ أَنَا أَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًا ۝ فَعَسٰى رَبِّي أَنْ يُؤْتِيَنِ خَيْرًا
مِّنْ جَنَّتِكَ﴾ [الکہف:۳۹] ﴿فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِّنْ أَجْرٍ﴾ [یونس:۷۲] ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ
عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ﴾ [التوبہ:۲۸] ﴿وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ۝ يُّصْلِحْ لَكُمْ
أَعْمَالَكُمْ﴾ [الاحزاب:۷۱] ﴿وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ﴾ [الحجرات:۱۴] ﴿وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا﴾
[النحل:۱۲۶] ﴿إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا﴾ [الحجرات:۶] ﴿فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا﴾ [الم
سجدہ:۱۲] ﴿أَلَمْ نَجْعَلْ لَّهُ عَيْنَيْنِ﴾ [البلد:۸] ﴿وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ﴾ [الحج:۲۹] ﴿وَاضْمُمْ
يَدَكَ إِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ﴾ [طه:۲۲] ﴿وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾ [طه:۲۸]
﴿وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ﴾ [طه:۶۹].

د حل کولو طریقه

﴿وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمْ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو حروف جوازم او شرط شته؟

شاګرد: پدې کلام کې یو حرف جازم شته کوم چې «لما» دی

استاذ: مضارع ته یې کوم ډول جزم ور کړی دی؟

شاګرد: په حذف لام سره یې جزم دی.

﴿فَإِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو حروف جوازم او شرط شته؟

شاګرد: پدې کلام کې يو حرف شرط شته کوم چې «ان» دی

استاذ: مضارع ته يې کوم ډول جزم ورکړی دی ؟

شاګرد: په سکون سره يې جزم دی.

استاذ: ان مقدر دی او که ظاهر؟

شاګرد: ان ظاهر دی

استاذ: شرط يې کوم دی او جزاء يې کومه ده؟

شاګرد: شرط يې ان تعذ بهم دی او جزاء فانهم عبادک ده.

استاذ: پر جزاء يې فاء داخله ده او که نه ؟

شاګرد: فاء پر داخله ده.

استاذ: د فاء دخول جائز دی او که واجب؟

شاګرد: د فاء دخول واجب دی

استاذ: د وجوب کوم ځای دی.

شاګرد: جمله اسميه ده.

﴿فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ الله﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! په (يحببکم) کې جزم څه شي ورکړی دی.

شاګرد: ان مقدره جزم ورکړی دی.

استاذ: د ان مقدره کوم ځای دی ؟

شاګرد: د امر په ځواب واقع شوی دی.

استاذ: کوم ډول جزم يې ورکړی دی

شاګرد: جزم يې په سکون سره ورکړی دی.

۲- ډول افعال عامله

فعل پر دوه ډوله دی :

۱- فعل تام.

۲ – فعل قاصر.

۱ – فعل تام پر دوه ډوله دی :

۱ – فعل معلوم.

۲ – فعل مجهول.

۱ – فعل معلوم پر دوه ډوله دی :

۱ – لازمي

۲ – متعدي.

۱ – د فعل تام تعریف :

فعل تام هغه دی چې د خپل مرفوع څخه نسبت تام لري. لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

۲ – د فعل قاصر تعریف :

فعل قاصر هغه فعل دی چې د خپل مرفوع سره پوره نسبت ونه لري، لکه: کَانَ زیداً قائِماً.

۱ – د فعل معلوم تعریف :

فعل معروف هغه دی کوم چې پر نسبت قیامي باندې دلالت کوي، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

۲ – د فعل مجهول تعریف :

فعل مجهول هغه دی چې پر نسبت وقوعي باندې دلالت کوي، لکه: ضُرِبَ عمرٌ.

۱ – د فعل لازمي تعریف :

فعل لازمي هغه فعل ته ویل کېږي چې معنا یې یواځې په فاعل سره تامیږي، د مفعول ب تقاضا نه کوي. لکه: ذهب زیدٌ.

۲ – د فعل متعدي تعریف :

فعل متعدي هغه ته ویل کیږي چې معنا یې پر ته د مفعول به څخه یواځې په فاعل سره ن تامیږي، بلکې د مفعول به تقاضا هم کوي. لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا.

د فعل تام معروف عمل :

فعل تام معروف که فعل لازمي وي، نو فاعل ته رفع ورکوي او شپږو اسمونو ته نصب ور

کوي: مفعول مطلق، مفعول له، مفعول معه، مفعول فيه، حال، تمييز.

که فعل متعدي وي، نو فاعل ته رفع ورکوي او اوو اسمونو ته نصب ورکوي:

مفعول به، مفعول مطلق، مفعول له، مفعول معه، مفعول فيه، حال، تمييز.

د فاعل تعريف:

فاعل هغه اسم دی چې تر ده مخکې فعل او يا شبه فعل وي او د دغه فعل او يا شبه فعل اسناد همدې اسم ته د قيام په طريقه وي، نه د وقوع په طريقه، (د فعل او يا د شبه فعل شکل به د معلوم وي، نه د مجهول)، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

د مفعول به تعريف:

مفعول به هغه اسم دی، چې د فاعل فعل پر واقع شوی وي، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا.

د مفعول مطلق تعريف:

مفعول مطلق هغه اسم فضله د غير حال نوم دی چې د خپل عامل هم معنا وي. لکه: ضَرَبْتُ ضَرْبًا.

د مفعول فيه تعريف: مفعول فيه د هغه زمان، يا مکان نوم دی، چې د فاعل فعل په هغه کې واقع شوی وي او د ده ته ظرف هم ويل کيږي، لکه: صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ جَلَسْتُ عندک.

د مفعول له تعريف:

مفعول له هغه مصدر دی چې د خپل ماقبل فعل علت بيان کړي او د عامل سره په زمانه او علتيت کې شريک وي. لکه: ضَرَبْتُ زَيْدًا تَأْدِيبًا.

التمرين

په لاندې مثالونو کې فعل لازمي او فعل متعدي او مفاعيل خمسه معلوم کړئ:

﴿فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَّ لْيَبْكُوا كَثِيرًا﴾ [التوبه:۸۲] ﴿نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنْزِيلًا﴾ [الدهر:۲۳] ﴿أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا﴾ [الاسراء:۱] ﴿حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا﴾ [الاعراف:۱۸۹] ﴿وَتَسِيرُ الْجِبَالُ سَيْرًا﴾ [الطور:۱۰] ﴿يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللهِ﴾ [ال عمران:۲۶۵] ﴿فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ﴾ [ال عمران] ﴿يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا﴾ [الم سجده:۱۶]

عمران:١٨٢] ﴿وَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا﴾ [النساء:١٧٤] ﴿سَاَلَ سَآئِلٌ﴾ [المعارج:١] ﴿اَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا﴾ [عبس:٢٥] ﴿يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّ يُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا﴾ [التوبه:٣٧] ﴿يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ﴾ [البقره:١٩] ﴿جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَ الْمُنٰفِقِيْنَ﴾ [التحريم:٩] ﴿وَ تَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا﴾ [المزمل:٨] ﴿ثُمَّ شَقَقْنَا الْاَرْضَ شَقًّا﴾ [عبس:٢٦] ﴿وَّ سَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا﴾ [الاحزاب:٤٢] ﴿وَ مَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ [الانبياء:١٠٧] ﴿وَ لَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ﴾ [الاعراف:١١] ﴿ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ﴾ [الملک:٤] ﴿سَيَعْلَمُوْنَ غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْاَشِرُ﴾ [القمر:٢٦] ﴿اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ﴾ [القمر:٢٧] ﴿استوى الماء و الخشبة﴾ ﴿خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ﴾ [الروم:٨] ﴿وَ تَاْكُلُوْنَ التُّرَاثَ اَكْلًا لَّمًّا﴾ [الفجر:١٩] ﴿وَّ تُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا﴾ [الفجر:٢٠] ﴿قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ﴾ [الكهف:١٩] ﴿وَ مَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا﴾ [الاسراء:٥٩] ﴿اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ﴾ [العنكبوت:٦٢] ﴿فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ [النور:٢] ﴿اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّ عَشِيًّا﴾ [المومن:٤٦] ﴿جَعَلَ فِيْهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ﴾ [الرعد:٣] ﴿وَ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى﴾ [البقره:٥٧] ﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُوْمِ﴾ [الصافات:٨٨] ﴿قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ [المزمل:٢] ﴿ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ﴾ [الحديد:١٣] ﴿وَ مَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا﴾ [ال عمران:١٩] ﴿اٰوٰٓى اِلَيْهِ اَبَوَيْهِ﴾ [يوسف:٩٩] ﴿وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ﴾ [الانعام:٨٤] ﴿وَ يَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ﴾ [التوبه:٦٧] ﴿وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ﴾ [يوسف:١٠٠] ﴿لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ﴾ [الحجرات:١].

د حل کولو طریقه

﴿اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنْزِيْلًا﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې څو فعل لازمي فعل متعدي شته؟

ش گرد: يو فعل متعدي شته كوم چې «انزلنا» دى.

استاذ: فاعل يې څه شي دى ؟

ش گرد: فاعل يې نا ضميري دى.

استاذ: د مفاعيل څخه كوم مفعول نصب وركړى دى .

شاگرد: مفعول به او مفعول مطلق .

استاذ: مفعول به كوم يو دى پكې او مفعمول مطلق كوم يو دى پكې.

شاگرد: القران مفعول به دى او تنزيلا مفعول مطلق دى.

د حال تعريف :

حال هر هغه صفت دى چې د خپل ذوالحال حالت او هيئت بيان كړي، ذوالحال كه فاعل وي كه مفعول به وي او كه فاعل او مفعول به دواړه وي، بيا نو فاعل يا مفعول به كه حقيقتًا وي او كه حكمًا. لكه: جَاءَ زَيْدٌ رَا كِبًا. ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا.

فائده :

ذوالحال اكثره وختونه معرفه وي، كه نكره وي، نو د تخصيص به يې يا د تقديم څخه. يا د صفت څخه، يا د استفهام څخه، يا د نفي څخه، يا د الا څخه او يا د جملې څخه حاصل كړى وي.

فائده : جمله هم حال واقع كيږي، حو شرط يې دا دى چې جمله خبريه به وي او پر يو رابط باندې به مشتمله وي او د سين او سوف څخه به خالي وي،لكه: ضربت الامير و هو را كبٌ.

۷- د تمييز تعريف :

تمييز هغه اسم نكره فضله دى چې د مِنْ بيانيه د معنا په وركولو سره د اسم ذات يا اجمالي نسبت څخه ابهام ليري كړي، د اسم ذات مثال، لكه: عِنْدِيْ عشرون درهماً او د اجمالي نسبت مثال. لكه: طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا .

فائده :

د اسم ذات څخه مراد عداد مقادير دي او مقادير څلور دي : مقياس. وزن. كيل او مساحت.

التمارين

په لاندې مثالونو کې حال او ذوالحال معلوم کړئ همداراز دا هم ووایاست که ذوالحال نکره وي نو تخصیص یې د څه شي څخه حاصل کړی دی او که حال جمله خبریه وي نو کوم ډول ده، او ربط یې څه شي دی همداراز تمییز پیدا کړئ او دا هم واضح کړئ چې تمییز ابهام د نسبت څخه ختم کړی دی او که د ذات څخه. که د ذات څخه وي، نو ذات څه شي دی او کوم ډول دی؟

﴿مَلُومًا مَّحْسُوْرًا﴾ [الاسراء: ۲۹] ﴿يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا﴾ [الاسراء: ۱۰۷] ﴿كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ﴾ [البقرة: ۸۹] ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾ [المؤمن: ۴۰] ﴿خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ﴾ [البقرة: ۲۴۳] ﴿اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ﴾ [حم سجدة: ۱۱] ﴿خَرَّ رَاكِعًا﴾ [ص: ۲۴] ﴿فِيْٓ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ﴾ [حم سجدة: ۱۰] ﴿فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ﴾ [الزمر: ۷۳] ﴿وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا﴾ [النساء: ۴۵] ﴿مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً﴾ [حم سجدة: ۱۵] ﴿اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا﴾ [الكهف: ۳۴] ﴿بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا﴾ [الكهف: ۵۰] ﴿وَفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا﴾ [القمر: ۱۲] ﴿ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ﴾ [حم سجدة: ۱۱] ﴿فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا﴾ [النساء: ۹۳] ﴿وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ﴾ [التوبة: ۸۴] ﴿آٰلْئٰنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ﴾ [يونس: ۹۱] ﴿وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُوْمٌ﴾ [الحجر: ۴] ﴿فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا﴾ [النحل: ۱۹] ﴿اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ﴾ [الانبياء: ۳] ﴿وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا﴾ [مريم: ۴] ﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا﴾ [الكهف: ۱۰۳] ﴿وَعَدْنَا مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً﴾ [الاعراف: ۱۴۲] ﴿اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا﴾ [يوسف: ۴] ﴿فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾ [البقرة: ۶۰] ﴿اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا﴾ [الملك: ۲] ﴿اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا﴾ [التوبة: ۳۶] ﴿وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا﴾ [الاحقاف: ۱۵] ﴿وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا﴾ [الفرقان: ۶۴] ﴿لَمْ يَخِرُّوْا عَلَيْهَا صُمًّا وَّعُمْيَانًا﴾ [الفرقان: ۷۳] ﴿اَنْزَلَ اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا﴾ [الانعام: ۱۱۴] ﴿وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا﴾ [مريم: ۱۵]

وَإِذَا ذُكِرَ اللهُ وَحْدَهُ﴾ [الزمر:۴۵] ﴿ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا﴾ [الجاثيه:۸] ﴿وَ خُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا﴾ [النساء:۲۸] ﴿إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ﴾ [الممتحنه:۱۲] ﴿وَآخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللهِ﴾ [المزمل:۲۰] ﴿فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ﴾ [الزلزال -] ﴿فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِمْ مِلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ﴾ [العمران۹۱].

د حل کولو طریقه

﴿كِتَابٌ مِّنْ عِنْدِ اللهِ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې د حال او ذوالحال کوم الفاظ دي؟

شاگرد: کتاب ذوالحال او مصدقاً يې حال دی.

استاذ: ذوالحال نکره ده او که معرفه، که نکره وي، نو تخصیص يې په څه ډول سره حاصل کړی دی؟

شاگرد: ذوالحال نکره ده، تخصیص يې د صفت څخه حاصل کړی دی کوم چې من عندالله دی.

﴿خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوْفٌ﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې جمله حالیه کومه ده؟

شاگرد: وهم الوف ده.

د فاعل قاعده:

فاعل پر دوه ډوله دی:

۱- فاعل مظهر، لکه: ضَرَبَ زَيْدٌ.

۲- فاعل مضمر.

مضمر پر دوه ډوله دی:

۱- بارز، لکه: ضَرَبْتُ زيداً.

۲- مستتر. لکه: زیدضَرَب. په ضرب کې هو ضمیر فاعل دی کوم چې مستتر دی، بیا ضمیر مستتر پر دوه ډوله دی:

۱- جائز الاستتار. لکه زَيْدٌ ضَرَبَ. ۲- واجب الاستتار، لکه: اِضْرِبْ.

فائده:

د فعل تذکیر او تانیث د فاعل په اعتبار:

فعل د تذکیر او تانیث د فاعل په اعتبار پر درې ډوله دی:

۱- فعل مذکر راوړل واجب دی.

۲- فعل مؤنث راوړل واجب دی.

۳- فعل مذکر او مؤنث دواړه راوړل جائز دی.

لومړی ډول:

د واجب التذکیر دوه صورتونه دي:

۱- چیرې چې فاعل اسم ظاهر مذکر غیر جمع وي لکه: قال الرسول. اتاها امرنا. قال رجلان.

۲- چیرې چې فاعل اسم ظاهر جمع مذکر سالم وي، لکه: ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾. جاء المعذّرون.

دوهم ډول:

د واجب التانیث دوه صورتونه دي:

۱- کله چې فاعل اسم ظاهر مؤنث حقیقي وي او د فعل سره متصل وي. لکه:

﴿قَالَتْ نَمْلَةٌ﴾.

۲- کله چې فاعل ضمیر مؤنث وي، لکه: وَامْرَأَته قائمة فضحکم.

دریم دول:

د جائز التانیث والتذکیر خلور صورتونه دي :

۱- کله چې فاعل اسم ظاهر مؤنث حقیقي وي او د فعل او فاعل ترمنځ فاصله موجود وي، لکه: ﴿قالت لها رون اخته﴾.

۲- کله چې فاعل اسم ظاهر مؤنث غیر حقیقي وي، بیا که د فعل سره متصل وي او که یې ترمنځ فاصله وي، لکه : طَلَعَ الشَّمْسُ، طَلَعَتِ الشَّمْسُ ، جائتهم البینة جاء هم البنیة.

۳- فاعل اسم ظاهر جمع مکسر وي، بیا که د مذکر جمع وي، لکه: جاء الرجال ، جاء ت الرجال ، که د مؤنث جمع وي، لکه: قال النسوة ،قالت النسوة او که د فعل سره متصل وي او که یې ترمنځ فاصله موجود وي، لکه: جاء الرجال قال النسوة.

۴- فاعل اسم ظاهر د جمع مؤنث سالم صیغه وي، بیا که متکلم وي او که نه وي، لکه: نجاءت آیاتنا۔ جاء آیاتنا.

التمارین

په لاندې امثله وو کې فاعل پیدا کړئ او دا هم واضح کړئ چې فاعل اسم ظاهر دی او که ضمیر، که اسم ظاهر وي، نو فعل یې مذکر دی او که مؤنث، که مذکر وي، نو ولې ؟ او که مؤنث وي. نو ولې؟ تذکیر او تانیث یې واجب دی او که جائز او که فاعل اسم ضمیر وي، نو بیا ضمیر بارز دی او که مستتر، که مستتر وي، نو جائز الاستتار دی او که واجب الاستتار :

﴿قَالَتْ رُسُلُهُمْ﴾ [الرعد:۱۰] ﴿جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ﴾ [البینه:۴] ﴿وَ اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا﴾ [الزلزال:۲] ﴿وَ اِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ﴾ [الانفطار:۲] ﴿اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ﴾ [الرعد:۸] ﴿وَ لَمَّا فَصَلَتِ الْعِيْرُ﴾ [یوسف:۹۴] ﴿بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ﴾ [النساء۸۱] ﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ الْمُرْسَلِيْنَ﴾ [الشعراء:۱۰۵] ﴿فَذَبَحُوْهَا وَ مَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ﴾

[البقرہ:۷۱] ﴿وَ قَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ وَّ هُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ﴾ [القصص:۱۱] ﴿اِنِّيْٓ
اَرٰي مَا لَا تَرَوْنَ﴾ [الانفال:۴۸] ﴿وَ قَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ﴾ [يوسف:۳۰] ﴿فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتٰنِ
نَكَصَ عَلٰي عَقِبَيْهِ﴾ [الانفال:۴۸] ﴿وَ اِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾
[الاعراف:۲۳] ﴿وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ﴾ [الفاطر:۱۱] ﴿اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ
اللّٰهِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ﴾ [المنافقون:۱] ﴿قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ [ال عمران:۱۴۴]
﴿اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾[التكوير:۱] ﴿وَ ضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ﴾ [التوبه:۲۵] ﴿اِذَا جَآءُوْهَا
وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا﴾ [الزمر:۷۳] ﴿فَرَجَعْنٰكَ اِلٰٓي اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا
تَحْزَنَ﴾ [طه:۴۰] ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾ [البقره:۱۳۶] ﴿وَ يَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا﴾
[يونس:۲۸] ﴿فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ﴾ [البقره:۱۶] ﴿اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ﴾ [العمران۳۵] ﴿قَدْ
جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ﴾ [يونس۵۷] ﴿فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ﴾ [البقره:۲۷۵] ﴿فَجَآءَ
تْهُ اِحْدٰهُمَا﴾ [قصص۲۵] ﴿وَ لَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ بِالْبُشْرٰي قَالُوْٓا اِنَّا مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ هٰذِهِ
الْقَرْيَةِ﴾ [العنكبوت۳۱] ﴿حَتّٰٓي اِذَا اسْتَيْئَسَ الرُّسُلُ﴾ [يوسف۱۱۰].

د حل کولو طریقه

﴿اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې فاعل مذکر دی او که مؤنث؟

شاگرد: فاعل مذکر دی کوم چې المنافقون دی.

استاذ: د دور صورتونو څخه کوم صورت دی؟

شاگرد: واجب التذکیر دی.

استاذ: کومه نښه یې ده؟

شاگرد: فاعل جمع مذکر سالم ده.

﴿اِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې كلام كې فعل مذكر دى او كه مؤنث؟

شاگرد: فعل مؤنث دى.

استاذ: د دوو صورتونو څخه كوم صورت دى؟

شاگرد: واجب التانيث دى.

استاذ: كومه نښه يې ده؟

شاگرد: فاعل ضمير مؤنث دى.

﴿وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې كلام كې فعل مذكر دى او كه مؤنث؟

شاگرد: فعل مؤنث دى.

استاذ: د دوو صورتونو څخه كوم صورت دى؟

شاگرد: جائز التانيث و التذكير دى.

استاذ: كومه نښه يې ده؟

شاگرد: فاعل مؤنث غير حقيقي دى.

د مجهول فعل تعريف:

فعل مجهول هغه دى چې د فاعل پر ځاى مفعول به ته رفع وركوي او پاتې نورو اسمونو ته نصب وركوي. لكه: ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ. أَمَامَ الْأَمِيْرِ. ضَرْبًا شَدِيْدًا. فِيْ دَارِهِ. تَأْدِيْبًا.

فائده:

د فعل مجهول دوهم نوم فِعْلٌ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ دى او د نائب فاعل دوهم نوم يې مُفْعُوْلٌ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ دى.

فائده:

د فعل په معمولاتو کې مفعول له، مفعول معه، د افعال قلوب د دوهم مفعول او د باب اَعلمت دریم مفعول نائب فاعل نشي جوړیدای، دلائل یې په بدر السعید کې موجود دي.

د فعل متعدي ډولونه:

فعل متعدي پر څلور ډوله دی:

۱ – متعدي په یوه مفعول، لکه: ضَرَبَ زَیْدًا.

۲ – متعدي په دوو مفعولینو سره وي، خو پر یوه یې اکتفاء جائز ده، لکه: اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا.

۳ – متعدي په دوو مفعولینو سره وي، خو اکتفاء یې پر یوه جائز نه ده، دا پر دوه ډوله دي:

۱ – افعال قلوب.

۲ – افعال تصییر.

۱ – افعال قلوب په لاندې ډول دي:

عَلِمْتُ، رَأَیْتُ، وَجَدْتُ، دَرَیْتُ، اَلْفَیْتُ، زَعَمْتُ، جَعَلْتُ، عَدَیْتُ، هَجَوْتُ، ظَنَنْتُ، خِلْتُ، حَسِبْتُ. خو د عمل لپاره یې شرط دا دی چې ترتیب به یې باقي وي او معنا به یې هم پر خپل حال پاتې وي.

۲ – افعال تصییر په لاندې ډول دي:

صَیَّرَ، رَدَّ، تَرَكَ، تَخِذَ، اِتَّخَذَ، جَعَلَ، وَهَبَ

۴ – ډول متعدي په درو مفعولینو سره وي، دا ټول اووه دي:

(۱) اَعْلَمَ (۲) اَرٰی (۳) اَنْبَأَ (۴) نَبَّأَ (۵) اَخْبَرَ (۶) خَبَّرَ (۷) حَدَّثَ.

فائده:

د «اَعْلَمَ، اَرٰی» معنا ده یقین ورکول، لکه: أَعْلَمُ اللهُ زَیْدًا عَمْرًا فَاضِلًا.

ژباړه:

الله پاک زید ته د عمرو د فضیلت یقین ورکړ.

د پاتې پنځو معنا ده د خبر يقين ورکول، لکه: اَنۡبَأَ زَيۡدٌ بَكۡرًا عَمۡرًوا فَاضِلًا

ژباړه:

زيد بکر ته د عمرو د فضيلت د خبر يقين ورکړ.

فائده:

که دغه پنځه افعال د «اَعۡلَمَ . اَرٰي» په معنا شي، نو بيا درومفعولينو ته متعدي کېږي، ورنه په اصل کې دوو مفعولينو ته متعدي وي، لکه: ﴿وَنَبِّئۡهُمۡ عَنۡ ضَيۡفِ إِبۡرَاهِيمَ﴾

التمارين

په لاندې مثالونو کې فعل مجهول او نائب فاعل معلوم کړئ. نائب فاعل او فعل د تذکير او تانيث په اعتبار اثر شته او که نه او د متعدي څلور ډولونه معلوم کړئ:

﴿وَ اِذَا الۡجَحِيۡمُ سُعِّرَتۡ وَ اِذَا الۡجَنَّةُ اُزۡلِفَتۡ﴾ [التکوير:۱۳] ﴿قُتِلَ الۡاِنۡسَانُ مَآ اَكۡفَرَهٗ﴾ [عبس:۱۷] ﴿وَ لَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٌ﴾ [الانعام:۳۴] ﴿قُضِيَ الۡاَمۡرُ﴾ [يوسف:۴۲] ﴿يُؤۡمِنُوۡنَ بِمَآ اُنۡزِلَ﴾ [البقره:۴] ﴿فَاَنّٰي تُؤۡفَكُوۡنَ﴾ ﴿اُوۡحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسۡتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الۡجِنِّ﴾ [الجن:۱] ﴿اُوۡذِيۡنَا مِنۡ قَبۡلِ﴾ [الاعراف:۱۲۲] ﴿يَوۡمَ هُمۡ عَلَي النَّارِ يُفۡتَنُوۡنَ﴾ [الزاريات:۱۳] ﴿قُتِلَ اَصۡحٰبُ الۡاُخۡدُوۡدِ﴾ [البروج:۴] ﴿وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ يَوۡمَ وُلِدۡتُّ وَيَوۡمَ اَمُوۡتُ وَيَوۡمَ اُبۡعَثُ حَيًّا﴾ [مريم:۳۳] ﴿وَاِذَا حُيِّيۡتُمۡ بِتَحِيَّةٍ﴾ [النساء:۸۶] ﴿كِتٰبٌ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ﴾ [الاعراف:۲] ﴿يٰاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ﴾ [الحج:۷۳] ﴿خُلِقَ الۡاِنۡسَانُ مِنۡ عَجَلٍ﴾ [الانبياء:۳۷] ﴿يُضٰعَفۡ لَهُ الۡعَذَابُ﴾ [الفرقان:۶۹] ﴿وَاُحۡضِرَتِ الۡاَنۡفُسُ﴾ [النساء:۱۲۸] ﴿قَالَ اُوۡحِيَ اِلَيَّ وَلَمۡ يُوۡحَ اِلَيۡهِ شَيۡئٌ﴾ ﴿لَا يَسۡمَعُوۡنَ فِيۡهَا لَغۡوًا﴾ [النباء:۳۵] ﴿وَ اَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ﴾ [البقره ۴۳] ﴿وَ جَعَلَ الۡقَمَرَ فِيۡهِنَّ نُوۡرًا وَّ جَعَلَ الشَّمۡسَ سِرَاجًا﴾ [نوح ۱۶] ﴿وَ عَلَّمۡنٰهُ مِنۡ لَّدُنَّا عِلۡمًا﴾ [الكهف ۶۵] ﴿وَاتَّخَذَ اللهُ اِبۡرٰهِيۡمَ خَلِيۡلًا﴾ [النساء ۱۲۵] ﴿لَا تَتَّخِذُوۡا عَدُوِّيۡ وَعَدُوَّكُمۡ اَوۡلِيَآءَ﴾ [الممتحنه:۱] ﴿اَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيۡمًا﴾ [الضحى ۶] ﴿وَ تَحۡسَبُهُمۡ اَيۡقَاظًا﴾ [الكهف:۱۸] ﴿تَجۡعَلُوۡنَهٗ

قَرَاطِيْسَ﴾ [الانعام:۹۱] ﴿وَاِنِّيْ لَاَظُنُّكَ يٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا﴾ [الاسراء:۱۰۲] ﴿اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا﴾ [الانفال:۴۳] ﴿وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً﴾ [النمل:۸۸] ﴿وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا﴾ [الانفال:۴۳] ﴿وَاِنْ وَّجَدْنَآ اَكْثَرَهُمْ لَفٰسِقِيْنَ﴾ [الاعراف:۱۰۲] ﴿وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا﴾ [البقره:۳۱] ﴿اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ﴾ [البقره:۳۳] ﴿وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰي﴾ [الحج:۲] ﴿وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً﴾ [حم سجده:۵۰] ﴿وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا﴾ [بنی اسرائیل:۵۵] ﴿اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ﴾ [النساء:۱۰۵] ﴿كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ حَسَرٰتٍ﴾ [البقره:۱۶۷] ﴿فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ﴾ [البقره:۱۳۷] ﴿وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ﴾ [الحجر:۵۱] ﴿وَنَبِّئْهُمْ اَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ﴾ [القمر:۲۸] ﴿فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا﴾ [البقره۲۶۴] ﴿قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا﴾ [الکهف۷۷] ﴿يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ﴾ [العمران۱۰۰] ﴿اَلْقٰهُ عَلٰى وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ بَصِيْرًا﴾ [الیوسف۹۶] ﴿وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ﴾ [انفطار۱۷] ﴿بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا﴾ [الکهف۴۸] ﴿فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ﴾ [ممتحنه۱۰] ﴿اِنَّهُمْ اَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّيْنَ﴾ [صافات۶۹].

د حل کولو طریقه

﴿وَاِذَا الْجَحِيْمُ سُعِّرَتْ﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې فعل مجهول او نائب فاعل شته؟

شاگرد: سعرت فعل مجهول دی او ضمير پکې (هی) نائب فاعل دی.

استاذ: سعرت ولې مؤنث دی؟

شاگرد: د ضمير له امله مؤنث کوم چې پکې پټ دی.

﴿جَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې فعل متعدي شته؟

شاګرد: جعل د افعال تصییر څخه دی.

استاذ: سُعرت ولي مؤنث دی؟

شاګرد: د ضمیر له امله مؤنث دی کوم چې پکې پټ دی.

استاذ: مفعول یې څه شي دی؟

شاګرد: الشمس یې لومړی مفعول دی او سراجاً یې دوهم مفعول دی.

۲- ډول افعال قاصر

افعال قاصر پر دوه ډوله دي:

۱- افعال ناقصه.

۲- افعال مقاربه.

۱- افعال ناقصه

د افعال ناقصه وو تعریف:

فعال ناقصه هغه افعال دي چې فاعل ته د کوم صفت ثابتولو لپاره وضع شوي وي.

د افعال ناقصه وو شمېر:

افعال ناقصه ټول اوولس دي:

کان. صار. ظل. بات. اصبح. أَمْسٰی. اضحی. عاد. آض. غدا. راح. مازال. ماانفک. مادام. مافتی. مابرح. لیس.

د افعال ناقصه وو عمل:

افعال ناقصه پر جمله اسمیه داخلیږي مبتداء ته بناء پر اسمیت رفع ورکوي او خبر ته بناء پر خبریت نصب ورکوي، لکه: كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا. زَيْدٌ ته د کان اسم او قائما ته د کان خبر ویل کېږي.

فائده:

كَانَ چې د فعل ماضي صیغه وي او د دوو متلازمین تر منځ واقع شي. نو كَانَ زائده دی نه عامل جوړیږي او نه معمول. لکه: مَا كَانَ اَضْرَبَهٗ.

افعال ناقصه کله کله تامه هم راځي يو اځې په فاعل سره تاميږي چې په معنا د حَصَلَ يا وَجَدَ وي. لکه: كَانَ الْمَطَرُ اى حصل المطر.

۲- ډول افعال مقاربه

د افعال مقاربه وو تعريف

افعال مقاربه هغه افعال دي چې د خپل اسم لپاره د خبر د قريب راوړلو لپاره وضع شوی دي. بيا عام دی که خبر د قريب/ نژدې کولو په اعتبار د رجاء او اُميد وي يا په اعتبار حصول وي او يا په اعتبار د أخذ يعني شروع فى الخبر وي.

د افعال مقاربه وو تعداد:

افعال مقاربه ټول څلور دي: (۱) عَسَىٰ. (۲) كَادَ. (۳) كَرُبَ. (۴) اَوْشَكَ.

د افعال مقاربه وو عمل:

افعال مقاربه پر جمله اسميه داخليږي مبتداء ته بناء پر اسميت رفع ورکوي او خبر ته بناء پر خبريت نصب ورکوي، لکه: عَسٰى زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ.

فائده:

د افعال مقاربه وو د خبر لپاره شرط دا دی چې مضارع به وي، د «اَنْ» سره يا پرته د «اَنْ» څخه. لکه: عَسٰى زَيْدٌ اَنْ يَخْرُجَ. عَسٰى زَيْدٌ يَخْرُجَ.

فائده:

افعال مقاربه کله کله تام راځي په دې شرط چې فعل مضارع سره د «اَنْ» وي، نو بيا خبر ته ضرورت نه لري فعل مضارع سره د «اَنْ» يې فاعل جوړيږي، لکه: عَسٰى اَنْ يَخْرُجَ زَيْدٌ.

التمارين

په لاندې امثله ووکې افعال ناقصه معلوم کړئ او اسم او خبر يې معلوم او کان تامه او زائده نښاني کړئ همدا راز افعال مقاربه معلوم کړئ او اسم او خبر يې معلوم او دا هم واضح کړئ چې خبر يې سره د أن دی او که پرته د أن څخه دی:

﴿فَظَلَّتْ اَعْنَا قُهُمْ لَهَا خَاضِعِيْنَ﴾ [الشعرء:۴] ﴿وَ اِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ﴾ [البقرہ۲۸۰] ﴿وَ كَانَ رَبُّكَ قَدِيْرًا﴾ [الفرقان:۵۴] ﴿ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا﴾ [الزخرف:۱۷] ﴿وَ اَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فٰرِغًا﴾ [القصص:۱۰] ﴿وَلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ﴾ [هود:۱۱۸] ﴿لَيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ﴾ [الانعام:۸۹] ﴿اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا﴾ [البقرہ:۱۴۸] ﴿وَ اَوْصٰنِيْ بِالصَّلٰوةِ وَ الزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَيًّا﴾ [مریم:۳۰] ﴿لَنْ نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ﴾ [طه:۹۱] ﴿وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ﴾ [البقرہ:۱۴۹] ﴿وَلِلسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا﴾ [المائدہ:۹۶] ﴿فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَاۤ اَسَرُّوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ﴾ [المائدہ:۵۲] ﴿قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوْسُفَ﴾ [یوسف:۸۵] ﴿وَّ غَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ﴾ [القلم:۲۵] ﴿اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ﴾ [الشوری:۵۳] ﴿فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ﴾ [الروم:۱۷] ﴿اِنَّمَاۤ اَمْرُهٗۤ اِذَاۤ اَرَادَ شَيْــًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ﴾ [یس:۸۲] ﴿يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا﴾ [الفرقان:۶۴] ﴿عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ﴾ [الممتحنه:۷] ﴿عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا﴾ [التحریم:۵] ﴿يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ﴾ [النور:۳۵] ﴿وَ مَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ﴾ [البقرہ:۷۱] ﴿وَ عَسٰۤى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْــًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسٰۤى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْــًٔا﴾ [البقرہ:۲۱۶] ﴿يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ﴾ [البقرہ:۲۰] ﴿عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يَّرْحَمَكُمْ﴾ [الاسراء:۸] ﴿فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ﴾ [محمد:۲۲] ﴿وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ﴾ [الاعراف۲۲] ﴿كَرُبَ الْقَلْبُ يَذُوْبُ مِنْ حُبِّ الْحَبِيْبِ﴾ ﴿اَوْشَكَ الْوَقْتُ اَنْ يَّنْتَهِيَ﴾ ﴿يُوْشِكُ الْقَلْبُ اَنْ يَّتَفَجَّعَ مِنَ الْحُزْنِ﴾ ﴿مَا كَانَ اَضْرَبَهٗ﴾.

د حل کولو طریقه

﴿كَانَ رَبُّكَ غَفُوْرًا﴾

استاذ: گرانو طالبانو! پدې کلام کې افعال ناقصه شته ؟

شاګرد: کان فعل ناقص دی.

استاذ: کان تامه دی او که ناقص؟

شاګرد: کان ناقصه دی.

استاذ: اسم او خبر يې څه شي دی؟

شاګرد: ربک يې اسم دی او غفوراً يې خبر دی.

﴿عسىٰ الله اَن يَّجْعَل﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې افعال مقاربه شته؟

شاګرد: عسی د افعال مقاربه وو څخه دی.

استاذ: اسم او خبر يې څه شي دی؟

شاګرد: لفظ الله يې اسم دی او ان يجعل يې خبر دی.

استاذ: خبر يې سره د أن دی او که پرته د أن څخه دی:

استاذ: سره د أن دی

افعال انشاء

افعال انشاء پر دوه ډوله دي:

۱- افعال مدح و ذم.

۲- فعل تعجب.

۱- د افعال مدح او ذم تعريف:

افعال مدح او ذم هغه افعالته دي چې د انشاء مدح لپاره يا انشاء ذم لپاره وضع شوي وي.

د افعال مدح او ذم شمير:

افعال مدح او ذم څلور دي:

۱- نِعْمَ.

۲- حَبَّذَا: دا انشاء مدح لپاره دي.

۳- بِئْسَ.

۴- سَاءَ، دا انشاء ذم لپاره دي.

دافعال مدح او ذم عمل :

افعال مدح او ذم خپل فاعل ته رفع ورکوي، خو د «نِعْمَ ، بِئْسَ ، سَاءَ» د مفاعيل لپاره شرط دا دی:

فاعل به يې يا معرف باللام وي او يا به معرف بالاضافت وي (چې معرف باللام ته مضاف وي) او يا به يې فاعل ضميرمبهم وي، نو تمييز به يې يا نكره منصوبه وي او يا به ما نكره منصوبه راوړل كيږي، لكه: نِعْمَ رَجُلاً زَيْدٌ، نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَيْدٌ، نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ، نِعِمَّاهِيَ.

د نِعِمَّاهِيَ او حَبَّذَا د فاعل لپاره شرط نشته، حَبَّ فعل مدح (ذا) يې فاعل او تر فاعل وروسته چې کوم اسم مرفوع راځي هغه بناء پر مبتداء دی، يعني مبتداء ده او افعال مدح او ذم يې خبر مقدم دي، لكه په: نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ كې زَيْدٌ مخصوص بالمدح دی او په بِئْسَ الرَّجُلُ عمرو كې عمرو مخصوص بالذم دی.

۲- دول فعل تعجب

دفعل تعجب تعريف :

فعل تعجب هغه فعل ته ويل كيږي چې د انشاء تعجب او اظهار تعجب لپاره وضع شوی وي.

دفعل تعجب صيغې :

د فعل تعجب دوې صيغې دي :

۱- ما أَفْعَلَهُ. لكه: مَا أَحْسَنَ زَيْدًا.

۲- اَفْعِلْ بِهِ. لكه : اَحْسِنْ بِزَيْدٍ

دفعل تعجب عمل :

ما أَفْعَلَهُ د فعل تعجب صيغه ده فاعل ته رفع ور كوي او مفعول ته نصب ور كوي. لكه : مَا أَحْسَنَ زَيْدًا.

أَحْسَنَ خپل فاعل ته رفع ور کړېده کوم ضمير چې دی، زَيْدًا ته نصب ور کوي کوم چې مفعول دی . (مَا) په معنا (اَیُّ شَیْءٍ) مبتداء او مابعد يې خبر دی.

اَفْعِلْ بِهٖ. لکه : اَحْسِنْ بِهٖ لفظاً د امر صيغه ده، خو په اصل کې د ماضي صيغه ده. يوائې فاعل ته رفع ور کوي تقديراً او هميشه يې پر فاعل (باء) زائده داخليږي او همزه د صيرورت لپاره ده. لکه : اَحْسِنْ بِزَيْدٍ. په معنا د حسن زيد ای صَارَ ذَا حُسْنٍ.

التمرين

په لاندې مثالونو کې افعال مدح وذم او افعال تعجب معلوم کړئ همدارازد افعال مدح او ذم د فاعل درې صورتونه هم بيان کړئ او مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم يې هم معلوم کړئ:

﴿فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَي النَّارِ﴾ [البقرہ:۱۵۷] ﴿بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ﴾ [الحجرات:۱۱] ﴿سَاءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا﴾ [الاعراف:۱۷۷] ﴿اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ﴾ [مريم:۳۸] ﴿وَبِئْسَ الْمِهَادُ﴾ [ال عمران:۱۹۷] ﴿فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ﴾ [الحج:۷۸] ﴿وَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ﴾ [العنكبوت:۵۸] ﴿فَسَاءَ قَرِيْنًا﴾ [النساء:۳۸] ﴿فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ﴾ [الزاريات:۴۸] ﴿فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾ [الرعد:۳۸] ﴿بِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُوْدُ﴾ [هود:۹۸] ﴿وَسَاءَتْ مُرْتَفَقًا﴾ [الكهف:۲۹] ﴿وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ﴾ [النحل:۳۰] ﴿فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ﴾ [الزمر:۷۲] ﴿قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ﴾ [عبس:۱۷] ﴿بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾ [الجمعه:۵] ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ [ال عمران:۱۷۳] ﴿اِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا﴾ [الفرقان:۶۶] ﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ﴾ [البقرہ:۹۰]

د حل کولو طريقه

﴿بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې افعال مدح او ذم شته؟

شاګرد: بئس فعل ذم دی.

استاذ: د فاعل د درو ډولونو څخه کوم ډول دی؟

شاګرد: فاعل یې معرف بالام دی.

استاذ: مخصوص بالذم یې څه شي دی؟

شاګرد: الفسوق دی.

﴿مَآ اَصْبَرَکُمْ عَلَی النَّارِ﴾

استاذ: ګرانو طالبانو! پدې کلام کې فعل تعجب شته؟

شاګرد: ما اصبر فعل تعجب دی.

استاذ: فاعل او مفعول یې څه شي دي؟

شاګرد: فاعل ضمیر دی او کم یې مفعول دی.

استاذ: ما په ترکیب کې څه شي دی.

شاګرد: ما په معنا د ای شئ مبتداء ده.

د عامل لفظي دریم ډول اسماء عامله

اسماء عامله ټول (۱۱) دي :

۱- اسماء شرطیه.

۲ - اسماء افعال په معنا د ماضي.

۳- اسماء افعال په معنا د امر حاضر.

۴ - اسم فاعل.

۵- اسم مفعول.

۶- اسم صفت مشبه.

۷- اسم تفضیل.

۸ - مصدر.

۹- اسم مضاف.

۱۰- اسم تام.

۱۱- اسماء کنایات.

۱ - ډول اسماء شرطیه

اسماء شرطیه هغه دي چې د «اِنْ» شرطیه معنا ته متضمن وي.

د اسماء شرطيه وو شمير:

اسماء شرطيه ټول نهه دي:

(۱) مَنْ (۲) مَا (۳) مَهْمَا (۴) اَيٌّ (۵) اِذْمَا (۶) مَتٰى (۷) اَيْنَ (۸) اَنّٰى (۹) حَيْثُمَا.

د اسماء شرطيه وو عمل:

اسماء شرطيه د «اِنْ» شرطيه غوندي عمل کوي، لکه څنګه چې «اِنْ» شرطيه پر دوو جملو دا خليږي جزم ور کوي، همداراز اسماء شرطيه هم پر دوو جملو داخليږي جزم ور کوي. لکه: مَنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ. مَا تَفْعَلْ أَفْعَلْ. اَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ. مَتٰى تَقُمْ أَقُمْ. أَيُّ شَيْءٍ تَأْكُلْ أَكُلْ. اَنّٰى تَكْتُبْ أَكْتُبْ. إِذْمَا تُسَافِرْ أُسَافِرْ. حَيْثُمَا تَقْصِدْ أَقْصِدْ. مَهْمَا تَقْعُدْ أَقْعُدْ.

د اسماء شرطيه وو ترکيب:

مَنْ. مَا. مَهْمَا.

دا دري واړه په ترکيب کې مفعول به واقع کيږي چې کله فعل د دوی څخه اعراض نه وي کړی، ورنه نو مبتداء جوړيږي او ما بعديې خبر جوړيږي، لکه: ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾.

مَتٰى. اِذْمَا. اَيْنَ. اَنّٰى. حَيْثُمَا.

دا په ترکيب کي د شرط لپاره مفعول فيه جوړيږي.

د «أَيٌّ» دارمدار په اعتبار د ترکيب پر مضاف اليه دی.

۲- دول اسماء افعال د ماضي په معنا

د اسماء افعال (د ماضي په معنا) شمير:

دا دري دي:

۱- هَيْهَاتَ د «بَعُدَ» په معنا.

۲- شَتَّانَ د «اِفْتَرَقَ» په معنا.

عمل يې :

اسماء افعال د ماضي په معنا اسم ظاهر ته رفع ور کوي، لکه: هَيْهَاتَ يومُ العيد اى بَعُدَ.

۲- دوول اسماء افعال د امر په معنا

د اسماء افعال (د امر په معنا) شمېر:

دا شپږ دي :

۱- رُوَيْدَ د «اَمْهِلْ» په معنا. ۲- بَلْهَ د «دَعْ» په معنا.

